


د تعليم الاسلام ويب پاڼې له خوا پر ليکه کېږي.
www.Taleemulislam-Radio.com

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




# سوال ځواب

**دافغانستان ،افریقا،کاناډا،اوکراین، سوډان ،فیلپین، استرلیا ،امریکا ،کویټ ،جرمني، اومتحده اماراتو څخه دپوښتنوځوابونه**

**لیکوال:**
**عبدالغفار جُبیر**

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



## دکتاب پېژندنه

نوم: سوال ځواب
لیکوال: عبدالغفار جُبیر
دلیکوال بریښنالیک:
Jubair_akcc@yahoo.com
دلیکوال دفیس بوک درک:
www.facebook.com/abdul ghaffar jubair
کتنپلاوی: الحاج مولوی عبدالعلی مظهری صاحب
دچاپ کال: میلادی کال۲۰۱۳
کمپوزر: مزمل کمپیوټرسینټر
دچاپ وار: لومړی
دچاپ شمېر: (۱۰۰۰) ټوکه
دچاپ ځای: لاهور
خپرونکی: صدیقی خپرندویه ټولنه
دکتاب ټول حقوق دلیکوال سره خوندي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

زه دا کتاب
وټولو هغو علمي ستوروته
ډالۍ کوم ، چې د علم
او پوهې په لاره کې ئې خپل
نه ستړې کیدونکی سفرونه
تی کړی او د ملغلرو په شان
خوله ئې توی کړیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library




| لړ | مضمون | پاڼه |
|---|---|---|
| ۱ | تقريظونه | |
| ۲ | د سرخبرې | |
| ۳ | ولی د الله (ج) او د محمد (ص) نومونه په عربي څرګندیږئ؟ | |
| ۴ | ولی یوائې د الله نوم په عربی باندی څرګندیږی؟ | |
| ۵ | د الله جل جلاله د نامه څیړنه | |
| ۶ | عربي ژبه د قرآن ژبه ده | |
| ۷ | عربي ژبه د ټولو ژبونه لومړی ژبه ده!!! | |
| ۸ | د عربي ژبې د پراخوالې نمونه | |
| ۹ | عربي توری په قران کي: | |
| ۱۰ | و الله جل جلاله ته (خدای یا خدا) ویل څنګه دی؟ | |
| ۱۱ | د قرانکریم د نزول مخکي و (الله جل جلاله) ته کوم نومونه استعمالیدل؟ | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| | | |
| ۱۱ | ولی الله جل جلاله خپل نوم په نور وژبو نه ښکاره کوی؟؟؟ | |
| ۱۲ | اسلام و طبي څېړنو ته اړیتا نلری | |
| ۱۳ | معجزه و څه شی ته وایی؟ | |
| ۱۴ | د استرلیا ښځه دیوه ورور احمد اسلام پوښتنه او دهغې ځواب | |
| ۱۵ | ۲: ایا یوه مسلمانه ښځه د اهل کتابو (عیسایانو او یهودو) سره نکاح کولای شی؟ | |
| ۱۶ | اوس غوارم چې د اهل کتابو سره د نکاح په هکله یو علمي تحقیق ته راشم | |
| ۱۷ | د ښاغلي جیمز (James) د سوال په ځواب کي : | |
| ۱۸ | د کېټي پیټر (Cathy Peter) د سوال په ځواب کي | |
| ۱۹ | د جنوبي افریقا ښځه دیوې عیسایی مېرمنې مریم یوحنا د سوالونو په ځواب کي | |
| ۲۰ | ۱: په اسلام کي ښځو ر ښځې روا دی.<br>۲: اسلام ښځه په کور کي کښینوی.<br>۳: اسلام په ښځې برقعه (حجاب) کوئ. | |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۲۱ | حجاب | |
| ۲۲ | پرده په عيسايت کي | |
| ۲۳ | حجاب په يهوديت کي | |
| ۲۴ | ديهودو او عيسايانو شرعی او مذهبي علماء دښځې په هکله وايی: | |
| ۲۵ | دحجاب په اړوند نوی ساينسي څېړنې او حقايق | |
| ۲۶ | دحجاب په هکله دامريکا يوه مېرمن (مېرې واکر) وايي | |
| ۲۷ | دامرېکې يوه وتلې خبرياله ((هيلن)) دحجاب په هکله داسی وايي: | |
| ۲۸ | د((سرجان بېکټ)) تبصره پر حجاب باندی: | |
| ۲۹ | دمصرپه المنار مجله کي ديوې انګرېزی ښځې انګېرنه او حجاب: | |
| ۳۰ | دلويديځ فليسوف ((هملټن)) دحجاب په هکله داسی وايی | |
| ۳۱ | مېرمن عايشه جوزف دحجاب په اړه ليکئ: | |
| ۳۲ | دګل او ملغلرې دزړۀ خواله ،دحجاب ارزښت | |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۳۳ | دحجاب په هکله دنوي ساينسي پرېکړې | |
| ۳۴ | په امريکا کې دبې پردګۍ پايلې | |
| ۳۵ | دامريکا داستخباراتو (C.I.A)اعتراف | |
| ۳۶ | دحجاب په هکله دځونړيوالو وتلو مېرمنو څرګندونې | |
| ۳۷ | : کريمه عمر(امريکا | |
| ۳۸ | هُدا خطاب (برطانيه | |
| ۳۹ | ناهيده مصطفی (کاناډا | |
| ۴۰ | فايزه عبدالرشيد (کاناډا | |
| ۴۱ | 5: بُشری (برطانيه | |
| ۴۲ | امينه جنان (امريکا | |
| ۴۳ | : اسماء (سويډن | |
| ۴۴ | : ثُريا (امريکا) | |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۴۵ | لیلی لیسالوت وتمان (امریکا | |
| ۴۶ | عایشه یانګ(جاپان | |
| ۴۷ | فریحه خان دامریکاville | |
| ۴۸ | سبامحمد بیګ | |
| ۴۹ | کېترین بلاک کاناډا | |
| ۵۰ | نانسی جوزف (فرانسه | |
| ۵۵ | مېرمن عایشه محمد (ډنمارک) | |
| ۵۶ | واُمت مسلمه ته لاربښوونه | |
| ۵۷ | دیوې سوډانۍ مېرمنې الحیاءدسوالونو په ځواب کي ولی تاسی مسلمانان تثلث نه منی ؟؟؟ | |
| ۵۸ | ایابایبل دخدای کتاب دی؟؟؟ | |
| ۵۹ | په بایبل کي فحشات دیبلګې په ډول سره | |
| ۶۰ | په بایبل کي بی معنا ، غیرمعقولی،دعقله لیری اوپوچې خبری بی شماره دي. | |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۶۱ | بايبل داوسنی ساينس په تله کي ټوله غلط دی. | |
| ۶۲ | په بايبل کي ۱۰ ځايه د محرماتو سره د زنا بيان شويدی داځنګه دالله کتاب دی. | |
| ۶۳ | د اسلام تبليغ په کفري نړۍ کي | |
| ۶۴ | مرتد څوک او څه حکم يې دی؟ | |
| ۶۵ | مرتد چاته ويل کيږی؟ | |
| ۶۶ | د مرتد حکم په قرآنکريم کي | |
| ۶۷ | قتل څه شی دی؟ | |
| ۶۸ | د مرتد حکم په احاديثو کي | |
| ۶۹ | د خلفاء راشيدنيو په وخت کي د مرتدينو وژل | |
| ۷۰ | د مرتد حکم د امت د څلورو امامانو رحمة الله عليهم په نظر | |
| ۷۱ | فقهي ثبوت د مرتد د وژلو | |


يادونه: د دې کتاب مضامين په تعليم الاسلام ويب پاڼي کي هم سته:

www.Taleemulislam-Radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولی دالله ج او دمحمد ص نومونه په عربي څرګندیږئ؟

<u>ماولی دالیکنه وکړل؟؟؟</u>

دعلم په پټولو کي وعید :

عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من سُئل عن علم فکتمه ألجم یوم القیامة بلجام من نار.

رواه ابوداؤدو الترمذی وحسنه وابن ماجه وابن حبان فی صحیحه والبیهقی ورواه الحاکم بنحوه وقال صحیح علی شرط الشیخین ولمیخرجاه.

ژباړه: حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلام فرمایی چې له چاڅخه دڅه علم پوښتنه وشی (چې دی په پوه وۍ) لکن هغه ئې پټ کړنو دقیامت په ورځ به ورته داور واګی واچولی شی.[1]

نو کله چې له ماڅخه پوښتنه وشی نوزه کوښښ کوم چې دخپلو معلوماتو په ترڅ کې ورته ځواب ورکړم، اوکوښښ کوم چې دد حدیث شریف ترمصداق لاندی را نشم، داچې له ماڅخه پوښتنې شوی وې نو ځکه می دالیکنه وکړه، اوخپل تروسه پوری می یوڅه وربا ندی ولیکل.

لکه څرنګه چې په دې ورستیو وختونو کې دانټرنیټ له لاری ډیرو ملګرو راڅخه غوښتنه وکړه چې بایدزه په دې هکله یوه علمي څېړنه وکړم حقیقت روښانه شی، اوداثابته شی چې ولی دالله جل جلاله نوم اودا سلام دسپیڅلی پیغمبر حضرت محمدصلی الله علیه وسلم مبارک نوم دخلکوپربدنو، دونوپرپاڼو، پرډبرو، پرګلانو او پر نوروشیانو ښکاره کیږی یوائی په عربی باندی؟ اوپه مجموع کې دنړی له ګوټ ګوټ نه داپوښتنې راالیږل شوی دی:

۱: ولی یوائی دالله نوم په عربی باندی څرګندیږی؟

(له جرمنی څخه الهام)

۲: ایاوالله جل جلاله ته په پښتوکي (خدای) اوپه دری/فارسی کي (خدا) استعمالولای شو؟

(فاطمه خور له متحده اماراتوڅخه)

۳: دعربی ژبې فضیلت څه شی دی؟

(له کویټ نه ام خالد)

[1] الترغيب والترهيب، تصنيف حافظ زكي الدين عبدالعظيم بن عبدالقوى المنذرى المتوفى ۶۵۶ هق

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴: دالله جل جلاله نوم ولې په نورو ژبو لکه انګلیسی، هسپانوی، فرانسوی، ایټالوی او نورو ژبو باندی نه ثرګندیږی؟

(له امریکانه احمد)

اودې ته ورته پوښتنوزه ودې ته وهڅولم چې بایدلیکنه وربانډی وکړم، ځینو کسانو داهل سنت په نامه داسی ایمیلونه راولیږل چې و الله ته (خدای) یا (خدا) ویل کفردی، العیاذبالله، اوځینو بیانورڅه، په دې ځېږنه کې ماپورتنۍ اوداسی نورې پوښتنې ټولې پکښې رانغښتې دی، یوشی چې زه ئې بایدیادونه وکړم هغه دادی چې یوی خوروماته دبریښنالیک له لاری په بی بی سی ویب پاڼه کې دوږمې خورپه هکله لنک راولیږی چې تاسی یی هم لوستلای شی، چې دوږمې خورپرمخ باندی دالله جل جلاله اودمحمدصلی الله علیه وسلم نومونه ثرګندشوی وه دالیکنه یوې اروپایی میشتې لیکوالې خورملالۍ بشیرکړیده، زه نه یم خبرچې ملالۍ بشیرپه اسلام کې پوره معلومات نلری اوکه دمستشرقینو دسیوری تراغیزولاندی راغلې ده، یوڅوک هرلیکنه لیکلای شی اوخپرولای یی شی، خوپه مذهبي لیکنوکي زښته ډیراحتیاط په کاردی، څوک ناول لیکئ، څوک کیسې لیکئ اوځینی نورڅه چې داټول دتخیل محصول دی، که کومه اشتباه پکښی وی نوڅه پروا په دی نه کوی چې دالیکنه یوتخیلي انځوردی اوغیرحقیقي لیکنې دي خومذهبي اواسلامي لیکنې بیاداسی نه دی مذهبي لیکنه هرا ړخیزمعلومات اوپوره پوهه اودقت غواړی که یوڅوک مذهبي لیکنه نشی کولای نواقلاباید دانټرنیټ په دې پراخه نړۍ کي باید له یوعالم سره اړیکی ونیسئ اوخپله لیکنه بیاخپره کړی، خوزه ودې ګرانې خورته دعاءکوم که چیری دې خوردالیکنه وای خپره کړی نوبیاپردې موضوع باندی دومره ځېړنه نه کیدل، اوس به هم ملاله خوراوهم نورامت مسلمه ورڅخه استفاده وکړی. دملالۍ بشیرخوردلیکنې یوه برخه داده:

<u>لنک دادی:</u>

http://www.bbc.co.uk/pashto/interactivity/2012/08/120817_ss-malalai-girl-with-allahs-name-on-her-skin.shtml

ملالۍ بشیر

اروپا میشته افغانه لیکواله

لومړی خبره دا چې خدای پاک ولې داسې معجزو ښودلو ته اړ دی؟ آیا دا ټول کاینات او په خپل حضرت انسان معجزه نه ده که څنګه؟

دویمه خبره دا چې د خدای (ج) او محمد (ص) نومونه هر وخت په عربي ولې را څرګندیږي؟

کېدای شي عربي د قران د ژبې له امله سپېڅلې وګڼو خو په نړۍ کې ډېر مسمانان په نورو ژبو هم لیک لوست کوي.

دا نومونه ولې په هسپانوي، انګرېزي، روسي، فرانسوي او داسې نورو ژبو نه دي؟

آیا د عربي لیکدود نه لوستونکې هغو مره ښه مسلمانان نه دي که څنګه؟

که داسې معجزې په نورو ژبو رابښکاره شي، غېر مسلمانو ته به چې په عربي نه پوهیږي، ښه او مستقیم پیغام وي که نه؟

که داسې معجزې په نورو ژبو رابښکاره شي، غېر مسلمانو ته به چې په عربي نه پوهیږي، ښه او مستقیم پیغام وي که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو یوه خبریال هم دا نه دي کړي چې د ساینس په دې پرمختللي زمانه کې د ورځې پر پوستکې د رانښکاره شوو نومونو په اړه طبي څېړنه وکړي او د کوم جلدي ډاکټر سره خبرې وکړي".

<u>ولی خدای جل جلاله خپل اسم ذات (الله) ښکاره کوی؟؟؟</u>

دا مسلمه خبره ده چې الله جل جلاله ودې ته اړیتانلری چې، خپل مبارک نوم ښکاره کړی، خو وبل لورته لکه څرنګه چې د حضرت آدم علیه السلام څخه نیولی بیاتر اوسه او بیاتر قیامته پوری به داسی انسانان وی چې د الله نافرمانی به کوی، که په نړۍ کې د شرک او بت پرستۍ وتاریخ ته وګورونو د اسلامي تاریخ په زرینو پاڼو کې دا راته معلومیږی چې بت پرستی د حضرت آدم علیه السلام څخه وروسته د حضرت شیث علیه السلام دوفات څخه پیل کیږی، دهغه راهیسی داشرک ودې اندازی ته ورسیدی چې انسانانو (مشرکینو) دبنی نوع انسان عبادت پریښوداو وحیواناتو ته ئې مخه کړه، او ځینو خو بیا حیوانات هم پریښودل او وجماداتو ته ئې سرپه سجود ایږدی، سُبحان الله په اوس وخت کې داسی انسانان شته چې لمرخپل معبود بولی، ځوک وسپوږمۍ ته سرپه سجده پراته دی، ځوک دبیزوګانو عبادت کوی، ځوک دمارانو عبادت کوی، ځوک د شیطان عبادت کوی، ځوک دموږکانو عبادت کوی، ځوک دونو عبادت کوی، ځوک دستورعبادت کوی، ځوک دملائیکو عبادت کوی، ځوک دسپوږمۍ عبادت کوی، ځوک داورعبادت کوی، ځوک دسمندرو عبادت کوی او داسی نور....
ایا دا انسانان نه دی؟ عقل نلری؟ خوراک او څیښاک نه کوی؟ تعلیم نلری؟ دښه اقتصاد خاوندان نه دی؟ بلکې هرڅه لری او په هرڅه پوهیږی لکن خدای جل جلاله دداسی خلکو لپاره خپل اسم ذات په مختلفو څیزونو کې ښکاره کوی، چې یوځل بیاورته وښیی چې یوائې اویوائې الله جل جلاله برحق معبود دی او بس، که چیری دې انسانانو فکر کولای نو په ټوله نړۍ کې به د شرک ټغرټول وای، اوس زه درته دنړی دمذهبونو په هکله څه معلومات درکوم، چې دویکفیډیا څخه می رااخیستی دي چې دا خبره به ښه جوته شی چې ولی الله جل جلاله خپل مبارک نوم (الله) او دخپل حبیب نوم (محمدصلی الله علیه وسلم) په انسانانو، ډبرو، ونو، میوو، سبزیجاتو، وریځو، ماهیانو اونورو...که په لنډو کې ئې راغونډ کړو په جماداتو، نباتاتو، مایعاتو، حیواناتو او حضرت بشرباندی ښکاره کوی.

دټولی نړۍ نفوس (6.9) بلیونه دی، چې په دې ټوله نفوس کې دنړۍ ۴۳٪ سلنه ئې عیسایان دی چې ټول شمیرئې (۴۳۳۱۵۰۹۰۰۰) کیږی، داټول په دې عقیده او باوردی چې حضرت عیسی علیه السلام دخدای ځوی دی نعوذبالله، او خدای دی، نعوذبالله داټول شرک کوی، ایا په اوسني وخت کې عیسایان یوغټ طاقت نه دی؟ ددوی اقتصاد، فوځی نظام، تعلیم، او پرمختګ ترټولو زیات او غوره نه دی، نو بیا ولی حضرت عیسی علیه السلام دخدای ځوی او یا هم خدای بولی؟ ایا دوی عقلونه نلری؟ ایا دوی ځانونو ته پوهان، تعلیم یافته، روشنفکران او د نړۍ پرمختلی قشر نه وایی؟ که داسی ده نو ولی دوی دالله جل جلاله سره شرک پیدا کوی؟ دوی واسمانو او ځمکو ته نه ګوری چې چا پیدا کړیدی، او دوی په دې هم ښه پوهیږی چې حضرت عیسی علیه السلام زمونږ په شان یو انسان ؤ چې خوراک ئې کاوه، څیښاک ئې کاوه چې ددوی مقدس کتاب بایبل هم وربا ندی ګواه دی، چې حضرت عیسی علیه السلام انسان او بشرؤ دا چې دوی کاڼه دی حق نه اوری، ګونګیان دی حق نشی ویلای او ړانده دی حق نشی لیدلای نو ځکه الله جل جلاله دانومونه په هروخت کې ورته ښکاره کوی. چې الله جل جلاله یو دی شریک نلری او محمدصلی الله علیه وسلم دهغه اخیری پیغمبردی.

دنړۍ (۱۶٪) سلنه خلک چې دټولو شمیر (۱۱۰۰۰۰۰۰۰۰) یوولس سوه میلیونه دی، مطلق دخدای دوجود څخه منکردی، الله اکبر الله اکبر الله اکبر، داهغه خلک دی چې غیرمذهبي خلک دی، لکه ماده پرستان، طبعیت پرستان، کمونستان او داسی نور... داخلک په دې آند دی چې انسان دوا ښه په شان رالوی شو او بیا دوا ښه په شان ولاړی، نه اخرت شته او نه خدای شته نه حساب او کتاب شته او نه هم دوږخ او جنت شته، دا هم هغه خلک دی چې لوړلوړ طاقتور خلک دی، په تخنیک کې ښه پرمختللی دی، په تعلیم کې هم مخ په لوړه دی، نو که دوی صرف خپلو بدنو ته کتلی وای دوی به دا اعتراف کړی وای چې خدای جل جلاله شته، خو اوس دوی هم کاڼه، هم ګونګیان او هم ړانده دی، نو ځکه الله جل جلاله داسی نومونه تل ښکاره کوی.

(15.48%) هندوان دی، چې ټوله شمیرئې (۹۹۹۸۰۰۳۵۸) کیږی، په نړۍ کې شتون لری، دهندوانو عجبه عقیده ده، ځوک ئې درې خدایان منی، ځوک ئې (۳۰۰)، منی، ځوک ئې (۳۰۰۰) ځوک ئې (۳۰۰۰۰۰۰) دری میلیونه او ځوک ئې وهرشی ته خدای وایی، نعوذبالله، هندوان هم لرغونی تاریخ لری، ښه تهذیب لري، په اوسنی وخت کې تعلیم او ژواک ئې نسبتا ښه دی، خو ددی باوجود دوی پرواحد خدای جل جلاله باندی ایمان نلری، او شریکان ورته نیسی، داولی ؟؟؟ دهمدی خلکو لپاره الله جل جلاله دا نومونه ښکاره کوی چې دوی فکرو کې چې الله جل جلاله یو دی او بل دده په مثل هیڅوک نشته، دا هرڅه دده مخلوقات دی او دی ئې خالق دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(35.4%) سلنه مسلمانان دي چې شميرئې (۲۸۱۹۳۱۴۰۰۰) کيږي په نړۍ کې شتون لري، که څه لږ دعقل په سترګو ورته وکتل شي نو دا به جوته شي چې په نړۍ کې په سلوکې (۳۵) کسان خدای جل جلاله منی چې واحد او لاشريک دی، او کيدای شي چې په دې مسلمانانو کې اغاخانيان، بهائيان، احمديان اونور د اسلامه وتلي ډلې هم ګډون ولری، دا ځکه چې دوی هم ځانونه مسلمانان وايې او حال داچې دوی اغاخان خدای بولی اوله اسلامه وتلی ډله ده، بهايان به هم پکښی وی، دا ځکه چې بهايان هم عبد البهاء خدای د ځان بولی اوله اسلام وتلې ډله ده، احمديان هم ځانونه مسلمانان بولی کيدای سی پکښی وی، دا ځکه چې دوی د فخر الموجودات حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د رسالت او نبوت څخه منکردی او نه ئې منی نو ځکه دوی له اسلامه وتلې ډله ده، او کيدای سی داسی ډيری له اسلامه وتلې ډلی پکښی وی، اوحتی ځينی هم پکښی دی چې محمد صلی الله عليه وسلم خدای بولی او داسی نور... نو که دغه (۳۵) سلنه ښه وکتل شی نو ډيرلږکسان به پاتی شی چې موحدين به وی او نور ټول مشرکان دی اوله دينه وتلی خلک او يا هم هغه کسان دی چې خدای نه منی، نو ځکه خدای داسی نو مونه ښکاره کوی.

د (۷–۱۰٪) پوری بودايان دی، چې بودا معبود برحق بولی او دهغه عبادت کوی، او حال داچې دهغه داسی څه ښکاره فلسفه هم نشته، او نه ئې په دين کې کوم عبادت شته بلکې پريو څو اخلاقی ټوټو باندی مشتمل دی او بس، دا هم الله جل جلاله په وحدانيت نه منی، نو ځکه الله جل جلاله داسی نو مونه ښکاره کوی.

يادونه: زماسره دالله جل جلاله او دحضرت محمد صلی الله عليه وسلم دنومونو په سوونوانځورونه دی، چې ما پر فېس بوک باندی هم خپاره کړيدی، او په دې انځورونو کې داسی هم شته چې په کورونو کې په کامرو باندی اخيستل شوی دی ، او ځينی حتی مو پخپله اخيستی دی چې هيڅ شک او شبه پکښی نشته

<u>دالله جل جلاله دنامه څيړنه</u>

الله، معبود بحق، اصله (أله) دخلت عليه (أل) ثم حذفت همزته وادغم اللامان.

الله و معبوبرحق ته ويل کيږی، دالله نوم په اصل کې (أله) ؤ، چې وروسته (أل) پر داخل شو يعنی (أل أله) شو، دوه لامان سره يو ځای شول، چې ددوی دادغام له کبله همزه ولاړه او (الله) ورڅخه جوړ شو.

اللهم: کلمة تستعمل فی النداء مثل، يا الله

د (اللهم) کلمه دنداء لپاره استعماليږی، چې کله مو ږ والله ته خپل اواز کوو لکه (يا الله) ؤ

اوس دا جوته شوه چې د (الله) نوم دالله جل جلاله لپاره اسم ذات دی، او د معبود برحق په معنا سره دی، چې دالفظ دهيچا لپاره نشی استعماليدلای، بيله معبود برحق الله جل جلاله څخه، داچې په قران کريم کې الله جل جلاله ۹۹ نومونه لری دالله څخه ماسوا نور ټول ئې صفات دی، لکه الرحمن، الرحيم، الملک، القدوس، السلام، المهيمن، العزيز، الجبار، المتکبر او داسی نور....

دالله جل جلاله نوم په قرآنکريم کې (۲۶۹۷) ځله راغلی دی، او د (اللهم) ۵ ځلی راغلی دی.[2]

---

[2] المعجم الوسيط: دارالدعوة مؤسسة ثقافية للتاليف والطباعة والنشر والتوزيع استانبول – ترکيه- ۱۹۸۹ ميلادی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داچې الله جل جلاله یواځې د(الله) نوم پرخلکو، پانو، میوو، ډېرو اونورشیزونو کي ښکاره کوی یوه وجه ئې داده چې دا دمعبودبرحق اسم ذات دی اودانوم یواځې اویواځې په یوه رب پوری ځانګړی دی اوبس. په نړۍ کي ډیرانسانان شته دی چې دشیطان، دمار، دموږکانو، دبیزوګانو، ستورو، لمر، او بوتانوعبادت کوی وهغوته دوی الله نه وایی بلکې یوځانګړی نوم ورته لری، چې دوی به ورته دیوه شی متصرف، واکمن، دجنت پلار، دبخت ښښتن اونورنومونه ورته لری، داچې له دوی سره مشابهت رانشی نوځکه رب العزت خپل اسم ذات (الله) ښکاره کوی.

دالله جل جلاله دنامه دذکرګټې:

۱: هرورځ په یوزر(۱۰۰۰) ویلوسره دویونکی یقین بشپړجوړیږی.

۲: دجمعې په ورځ ترلمانځه دمخه چې سړی پاک وی اوپه خلوت کي وی اودالله ذکروکړی که هرڅومره ستونځمن مقصدئې وی الله جل جلاله به ئې ورته اسانه کړی.

۳: دهرلمانځه وروسته دالله جل جلاله دنامه ویونکی دکشف خاوند کیږی.

۴: که چیری دالله جل جل له نوم (۶۶) ځلې ولیکل شی اوبیاپه اوبو کي ونستېږل شی اویوه ناروغه ته ورکول شی نوالله جل جلاله به شفاء کامله ورپه برخه کړی.

۵: که یوڅوک دالله جل جلاله سره مینه لری دالله دنامه ذکرکوی اودذکرپه پای کي (هو الله الرحیم) ووایی نودهغه ایمان به دشیطان له منګولو اوشره به په امن کي وی.

۶: که چیری یوڅوک (۱۰۰۰) ځله (یاالله هو) ووایی نوالله جل جلاله به ئې دایمان نورزیات کړی.

۷: کوم څوک چې دجمعې په ورځ دمازیګردلمانځه څخه ورسته مخ پرقبله کښینئ ترمابنامه پوری (یاالله یارحمن) ووایی بیاچې له الله جل جلاله څخه هرمشروع شی وغواړی الله جل جلاله ئې ورکوی.[4]

بله وجه داده چې (الله) په عربي ژبه کي ورته وایی اودعربي ژبې فضیلت پرنوروټولو ژبوباندی په اسلام کي ښکاره دی، اواوس به پردې باندی رڼاواچووچې دعربي فضیلت څه دی، اوس دعربي ژبې وفضیلت، فصاحت اوبلاغت ته راځو.

عربي ژبه دقرآن ژبه ده

دځمکې پرمخ عربي ژبه یواځنۍ ژبه ده چې پرنحوي اوصرفي اوصولواوبنسټونو باندی جوړه ده، داژبه دومره فصیحه اوپراخه ژبه ده که چیری موږپه پښتوکي وآس ته یونوم لرونوپه عربي ژبه کي ترسلوزیات نومونه لری، که چیری وزمری ته موږیونوم (زمری) لرونوپه عربي کي تر۳۰۰ زیات نومونه لری، وبل لورته دعربي ژبې هرتوری وځانته ریښه اوبنسټ لری، دبیلګې په ډول سره قلم رااخلو:
– (قَلَمَ) دېریکولوپه معنادی لکه په عربی کي چې وایی، قلم الشئ، دیوشی پریکول
– (قَلَّمَ) لړلړپریکول
–(اَلْقَلَمُ) دلیکلوقلم، ترڅوچې وتراشل شی اوجوړشی، اوکه جوړنشی نوورته (قصبة اویراعة) ورته وایی.
– (قَلَمٌ) داهغه قلم دی چې جوړشی اولیکلوته چمتوشی.[4]

[3] المعجم المفهرس: وضعه محمدفواد عبدالباقی.
[4] مفتاح القرآن

(c) ketabton.com: The Digital Library



او که موږ بين المللی ژبې انګليسي ته راشونو هغه تر ۱۲ زيات توژبو څخه جوړه شوې يوه ژبه ده، چې زيات هغه توري چې ريښه لري ويوناني ژبې او پاونوروژبو ته ځي، همدا وجه ده چې انګليسي ژبه په ليکلو او لوستلو کي ستونځې لري او ګرامرئې هم د ستونځو سره مخامخ دی، وبل لورته که موږ د عربي ژبې وګرامر (پښويه، صرف اونحو) ته راشونو په عربي ژبه کي يو قانون موجود دی دبېلګې په ډول (کل فاعل مرفوع) يعنی هر فاعل به رفع لری، دا په ټوله عربي ژبه کي شتون لری برعکس داسی نه ده لکه دانګليسی ژبې ګرامرچې په ټوټو دی او يوه لوی بنسټ نلری، دا ځکه چې دلته په انګليسي ژبه کې چې دهرې ژبې توري استعماليږی دهغې ژبې داصولو او ګرامر مطابق په انګليسي ژبه کې هم استعماليږی؛ چې دا احقر راتلونکی کتاب (په انګليسي ژبه کې تلفظ) درسره وګورئ چې چاپ شويدي.

<u>عربي ژبه دټولو ژبونه لومړی ژبه ده!!!</u>

لومړی انسان سيدنا حضرت آدم عليه السلام چې کله الله جل جلاله پيدا کړ هغه په جنت کي ؤ او هغه عربي ژبه ويل، وبل لورته نبی کريم صلی الله عليه وسلم دعربي ژبې دمحبوبيت په اړه فرمايی:

احبوا العرب لثلاث فانی عربیٌ والقرآن عربیٌ ولسان اهل الجنة عربیٌ[6]

ژباړه: دعربي ژبې سره له دريو اړخونو مينه پکارده، يو دا چې زه (فخر الموجودات صلی الله عليه وسلم) عربي يم، دويم قران کريم عربي دی او دريم دا چې دجنتيانو ژبه عربي ده.

دټولو ملائيکو ژبه عربي ده، کوم احکام چې وملائيکو ته ورکول کيږی دا ټول په عربي دی، کرام کاتبين ملائيکې چې څه ليکئ دا ټول په عربي دی، دقيامت په ورځ به دحشر پرميدان باندی ټولې پريکړې په عربي وی، په قبر کي ژبه عربی ده، دادنړی ټولې ژبې دحضرت نوح عليه السلام دتوپان څخه وروسته پيدا شوی دی، او په نړی که عربی اوله ژبه ده.

<u>دعربي ژبې دپراخوالې نمونه</u>

ابن خالويه وايی چې ما په عربي ژبه کي دښار لپاره (۵۰۰) نومونه يوځای کړيدی، دمار لپاره می (۲۰۰) نومونه يوځای کړيدی او همزه اصفهانی وايی چې مادآفتونو او مصيبتونو نومونه په عربي کي (۴۰۰) يوځای کړيدی، له دې څخه علاوه په عربي ژبه کي داعراب او اشتقاق په بدليدو سره هره توری ترلس زياتې معناوې لری، دبيلګې په ډول سره:

حُب، حَب، حب

قِطر، قَطر، قُطر او داسی نور...

<u>عربي توری په قران کي:</u>

په قرآنکريم کي (۱۱) ځايه دعربي ذکر راغلی دی، چې دا پخپله پردې دلالت کوي چې عربي ژبه څومره ارزښت لری، هغه مبارک اياتونه دادی:

۱: إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ قُرۡءَٰنًا عَرَبِيّٗا لَّعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ۝٢ (سورت يوسف: ۲)

ژباړه: موږ هغه (قرآن) په عربي ژبه نازل کړيدی ښايی چې تاسی پرې پوه شئ.

۲: وَكَذَٰلِكَ أَنزَلۡنَٰهُ حُكۡمًا عَرَبِيّٗاۚ (سورت الرعد ۳۷)

ژباړه: او همدارنګه هغه مو (د) فرمان (په توګه) په عربي (ژبه) نازل کړ.

۳: وَلَقَدۡ نَعۡلَمُ أَنَّهُمۡ يَقُولُونَ إِنَّمَا يُعَلِّمُهُۥ بَشَرٞۗ لِّسَانُ ٱلَّذِي يُلۡحِدُونَ إِلَيۡهِ أَعۡجَمِيّٞ وَهَٰذَا لِسَانٌ عَرَبِيّٞ مُّبِينٌ ۝١٠٣

(سورت النحل: ۱۰۳)

ژباړه: او بې شکه چې موږ پوهيږو چې کافران وايی: هغه څوک چې ورته دغه آياتونه ښيی بشر دی دهغه چاژبه ده چې دوی ورته دښوونې نسبت کوی عجمی دی او دغه (قرآن په) سوچه عربي ژبه دی.

۴: وَكَذَٰلِكَ أَنزَلۡنَٰهُ قُرۡءَانًا عَرَبِيّٗا وَصَرَّفۡنَا فِيهِ مِنَ ٱلۡوَعِيدِ لَعَلَّهُمۡ يَتَّقُونَ أَوۡ يُحۡدِثُ لَهُمۡ ذِكۡرٗا ۝١١٣ (سورت طه: ۱۱۳)

ژباړه: او په دې توګه موږ دغه قرآن په عربي ژبه نازل کړ او په هغه کښې موږ په بېلابېلو ترتيبو (وعيدونه) راوړل چې ګوندی دوی وويريږی يا دوی ته دپند لامل وګرځي.

---

[5] (المنجد)

[6] (رواه حاکم فی المستدرک والبیهقی فی الشعب والطبرانی فی الکبیر ووضع علیه فی الجامع الصغیر علامة الصحیح)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵: بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِينٍ ﴿١٩٥﴾ (سورت شعراء: ۱۹۵)

ژباړه: په څرکنده (واضحه، روښانه، فصیحه) عربي ژبه.

۶: قُرْءَانًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِى عِوَجٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿٢٨﴾

(سورت الزمر: ۲۸)

ژباړه: عربي قرآن، بې له کوم کوږوالي دی چې ګوندې دوی له ناوړه پایلو څخه ځان وژغوري.

۷: كِتَٰبٌ فُصِّلَتْ ءَايَٰتُهُۥ قُرْءَانًا عَرَبِيًّا لِّقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٣﴾

(سورت فصلت: ۳)

ژباړه: داسې ایاتونه دی چې آیاتونه ئې په تفصیل سره بیان شوي په داسې حال کې چې لوستل شوی دی په عربي ژبه هغه قوم لپاره چې پوهیږي.

۸: وَلَوْ جَعَلْنَٰهُ قُرْءَانًا أَعْجَمِيًّا لَّقَالُوا۟ لَوْلَا فُصِّلَتْ ءَايَٰتُهُۥٓ ۖ ءَا۬عْجَمِىٌّ وَعَرَبِىٌّ ۗ قُلْ هُوَ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ هُدًى وَشِفَآءٌ ۖ وَٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ فِىٓ ءَاذَانِهِمْ وَقْرٌ وَهُوَ عَلَيْهِمْ عَمًى ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ يُنَادَوْنَ مِن مَّكَانٍۭ بَعِيدٍ ﴿٤٤﴾ (سورت فصلت: ۴۴)

ژباړه: او که موږ دا دیو عجمي قرآن په بڼه لیږلی وای نو دوی به ویلي وای چې ددې آیاتونه په تفصیل سره بیان نه کړای شول؟ څه عجیبه ده چې کلام عجمي او مخاطب ئې عربي؟ دوی ته ووایه چې دغه قرآن دایمان راوړونکو لپاره لارښوونه او ستاینه ده خو کوم کسان چې ایمان نه راوړي دهغوی لپاره دغوږو پلته او دسترګو پټی ده، دهغو حال داسې دی لکه چې هغوی ته له لیرې ناري وهل کیږي.

۹: وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ قُرْءَانًا عَرَبِيًّا لِّتُنذِرَ أُمَّ ٱلْقُرَىٰ وَمَنْ حَوْلَهَا وَتُنذِرَ يَوْمَ ٱلْجَمْعِ لَا رَيْبَ فِيهِ ۚ (سورت شوری: ۷)

ژباړه: او په دې توګه موږ تاته عربي قرآن وحی کړ څو د (مکې د) ښار او دهغه د شاوخوا خلک وویروې او دوی (وویروی) د قیامت له ورځې څخه چې په هغه کې کوم شک نشته.

۱۰: إِنَّا جَعَلْنَٰهُ قُرْءَٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٣﴾ (سورت: الزخرف: ۳)

ژباړه: بې شکه دا قرآن مو عربي وګرځاوه څو (په هغه) پوه شی.

۱۱: وَهَٰذَا كِتَٰبٌ مُّصَدِّقٌ لِّسَانًا عَرَبِيًّا لِّيُنذِرَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ وَبُشْرَىٰ لِلْمُحْسِنِينَ ﴿١٢﴾ (سورت لاحقاف: ۱۲)

ژباړه: او دغه کتاب (دپخوانیو کتابونو) تصدیق کوونکی دی (او) په عربي ژبه (نازل شوی دی) څو ظالمان وویروی او نیکانو ته کوونکوته زیری وي.

قرانکریم ځکه په عربي ژبه شو چې دعربي ژبې څخه ماسوا دټولې نړی ژبې غیر فصیحې ژبې دي، که څه هم په فصاحت سره خبرې په وشي. (قرطبی)

دامسلمه خبره ده چې عربي ژبه دنړۍ له ټولو ژبو څخه لومړۍ ژبه ده، فصاحت، بلاغت، وسعت او ښه والی ئې بې بېلګې دی، چې دعربي ژبې پر ارزښت کتابونه لیکل شویدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



والله جل جلاله ته (خدای یا خدا) ویل څنګه دی؟
مخکي مو دا په ثبوت ورسول چې د ټولی نړۍ د خالق او مالک جل جلاله اسم ذات (الله) دی، او دا په عربي کي، او افضله هم دا نوم دی چې ورب العزت جل جلاله ته (الله) وویل شی داځکه چې په قرانکریم کي راغلی دی:
قُلِ ٱدْعُوا۟ ٱللَّهَ أَوِ ٱدْعُوا۟ ٱلرَّحْمَٰنَ ۖ أَيًّا مَّا تَدْعُوا۟ فَلَهُ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ (بنی اسرآئیل ۱۱۰)
ژباړه: ووایه (ای محمده! دوی ته) وبولی تاسی الله یا وبولی تاسی رحمن هر یو نوم ئې چې وبولی نو ده لره دی نومونه ډیر ښه.
د قرانکریم د نزول مخکي و (الله جل جلاله) ته کوم نوموونه استعمالیدل؟
اوس موږ و دې خبرې ته متوجه کیږو چې قرآن کریم د نزول څخه مخکي انبیاء د الله جل جلاله لپاره کوم نوم استعمالوی، دا خو په عربی کي دی، د قرانکریم د نزول څخه مخکي چې کوم الهی کتابونه مخکي نازل شوی دی هغه عبارت دی له (تورات، انجیل او زبور او صحیفو څخه) څخه، هغه ریښتني تورات، انجیل او زبو اوس نشته چې د انړیوال منلې او کوټلی خبره ده، او دا اوسنی بایبل چې د عیسایانو او یهودو په ګډه مقدس کتاب دی دا دوی وایی چې (۴۰) لیکوالانو لیکلی دی، او که چیری بایبل خلاص شی نو و هر کتاب ته ئې د لیکوال نوم لیکلی لکه انجیل متی، انجیل یوحنا، انجیل مرقس، انجیل لوقا، د پولس خطونه او داسی نور... او د ځینو لیکوالانو نوموونه لا ورک دی، خو بیا هم زه د هغه عالم و څرګندنو ته راځم چې هغه خپل ټول عمر د عیسایت او یهودیت په مطالعه کي تیر کړیدی خولې ئې توی کړیدی او کتابونه ئې ورباندی لیکلی دی، چې هم په یونانی ژبه او هم په عبرانی ژبه پوهیدی، چې زه یو ه داسی عالم نوم اخلم چې کیدای شی ټول ورسره اشنایاست، مرحوم شیخ احمد دیدات رحمة الله علیه دی په خپل یو کتاب کي (What is his name?) کي لیکي:
په عبرانی ژبه کي و الله جل جلاله ته (El, Elah, Eloh) (ال، الاه، الوه) ورته وایی، یعنی هغه د عربي ژبې څخه مخکي و الله جل جلاله ته دا نوموونه کاریدل چې په اوسني بایبل کي ئې هم موندلای شی، لکه:
الوهی الوهی لما شبقتنی (مرقس: ۱۵: ۳۳)، (اردو انجیل مقدس ګډئنز انټرنیشنل پاکستان ۲۰۰۹)
الاهی الاهی لما شبقتانی (مرقس ۱۵: ۳۳) کلام مقدس پاکستان کاتهولک بایبل کمیشن ۲۰۰۷
ایلی! ایلی! لما شبقتنی؟ (انجیل شریف اول جیبی چاپ ۱۹۹۶)
یاالله یاالله لما ترکتنی؟ (عربی بایبل، ۲۰۰۵)
دا توری عبرانی ژبه ده او ژباړه ئې داسی ده:
ژباړه: زما خدایه! زما خدایه! تا ولی زه پریښودلم؟
په ځینو بایبلو کي په اصلي عبرانی ژبه سره دی او په ځینو بایبلو کي یې ژباړلی دی، له دې څخه علاوه د یعقوب علیه السلام نوم (اسرائیل) دی چې ژباړه ئې ده (عبدالله)، په اسرافیل، عزرائیل او جبرائیل کي هم دا عبرانی تور (ایل) استعمال شویدی، له دې څخه مطلب دا دی چې د الله څخه ماسوا نور نوموونه هم استعمالیدل دا چې د حضرت ادم علیه څخه نیولی تر فخر الموجودات صلی الله علیه وسلم پوری به څو مری نوموونه ورته استعال شوی وی په دی باندی یوالله جل جلاله ښه خبردی او بس
په جنوبی افریقا کي په زولو ژبه کي و الله ته (uMVELINQANGI) وایی، چې په عربي ژبه ئې ژباړه (والله غنی) دی،[7] او همدارنګه په زولو کي (uNKULNKULU) استعمالیږی چې ژباړه ئې ده (عظیم) تر ټولو لوی، تر ټولو سپیڅلی او تر ټولو غوره.[8] په یونانی ژبه کي و الله ته (Kyrios) وایی چې معنائې ده څښتن، او (Theos) هم ورته استعمالیږی چې معنائې د پښتو ژبی وخدای ته ورته ده یهودو ورته (Jehovah) (جهواه، یهواه) ورته وایی چې د (یهودا) څخه اخیستل شوی دی، او خدای ته وایی[9] په عبرانی نسخو کي د بایبلو (۶۰۰۰) ځلی د (ایلاه) او (یهوا) توری راغلی دی د الله لپاره، یو کتاب پر دې موضوع باندی لیکل شوی دی Muhammad in World Scriptures چې سل پاڼې د خدای پاک د نوموونو ډکي دی، چې ۱۵۵ نوموونه پکښی دی، په دې نوموکي د جنوبی استریلیا خلک یو نوم د خدای لپاره استعمالوی چې (Atnatu) دی، او دا الفظ د بې ضرورته، بې خوراکه او بې څښاکه په معنا دی، یعنی خدای نه چا ته اړتیا لری، نه و خوراک او نه هم و څښاک ته اړتیالری.[10]
د (خدای او خدا) لفظ د الله جل جلاله لپاره استعمالول روا دی

---

[7] (Page:7)What is His name?by: Ahmed Deedat Published by: IPCI- 2005
[8] (Page:9) What is His name? by Ahmed Deedat published by: IPCI- 2005
[9] (Page:21) What is His name? by Ahmed Deedat published by: IPCI- 2005
[10] (Page:9) What is His name? by Ahmed Deedat published by: IPCI- 2005
[11] (Page:11) What is His name? by Ahmed Deedat published by: IPCI- 2005

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوددې ځرګندونوڅخه موموڅه داده چې والله جل جلاله ته (خدای یاخدا) ویل هم روادی، که دانوموته اسم ذات نه دی نوپه صفاتوکې به دالله خوضروررائحی، اوس دخدای یاخدادنامه باندی نوره رڼا اچوو:

دانبکاره خبره ده چې د(خدای یاخدا) دعربې لفظونه نه دی بلکې دافارسې لفظ دی، چې دعربې ژبې د(رب) په معنااومفهوم سره دی، او(رب) په اسماء الحسنی کې شامل دی اوپه قرانکریم اواحادیثوکې راغلی دی، په فارسی اواردوژبوکې ئې ژباړه (خدا) دی له همدی کبله والله جل جلاله ته خداویل درست دی اوزموږمخکنیواکابروهم دالفظ استعمال کړیدی.¹²

د(خدای) ژباړه دالله جل جلاله داسم ذات (الله) نه دی، اونه هم دالله داسم ذات (الله) په یوه ژبه ژباړل کیدلای شی بلکې دالله دنوروا اسماء الحسنی ژباړه کیږی، (خدا) دالله اسم ذات نه دی دافارسی ژبی توری دی چې معنائې د(مالک، صاحب، اغااوواجب الوجود) ده.

د(خدا) توری چې (خ) پیښ ولری د(صاحب اودمالک) په معنادی، د(خدا) توری دوولفظوڅخه جوړشوی دی (خود) او(آ) چې دادامرصیغه ده، په فارسی کې دااوصول دی چې دامرصیغه داسم سرراشی نواسم فاعل ورڅخه جوړیږی، نو(خودآ) یعنی پخپله راغلی، یعنی دخدای په ظهورکې خدای جل جلاله دبل چاومرستې ته محتاج نه دی، دامضمون په (رشیدی) او(خیابان) کتابونوکې هم راغلی دی اوپه سراج اللغات کې هم رانقل شوی دی دامام فخرالدین رازی رحمة الله علیه څخه.

که خدای مطلق استعمال شی نوپربل چائې اطلاق نه کیږی اواضافت سره استعمال شی بیاکیدای شی لکه دخدای کوراونور...¹³

بله خبره داده چې موږچې کله په پښتوکې (خدای) لیکونوموږورسره (پاک، یاجل جلاله) ورسره لیکو چې ددې اطلاق بیاپرهیچاته کیږی بیله یوه الله جل جلاله څخه، یاکله موږپه پښتوکې د(څښتن) توری استعمالووچې ددې سره هم (تعالی، یاجل جلاله) لیکل کیږی، یاپه فارسی ژبه کې د(خدایاخداوند) سره (لایزال، متعال اوجل جلاله) لیکل کیږی، چې مطلب داورڅخه رائحی چې دالله جل جلاله دنامه څخه ماسوا د(خدای، خدا) توری استعمالورروادی، خوالبته فضیلت دالله ډیردی.

ولی الله جل جلاله خپل نوم په نوروژبونه ښکاره کوی؟؟؟

والله جل جلاله ته په هره ژبه کې یونوم شته، که الله جل جلاله دیوې ژبې نوم ښکاره کړی نوهغه نوربه بیاوایی چې زموږدژبې نوم ولی نه دی ښکاره شوی؟ والله جل جلاله ته په نوروژبه کې داتوري استعمالیږی لکه:

God: (په انګلیسي ژبه کې ورته وایی)

Got (په افریقاکې دهالنډخلک ورته وایی)

Gott: (په جرمنی اونوروژبو کې ورته وایی)

Gudd (په ډنمارکې، سویډنی اوناروېژی ژبوکې ورته وایی)

Dieu (په فرانسوی ژبه کې ورته وایی)

Dio: (په اټالوی ژبه کې ورته وایی)

Dia (په ایرلینډی اوسکاټلینډی ژبوکې ورته وایی)

اوداسی نور... چې ددې ټولومعناد(هسک، اسمان اوجنت) په معنادی، چې دالله جل جلاله په ۹۹ نوموتوکې دیوه معناهم دانه ده، نوځکه الله جل جلاله دنوروژبوالفاظ نه ښکاره کوي اویوائحی اویوائحی الله جل جلاله ښکاره کوی.په نړی کې چې دخدای لپاره په کوموژبوکې کوم نوم نونه استعمالیږی تر٪۵۰ زیات ئې دهیون (Heaven) معنالری، چې هیون و(هسک، اسمان اوجنت) ته ویل کیږی، دهیون په معناسره په اسمآءالحسنی کې کوم نوم نشته، نوځکه الله په عربی سره ښکاره کوی.

بله خبره داده چې په نوروژبوکې دغه توری چې دوی ئې دخدای لپاره استعمالوی داتوری وغیرالله اوبتانولپاره هم استعمالیږی، اوله دې څخه ماسوا ډیرې معناوې اومفهومونه لری چې زه ئې یوائحی وانګلیسي ژبې ته رائحم.

په انګلیسي ژبه کې وخدای ته ګاډ(God) وایی، چې داګاډ بیاپه زښتوډیرومعناودی، اوډیرونوروتوروسره استعمالیږی لکه:¹⁴

**Son of God:** (دخدای ځوی، چې دحضرت عیسی علیه السلام لپاره یې عیسایان استعمالوی)

**God Father:** (هغه څوک چې دکوچنی مذهبی روزنه ئې په غاړه وی.تعمیدی پلار)

---

[12] آپ کې مسائیل اوأن کاحل ټوک:۷، پاڼه: ۴۹، لیکوال حضرت مولانامحمدیوسف لدهیانوی شهیدرحمة الله علیه، مکتبه لدهیانوی کراچی.

[13] آپ کې مسائیل اوأن کاحل ټوک:۷، پاڼه: ۵۲، لیکوال حضرت مولانامحمدیوسف لدهیانوی شهیدرحمة الله علیه، مکتبه لدهیانوی کراچی.

[14] (Page:10)What is His name?by: Ahmed Deedat Published by: IPCI- 2005

(c) ketabton.com: The Digital Library



**God Mother**(هغه ښځه چې د کوچنی مذهبی روزنه ورپه غاړه وی.تعمیدی مور)
**God parents**(هغه څوک چې دعیسایانو په تعمیدی غسل کي ژمنه وکي چې دی دماشوم دروزنې مسئوله دی.)
**Godless**( بی خدایه، هغه څوک چې پرخدای ایمان نلری)
: **God-awful**(ډیربد، ډیرناوړه)
**God like :**(لکه خدای)
**God*s Country**(ښکلی اودامن نه ډک ځای چې خلک یی خوښوی)
**God child :**(هغه کوچنی چه بل چاپه زوی توب منلی وی)
**God daughter :**(هغه نجلۍ چه بل چاپه لوروالی منلی وی)
**Goddess**(الهه، یاخدایه، ښځینه خدایه)
**Godson :**(هغه هلک چې بل چا په زوی والی نیولی وی.)
له دې څخه علاوه دګاډ(God) خپله زښته ډیره معناوی دی لکه:
۱:هغه څوک چې دکائناتوپریوه برخه واک ولری.
Mars was the Roman god of war
لکه : مریخ چې درومیانو دجنګ ګاډ ؤ.
۲: دیوچاسره چې ترنورو زیاته مینه ولری. ودې شخص ته هم ګاډ ویل کیږی
She is my god
لکه: زمامعشوقه زماګاډه ده.
۳: یوه ډیرمهم شی لپاره هم ګاډ استعمالیږی.
Money is my god
لکه: روپی زماګاډدی؛

نوکه اوس یوائې دانګلیسي ژبې (ګاډ) الله جل جلاله پرنباتاتو، انسانانو اویاډ بروښکاره کړی نو څه به ورڅخه مرادشی؟؟؟ څوک به ئې یوه معناکوی اوڅوک بله، نوله همدی کبله الله جل جلاله یوائې اویوائې خپل اسم ذات (الله) ښکاره کوی، چې له ټولو ناولیو څخه پاک دی اوبس.

که یوڅوک داسی پوښتنه وکي چې ولی الله جل جلاله خپل مبارک نوم دهرقوم په ژبه په هرقوم کي نه ښکاره کوی؟

نوځواب ئې ډیرساده دی، اوهغه داچې دبیلګې په ډول سره لکه چې مخکي وړاندی رڼاواچول شوه نوخبره روښانه ده، لومړی دالله جل جلاله نوم کومه ژباړه نلری دابه په هره ژبه کي الله جل جلاله دی، اوکه بالفرض یوڅوک ووایی چې موږدبیلګې په ډول سره وخدای ته (God)ګاډ وایو، نوولی خدای په انګلستان اوامریکاکي د(God) توری نه ښکاره کوی؟ نوپه ځواب کي به ورته ووایم چې ښاغلیه! په همدغه انګلستان اوامریکاکي (God)ګاډ یوائې دالله جل جلاله لپاره نه استعمالیږی، که ته مسلمان یی دادرسته ده چې ته به والله ته (ګاډ) وایی، خوهندووخپل (راما اوکرشنا) ته هم (ګاډ) وایی، بودایی وګواتم بدهه ته هم (ګاډ) وایی، عیسایی وحضرت عیسی علیه ته هم (ګاډ) وایی، هغه څوک چې دشیطان عبادت کوی هغه هم وشیطان ته (ګاډ) وایی، او داسی نور.... نوکه د(ګاډ) توری ښکاره کړی نوهریوبه خپل معبودورڅخه مرادکړی، نوځکه الله جل جلاله یوائې اویوائې خپل اسم ذات اودخاتم الانبیاء حضرت محمدصلی الله علیه وسلم مبارک نومونه ښکاره کوی، ترڅوانسانان پوه شی چې خدای جل جلاله یودی، شریک نلری، دده مثل نشته اوحضرت محمدصلی الله علیه وسلم دده پیغمبراورسول دی، اودی صلی الله علیه وسلم اخیری پیغمبردی اوبل پیغمبرنه راځی.

---

15 Merriam Webster*s Collegiate Dictionary 2000
16 Oxford Advanced Learner*s Dictionary- 2005, page:665

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اسلام وطبي څېړنوته اړيتانلری

ملالی. بشيرخورداهم ليکلی دی چې دوړمې خورداليکنه کيدای شی په نکريځووی، زه پردی دلايل نه وايم چې دوړمې جانی پرمخ داليکنه به يوه ډرامه وی اوکه حقيقت، بلکې زه دادرته ويل غواړم چې اسلام وطبي څېړنوته اړيتانلری، چې مطلب مې دادی چې يوڅوک دی اسلامی اصول ترهغه وخته نه منی چې ساينس ياطب نه وی ثابته کړی، بلکې اوس که اوس که الله جل جلاله خپل مبارک نوم څرګندوي، يادقران کريم اياتونه ديوماشوم پربدن باندی ښکاره کيږی نوداهيڅوک نشی کولای، اونه هم دامعجزه وطبي څېړنوته اړتيالری، داسی خارق العاده کارونه هروخت کيږی، اوس که دفخر الموجودات صلی الله عليه وسلم ويوې معجزې ته راشونوساينس اوطب به ګونګ، ړونداوکوڼ شی، مثلاکله چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم مبارک پرريګوباندی قدم واهه نودپښې مبارکې نخښه ئې نه معلوميدل اوکله چې به پرکلکوډبرباندی قدم واهه نودپښو مبارکو قدمونه به ئې له ورايه جوتيده، چې داسی ډبری په نړې کې ډيری شتون لری چې په ترکيه کې هم شته، نودمعجزې معناداده چې يوداسی کړنه چې له انسانی پوهې ، علم اوعقل څخه لوړه وی،له ماسره ددری کلن مسلمان ماشوم داسی ويډيوشته چې کله دی خبری کوی نوتلاوت کوی، اوتلاوت ئې طبعي دی نه تکلفی، يعنی چې کله ده خبری پيل کړلی نواياتونه ئې ويل، اوکله چې دی لوبی کوی نودهرځای څخه ئې چې قرانکريم پيل کې دهغه ځايه څخه ئې پيل کوی، اوس به نوطب ، ساينس اوعقل په دې کې څه ووايی، چې ودې ماشوم ته نه استاددرس ورکړی دی، نه استاذلری اونه ئې کوم مکتب اومدرسه لوستی ده اوقرانکريم ئې په يادددی، نوداسی هيښونکې پيښې به ډيری ښکاره شی، اوله پرنيټ باندی شته، وساينس اوعقل ته ترهغه وخته پوری په اسلام کې ځای شته ترڅوداسلام سره په ټکرکې رانشی، دعقل اوساينس هره هغه څېړنه، تحقيق اومطالعه چې داسلام خلاف وی هغه وامت مسلمه ته دمنلووړنه ده اوهغه مردوده ده، ماپه اسلام اوساينس کې زښته ډيرې ليکنې کړيدی اودرې کتابونه مې په دې اړه چاپ شوی اوڅلورم ئې دچاپيدوپه درشل کې دی، ساينس چې موږداسلامي ليکنوسره يوځای کوو ددی څخه موموخه داده چې ساينس داسلام خادم شی، داسلام هغه لطيفې اودقايق چې هرڅوک نه ورباندی پوهيږی نوموږئې په ساده ډول سره دساينس په ژبه سره خپروو. دنبی کريم صلی الله عليه وسلم دمبارک لاس څخه دومری اوبه راتوی شوی چې تر۴۰۰ پوری صحابه کراموو څيښلئ، حيوانات اوبه شول اوهرضرورت يې پوره شو نواوس به ساينس په دې کې څه ووايی؟؟ هيڅ !!!هيڅ !!!هيڅ!!! داځکه چې دايو خارق العاده شی دی، زمادحضرت عمررضی الله عنه دنامه هغه ريښتنې کيسه راپه يادده چې په ايران کې يوه شيخ الحديث په يوه ځنګله کې يوماروليدی اوهغه ماردخپل ځانه څخه دعمرتوری جوړکړی ؤ اوهغه داسی چې دمارخوله خلاصه وه، اوځان ئې يوځل پرمابين پيچلی ؤچې دخولې څخه (ع) اومابين له غوټې څخه ئې (م) اودلکۍ څخه (ر) جوړه کړې وه چې په سلګونه خلک ورته ورغلل اوشيخ صاحب داهرڅه ورته وښودل، دروس په داغستان کې پريوه ماشوم باندی چې د۹ مياشتوودقران کريم اياتونه ښکاره شول، په جرمنی کې په ځنګله کې لااله الاالله محمد رسول الله نويشته وه، چې بيادجرمنی حکومت هغه ځای دسيلانيانوپرمخ بندکړ، ميرييان دخپلو غارونوڅخه خاورې راباسی اودالله جل جلاله نوم ورڅخه جوړوی سبحان الله، يوه ونه غټيږی اومحمد صلی الله عليه وسلم ورڅخه جوړيږی چې هغه ونه نه په يوه باغ کې وی بلکې په يوه ځنګله اودښته کې، دعسلومچې خپل عسل رااخلی اودمحمدصلی الله عليه وسلم مبارک نوم په جوړوی اوداسی نور.... چې داهرڅه له عقله، فکره، پوهې اوله ساينسه لوړدی.

### معجزه وڅه شی ته وايی؟

کله چې موږدمعجزې ونامه ته وګورونومعنايی داراوځی چې معجزه دالله جل جلاله لوری هغه څه دی چې مقابل لوری ورته عاجزه شی ،يعنی خارق العاده کړنه ياشی ښکاره کول، اومعجزې الله جل جلاله دوخت مطابق وانبياء عليهم الصلوة والسلام ته ورکړيدی، که موږدحضرت موسی عليه السلام ومعجزوته وګورونوپه هغه وخت سحراوجادوډيرپرمختللی ؤپه هرځای، هرښاراوهره کوڅه کې به جادوګران وه، جادوپه هغه وخت کې ډيرعام ؤ نوالله جل جلاله وحضرت موسی عليه السلام ته داسی معجزې ورکړی چې ساحران اوجادوګران ورته عاجزه شول،داځکه چې جادوخويودسترګوپټوالی دی اوپه واقعيت کې هيڅ شی نه وی دانسان ترسترګوداسی ښکاری، کله چې حضرت موسی عليه السلام خپله مبارکه لکړه وغورځوله اوټول ماران اولنډی ئې وخوړلی نوساحران پوه شول چې داسحراوجادونه دی بلکې يوه معجزه ده نوځکه ئې ايمان راوړی .

دحضرت عيسی عليه السلام په وخت بياطبابت، دارودرمل ډيرپرمخ تللی وه، نوځکه الله جل جلاله وحضرت عيسی عليه السلام ته داسی معجزې ورکړی چې هغه حاکمان ورته عاجزه شول، لکه دمړوژوندی کول، دمورزاده ړنديانوبيناء کول، دپيس ناروغان روغول اوداسی نور...

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فخرالموجودات صلی الله علیه وسلم په وخت بیا شعر، شاعری او ادبیات وخپل اوج ته رسیدلی وه، چې د عربو شعراو شاعری په نړۍ کې شهرت درلودی نو الله جل جلاله د اسلام وستر خوږ استاذی حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ته داسی کتاب لکه قرانکریم ورکړ چې دوی ورته حیران شول، داچې قران کریم عربي دی او عربان نه په پوهیږی چې موخه می په قرانکریم کې د حروف مقطعاتو څخه دی لکه (ن، ق، یاسین، طه اوداسی نور...) عرب د قرآن کریم بلاغت، فصاحت، وسعت، هیښونکې معلوماتو او نور حیران کړل ،نو ځکه دوی ومنل چې دا دیوه انسان کلام نه دی بلکې یو الهی کلام دی، له دې څخه علاوه د اسلام پیغمبر صلی الله علیه وسلم تر (۳۰۰) زیاتی نوری معجزې درلودی، نو الله جل جلاله به د قیامت تر ورځې داسی هیښونکې پیښې ښکاره کوی. اوپاتی ده نه وی چې الله جل جلاله وایی چې داکفار لکه حیوانات بلکې تر حیوانانو لا بد تر دی، هیڅ داسی حیوان نشته چې الله جل جلاله ته شریک ونیسی هر حیوان په دې پوهیږی چې الله جل جلاله یو دی، او زموږ خالق الله دی، هر حیوان پخپله ژبه باندی د الله جل جلاله ذکر کوی، چې دا بیل بحث دی، او پوره لیکنه غواړی، د حضرت سلیمان علیه السلام په وختو کې حضرت سلیمان علیه السلام د هر حیوان په ژبه پوهیده، لکه په سورت نمل کې چې د میږی خبرې دي، د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم سره حیواناتو خبری کړیدی او دی مبارک په پوهیده .

<u>لمن لیکونه</u>

۱: قرانکریم
۲:المعجم المفهرس
۳: تفسیر قرطبی
۴: المستدرک
۵: بیهقی
۶: جامع الصغیر
۷: الترغیب والترهیب
۸: آپ کې مسائیل اور اُن کاحل
۹: منجد
۱۰: معجم الوسیط
What is His name?:۱۱
Oxford Advanced Learner*s Dictionary2005 :۱۲
Merriam Webster*s Collegiate Dictionary 2000:۱۳
۱۴:بی بی سی پښتوویب پاڼه
۱۵: (اردو انجیل مقدس گډ ئنز انټرنیشنل پاکستان ۲۰۰۹
۱۶: کلام مقدس پاکستان کاتهولک بایبل کمیشن ۲۰۰۷
۱۷: (انجیل شریف اول جیبی چاپ ۱۹۹۶)
۱۸: (عربی بایبل، ۲۰۰۵)
۱۹:ویکیفیډیا

په اسلامي پاکه مینه
ستاسو ورور عبدالغفار جُبیر
۲۵ - ۱۲ - ۲۰۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



**داسټرلیاڅخه دیوه ورور احمد اسلام پوښتنه او دهغې ځواب**

سوال: داسټرلیاڅخه احمد اسلام(Ahmed Islam) په نامه یو مسلمان یوه موضوع داسې راته بیان کړه:
درې میاشتې مخکې یو مسلمان دیوې عیسایې انجلۍ سره واده وکړ، هیڅ عکس العمل نه ؤ، یوه میاشت مخکې یو مسلمان چې انجینرؤیوه یهودی انجلۍ په نکاح کړه، هیڅ عکس العمل نه ؤداځکه چې دفرانسی دقانون له مخی که نراو ښځه سره خوښ کړی توافق ئې راشی نوواده سره کولای شی او هیڅوک نشی کولای چې ځوک ئې مجبوره کړی چې سره بیل شی؛ له دې څخه وروسته یو عیسایی هلک غوښتل چې یوه مسلمانه انجلۍ په نکاح کړی، چې دواړه سره راضي وه، توافق ته رسیدلی وه، ددې تړون په خپرولو سره په اسټرلیاکې په مسلمانانوکې عکس العمل راپورته شو، او هغې انجلۍ او هلک ته ګواښونه وشول، او که دانکاح وشی نوکیدای شی چې ددواړو دقتل سبب وګرځئ، اوس نوزه موضوع نه اوږدوم غواړم چې خپله پوښتنه داسې وکړم:

**۱: ایایو مسلمان نردکتابیه ښځې سره نکاح کولا شی؟**

**۲: ایایوه مسلمانه ښځه داهل کتابو (عیسایانو او یهودو) سره نکاح کولای شی؟**

**که یوائې مسلمان نردکتابیه سره نکاح کول شی نو:**

**۳: ولی یو مسلمان نر عیسایی او یهودی ښځه په نکاح کولای شی، او برعکس یوه مسلمانه ښځه ولی دیوه عیسایی او یهودی سره نکاح نشی کولای؟؟؟**

ځواب:
الحمدلله رب العالمین والصلوة والسلام علی سیدناو شفعناو اله او اصحابه اجمعین
ډیرښکلی سوال موو کړ، او ددې سوال ځواب به زه په ډیرتفصیل سره درکړم.
داچې یوه مسلمانه خورنه وعیسایي ته اونه هم ویهودي ته رواده نوموږنقلي او عقلي دلایل دواړه لرولومړی نقلي دلیل:
نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي:
الاسلام یعلو ولایعلی علیه
ژباړه: اسلام به لوړوي اوپرده هیڅ دین نشی لوړیدلای.
داچې اسلام پرټولو دینونو باندی لوړدی نوځکه یو عیسایی او یهودي نشی ک ولای چې یوه مسلمانه خورپه نکاح کړي.
عقلي دلیل ئې دادي:
هرمسلمان پردی ایمان لری چې حضرت موسی علیه السلام یوسترپیغمبرؤ او هغه دالله استاځی ؤ،هغه تورات چې پرهغه باندی نازل شوی ؤ هغه دالله کتاب ؤ، او پرنبوت دحضرت موسی علیه السلام او پرالهي کتاب دحضرت موسی علیه السلام (تورات) دهرمسلمان ایمان او عقیده ده، نوځکه ویوه مسلمان ته یهودی ښځه رواده چې په نکاح یی کړي.
داچې دهرمسلمان پردې باندی ایمان او عقیده ده چې سیدناحضرت عیسی علیه السلام دخدای جل جلاله پیغمبر، او مسیح ؤ او هغه انجیل چې پرعیسی علیه السلام باندی نازل شوی ؤ هغه دالله کتاب ؤ، او پرنبوت دحضرت عییسی علیه السلام زموږدټول امت مسمله دهرنراو ښځې عقیده او ایمان دی، پرانجیل دحضرت عیسی علیه السلام دامت مسلمه دهرفرد ایمان او عقیده ده، نوځکه یوه عیسایی انجلۍ ومسلمان ته رواده چې په نکاح ئې کړي. وبل لورته داچې نه عیسایان اونه هم یهودان پرنبوت دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم ایمان لری، اونه هم پرهغه الهی کتاب قران کریم باندی ایمان لری چې پرفخرالموجودات صلی الله علیه وسلم باندی نازل شوی دی، او برعکس دوی (عیسایان او یهودان) وایی چې داکتاب حضرت محمد صلی الله علیه وسلم پخپله لیکلی دی (نعوذبالله من ذالک)، نوځکه دعیسایی او یهودی نارینه ته یوه مسلمانه ښځه نه ده رواچې په نکاح یی کړی.

فلایجوزالنکاح المسلمة الکتابیة
(البدائع الصنائع کتاب النکاح ۲/ ۲۷۲)
ژباړه: دیوې مسلمانې ښځې نکاح داهل کتابو سره نه ده روا.

یوه مسلمانه ښځه دغیرمسلمان سره نکاح نشی کولای، هغه څوک چې دانکاح رواوبولی داکفردی، که چیری یوه مسلمانه ښځه دغیرمسلمان سره ئې نکاح کړی وی نوفوراً دی ورڅخه بیله شی او ددی ګناه توبه دی وباسی، او دایمان او نکاح تجدید دی وکړی.
آپ کې مسایل اوراُن کاحل، ټوک: ۵، پاڼه، ۶۷،
لیکوال: حضرت مولانامحمد یوسف لدهیانوی شهید رحمة الله علیه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دیوه مسلمان نرد اهل کتابو سره نکاح رواده، که چیری دا اندیښنه وی چې ددې سړی اولاد به غیر مسلم شی نو په دغه وخت کي دیوه مسلمان نکاح دکتابیه ښځې سره جایزنه ده، او دا کار باید ونشی.
آپ کې مسایل اورأن کاحل، ټوک: ۵، پاڼه، ۷۵،
لیکوال: حضرت مولانامحمدیوسف لدهیانوی شهید رحمة الله علیه.

په عیسایانو کي ځینی داسی ډلی شته چې په نامه اهل کتاب دی اوپه حقیقت کي اهل کتاب نه دی، چې ځینی ئې دشیطان عبادت کوی، اودوی د (Satanism)تابع دی، دوی داسی وایی چې هرڅه واک دشیطان په واک کي دی، چې داپه اهل کتابو کي نه دی داخل، داډلی کوم کتاب هم نلری، اوهم کوم اصول لری. له دې څخه علاوه ځینی داسی ډلې دی چې دهریان اوماده پرسته دی، خدای نه منی اونه هم پر اخرت، رسالت اووحی ایمان لری چې داهم اهل کتاب نه دی. دعیسایانو اویهودو څخه ماسوی چې هندوان، زردشتیان، بودایان ، سکهان اونور.... دی دوی هم ځانونه اهل کتاب بولی خودوی په حقیقت کي هغه اهل کتاب نه دی چې اسمانی وحی لری، بلکه اهل کتاب هغه ډله ده چې اسمانی وحی لری لکه دحضرت ابراهیم علیه السلام صحیفی، دحضرت شیث علیه السلام صحیفی، زبوردحضرت داؤدعلیه السلام، چې دااوس نشته، اوبودایان، هندوان اونورچې داادعاکوی چې ددوی کتابونه اسمانی دی داددوی بی بنسټه ادعاده، کیدای چې څه نظریات یې داسمانی کتابو څخه رااخیستی وی اویابه ورته یوڅه پکښی وی. انجیل دحضرت عیسی علیه السلام اوتورات دحضرت موسی علیه السلام چې اوس په تحریف شوی ښه سره شته دااهل کتاب دی، خوددوی لپاره هم شرط دادی چې پروحی، پررسالت، پرخدای به ایمان ولری نودااهل کتاب دی، که چیری یوڅوک په نامه عیسایی وی نوپراخرت، خدای، وحی پررسالت دحضرت عیسی علیه السلام اوحضرت موسی علیه السلام باندی ایمان ولری نودااهل کتاب دی چې نورتفصیل به وروسته ښه ښکاره شی.

**اوس غواړم چې داهل کتابو سره دنکاح په هکله یوعلمي تحقیق ته راشم.**

نوروغیرمسلمو او عامو کافرانو په مقابله کي ومسلمانانو ته داهل کتابو سره یوډول ترجیح ورکول شویده، دهغوذبیحه ومسلمانانو ته حلاله ده، اوددوی دښځوسره دمسلمانانو نکاح رواده، دقرانکریم په سورت مآیده کي ددی بیان راغلی دی، خوداخبری یادساتل اړین دی:
۱: مسلمان نارینه دداسی کتابی ښځی سره نکاح کولای شی چې هغه ښځه به پاکدامنې وی، چې په قرانکریم ورته د((**محصنات**)) توری راغلی دی.
۲: اهل کتاب به عیسایی یایهودی وي، په وحی، رسالت اواخرت به ایمان لری، که دهریه وی دالله نه منکره وی اویوائی په نامه عیسایی اویهودی وی نودااهل کتابو په لړکي نه راځی یعنی نکاح نه ده وسره روا .
۳: په غیر مسلم هیوادکي دیهودی اوعیسایی ښځی سره نکاح کول دځینو فقهاوو په نزد حرام دی(مکروه تحریمی) .
دموجوده نړۍ عیسایان اویهودان اهل کتاب بلل کیږی خوپه دوی کښې زنا، فحاشی، عریانی اونورناروا تعلقات پکښی ډیردی، اوحتی په اوسني عیسایی اویهودي نړۍ کي بدحالت ودی ته رسیدلی دی چې ترځناوروبدتردی.
بله داچې زیات اهل کتاب، ملحدان دی اودمذهب نه بیزاره دی، اخرت څخه منکردی، چې دداسی عیسایانو اویهودانو سره نکاح قطعی حرامه ده،
فقهي جدید، لیکوال: حضرت مولاناخالدیوسف صاحب

وبل لورته دکتابی ښځوسره نکاح کول وامت مسلمه ته په تاریخ کي تاوانونه هم رسولی دی، اووامت ته ئې نقصانانورسولی دی، امیرالمؤمنین حضرت عمررضی الله عنه داحس کړه، اومسلمانان حکمرانان یې په خصوصی ډول سره داهل کتابوسره نکاح کول منع کړل، دحضرت شقیق بن سلمه رضی الله عنه څخه روایت دی چې حضرت حذیفه بن یمان رضی الله عنه کله چې ومداین ته ورسیدی نوهلته ئې دیوی یهودی انجلی سره نکاح وکړه حضرت عمرفاروق رضی الله عنه چې کله خبرشونوخبریې ورکي نوورته ئې ولیکل چې طلاق ورکړه، حضرت حذیفه رضی الله عنه ورته ولیکل چې ولی دازمالپاره حرامه ده؟؟؟ امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه ورته ولیکل چې حرامه درته نه وایم لیکن ددی خلکو په ښځوکي عموماپاکدامنی اوعفت نشته، په دی وجه بیریږم چې ددی خلکو په ذریعه ستاسوکورنۍ کښی فحاشي اوبدکاري داخله نشی.
دحضرت عمررضی الله عنه دوهم لیک دادی:
**اعزم علیک ان لاتضع کتابی حتی تخلی سبیلها فانی اخاف ان یقتدیک المسلمون فیختاروانسآء اهل الذمة لجمالهن وکفی بذالک فتنة لنسآء المسلمین (کتاب الآثار ص ۱۵۶، بحواله معارف القران)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: زه وناته قسم درکوم چې زماددې لیک نه مخکې چې پخپل لاس کې ئې کښیږدې نو وهغې (ښځې) ته طلاق ورکړه، آزاده یې کړه ځکه چې زما ویره ده چې نور مسلمانان به هم ستاڅخه عبرت واخلي او ذمیانو کتابیانو ښځو لره به ددوی دښکلا په وجه سره په مسلمانو ښځو باندې ترجیح ورکړي نو د مسلمانانو ښځو دپاره به ددې نه لوی مصیبت بل څه وي.
(ابوبکر جصاص رازی، احکام القرآن ج۱)

ددې واقعې نقل کولو نه وروسته حضرت محمد بن حسن رحمة الله علیه فرمایي چې حنفي فقهاء اختیار لري، چې د اهل کتابیه سره نکاح خو حرامه نه ده لکن دنورو فساد ونو له کبله دا ګناه مکروه ده.
غرض دا چې د قران، سنت او دصحابه کرامو دعمل مطابق په مسلمانانو لازم دي چې دنن ورځې دکتابیانو ښځو سره دنکاح کولو څخه پوره ځانونه وژغوري.
تفسیر معارف القرآن، ۲ټوک، ۱۱۸مخ
لیکوال: مفتی اعظم مفتی محمد شفیع رحمة الله علیه.

همدارنګه امام محمد رحمة الله علیه پخپل کتاب کښې د سیدنا حضرت عمر رضی الله عنه ددې قول نقل کولو نه پس لیکلي دي چې داحنافو فقهاؤ دکتابي ښځو سره نکاح کول مکروه ګڼي. (کتاب الاثار ص ۱۵۶)

علامه ابن همام نقل کړیدی چې حضرت طلحه رضی الله عنه او کعب بن مالک رضی الله عنه ته هم حضرت عمر فاروق رضی الله عنه کتابي ښځو سره په نکاح کولو سخت خبرداری ورکړی دی او داحکم یې ورکړچې دوی ته طلاق ورکړي. (فتح القدیر).

اهل کتاب یعنی یهود او نصاری چې کوم په دې زمانه کې دي دا پردوه ډوله دي:
۱: یو هغه دي چې پخپل دین باندې قایم انجیل او تورات اسماني کتاب بولي او عیسی علیه السلام واجب الاحترام پیغمبر یا دالله زوی یا خدای مني، موسی علیه مقدس رسول ګڼي دداسې یهود او نصاراؤ سره د مسلمانانو نکاح جایزده، باوجود ددوی دعقاید ودوی سره نکاح جایزده، داځکه چې قران کریم وایي:
وقالت الیهود عزیر ابن الله وقالت النصاری مسیح ابن الله (التوبه: ۳۰)
ژباړه: یهود وایي چې حضرت عزیر علیه السلام دخدای ځوی دی اونصاری وایي چې حضرت عیسی الله السلام دخدای ځوی دی.
نوخدای داهل کتابو عقاید ذکر کړیدي او په هغه وخت کې هم دوی داویل، ددې باوجود ددوی سره نکاح رواده.
بل ځای قرانکریم وایي:
والمحصنت من الذین اوتوا الکتاب من قبلکم اذا اتیتموهن اجورهن محصنین غیر مسفحین ولا متخذی اخدان. (المأیده: ۵)
ژباړه: او دهغو پاک لمنو ښځو نکاح چې تر تاسي مخکې کتاب ورکړې شوی دی حلاله ده، په دې شرط چې ددوی مهرونه ورکړی حال داچې دانکاح کوونکي اوسی نه زناکوونکیاو په پټه سره جنسی نامشروع اړیکې ټینګې نه کړې.
دلته قرانکریم دعفت یادونه کړیده، او مسلمانانو ته وایي چې که تاسی داهل کتابیه ښځو سره نکاح کوی نو فاحشه به نه وي، نه به زناکاره وي، او نه به یې په پټه سره کوم یار نیولی وي، که دا شرطونه چې قرانکریم ټاکلی دی دا پرځای شي نو داهل کتابیه ښځو سره نکاح رواده، او که چیرې دا د قرانکریم شرطونه پرځای نشي نو جایزه نه ده.
وصح نکاح کتابیة مؤمنة بنی مقرة بکتاب منزل (الدر المختار، کتاب النکاح، فصل فی المحرمات، ۳/ ۴۵)
۲: داهغه ډول اهل کتاب دي په نامه چې تعلیم یافته او ساینس پوهان دي، نه دوی خدای مني، نه تورات نه انجیل مني نه حضرت موسی علیه السلام او نه هم حضرت عیسی علیه السلام ته احترام لري او نه یې وعظمت ته قایل دي نو دداسې په نامه اهل کتابو سره نکاح جایزنه ده، داځکه چې دااهل کتاب نه دي، او دهریه دي.
(کفایت المفتی، ۵ټوک، ۲۱۱مخ)
لیکوال: مفتی اعظم حضرت مولانا مفتی کفایت الله دهلوی رحمة اله علیه

دعیسایي ښځې سره د مسلمان نکاح شرعاً منعقد کیږي، خو شرط دادې چې ښځه واقعاً په عیسوي مذهب باندې ولاړه وي.
وفی رد الدر المختار ج: ۳: ۴۵، واعلم ان من اعتقد دینا سماویا اله کتاب منزل کصحف ابراهیم وشیث وزبور داؤد فهو من اهل کتاب فتجوز مناکحتهم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښځ صباء عیسایانو په شان نه وي چې په نوم خو عیسایي وي او عقایدیي د دهریانو وي چې خدای او رسول هیڅوک هم نه مني، ورسره دوهم شرط دادی چې نکاح یې په شرعي طریقې سره د دوو شاهدانو په مخکې شوې وي که دا دواړه شرطونه موجود وي نو نکاح یې صحیح ده.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۳/۷هـ

(فتوا نمبر: ۲۸/۳۱۱ب)

فتاوی عثمانی، ۲ټوک، ۲۹۱مخ

لیکوال: شیخ الاسلام حضرت مولانا محمد تقی عثمانی مدظله العالیه

دیهودي او عیسایي ښځې سره نکاح صحیح ده په درمختار کې دي:

وصح نکاح کتابیة وان کره تنزیها

ژباړه: دکتابې ښځې (یهودۍ او عیسایۍ) ښځې سره نکاح روا ده که څه هم دا نکاح مکروه تنزیهي ده.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص: ۳۹۷، ج۲- ط، س: ج ۳، ۴۵ظفر)

فتاوای دارُالعلوم دیوبند: ۷ټوک، ص ۱۴۰

**نتیجه:**

۱: دعیسایې او یهودۍ (اهل کتابیې) سره نکاح روا ده.

۲: داکتابیه به پتمنې وي لکه په قران کریم چې (محصنات) لفظ ورته راغلی دی، که محصنه نه وه نو نکاح ده ورسره جایزه.

۳: داکتابیه به پررسالت دحضرت عیسی علیه السلام او یا حضرت موسی علیه السلام پرنبوت باندې به ایمان لري او پرهغه الهي کتابو به (انجیل عیسی علیه السلام، تورات موسی علیه السلام او زبور داؤد علیه السلام باندې به ایمان لري)، پرآخرت به ایمان لري، که یهودۍ عزیر علیه السلام دخدای ځوی بولی، که عیسایې حضرت علیه السلام دخدای ځوی بولی او داسې نور... داکتابیه ده.

۴: داچې کتابیه اکثره وخت عفتناکه نه وي نو له همدې کبله حضرت عمر رضی الله عنه و حضرت حذیفه بن یمان رضی الله عنه، حضرت طلحه رضی الله عنه او کعب بن مالک رضی الله عنه ته خبرداری ورکړچې کتابیه ښځې طلاقې کړي، او په ردمختار کې چې راغلي دي، چې دا نکاح مکروه ده وجه ئې داده چې په دوی کې عفت نشته، داځکه چې هغه بایبل چې دوی یې لري په هغه کې داسې فحش ایاتونه دي چې دلته زه نشم ذکرکولای چې یو ځای دجیمي سواګاټ په آند په بایبل کې لس (۱۰) ځایه د محرماتو سره زنا پکښې ده، لکه دپلار د لور سره زنا، دخُسر د مېرور سره زنا، دځوی دمور سره زنا او داسې نور... نو ځکه حضرت عمر رضی الله عنه له دې نکاح څخه منع وکړه.

۵: که چیرې مسلمان نارینه په دې پوه شي چې وکور، فامیل او ټولنې ته مې د دې کتابیه ښځې له کبله فحاشي، بربنډتوب او بې حیايي راځي، او یا مې اولاد کافران کیږي، او بې لارې کیږي نو په دغه صورت کې هم نکاح نه ده روا.

۶: که چیرې په نامه یهودۍ او عیسایې وه، پرنبوت دحضرت عیسی علیه السلام یې او حضرت موسی علیه السلام یې ایمان نلري، او دهریه وه، اولادینه وه، او الهي کتابو ته یې تقدس نه لري نو د داسې په نامه ښځې سره هم نکاح نه ده روا.

۷: که چیرې یو مسلمان نارینه یوه عفتناکې کتابیه ښځه پیدا کړل، او دکتابیې ټول شرطونه پکښې وه، فاحشه نه وه، نو که دا مسلمان نکاح ورسره کوي جوازئې شته، خو دا نکاح به د اسلام مطابق وي، یعني مهرټاکل، دوه شاهدان، او خطبه، دا نکاح به یوازې په یوه کاغذ په وجه سره نه وي، چې نکاح رجسټریشن ورته وایي.

۸: دمسلمانې خورنکاح له عیسایي او یا یهودي سره روا نه ده که چیرې دا نکاح (یوه عیسایي یا یهودي نکاح دمسلمانې ښځې سره) په استرلیا او یا دنړۍ په نورو کونجانو کې صورت نیولی وي فوراً دې بیل شي او دا روا نه ده چې یوه مسلمانه ښځه یو یهودي یا عیسایي په نکاح کړي، تجدید د نکاح دې وکړي او تجدید د ایمان دې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمنلیکونه:

۱: فتاوی دارالعلوم دیوبند
۲: فتاوی عثمانی
۳: درمختار
۴: فقهی جدید
۵: کفایت المفتی
۶: البدائع الصنائع
۷: آپ کې مسایل اوراُن کاحل
۸: احکام القرآن
۹: کتاب الاثار
۱۰: فتح القدیر
۱۱: معارف القرآن
۱۲: تفسیرعثمانی

په اسلامي پاکه مینه
ستاسوورور
عبدالغفارجُبیر
۱۲/۰۹/۲۰۱۲ میلادی کال

دښاغلي جیمز (James)دسوال په ځواب کي :

دفېس بوک له لاری یوسړی چې ځان ئې راته جیمز(James) معارفی کړ،اڅخه وپوښتل چې زه تثلیث په کیمیاپوهنې (Chemestry) کي درته ثابتوم، اوحال داچې تاسی مسلمانان دتثلیث څخه منکر یاست، ماورته وویل چې څنګه؟؟؟ده راته وویل چې ماده درې حالتونه لري مایع، غازاوجامد، چې دادرې سره په حقیقت کي یوه ماده ده، اوداتثلث ثابتوی؛ ماورڅخه وپوښتل چې سیدناحضرت عیسی علیه السلام، روح القدوس اوخدای جل جلاله یودی که نه؟ ده راته وویل هو ! دایودی. ماورته وویل افرین ډیرښکلی ځواب دی راکي اواوس به زه ستاسودپوښتنې ښکلی ځواب درکړم.

دادکیمیادعلم یواصل دی چې ماده درې حالتونه لری، مایع، غازاوجامد خودادرې حالتونه هریوبیل بیل تعریفونه او ځانګړتیاوې لری، اوزه به لومړی ددې درې حالتونوتعریفونه درته وکړم:

دمادې جامدحالت: داهغه حالت دی چې ماده معلوم شکل، معلوم حجم اومعلوم وزن ولری. لکه ډبره چې دادرې سره حالتونه ئې ثابت دی اوهیڅ تغیرپکښې نه راځی.

دمادې مایع حالت: داهغه حالت دی چې ماده غیرثابت شکل لری، مګروزن اوحجم ئې ثابت دی. دمادې دمایع حالت دجامد حالت څخه په دې کي توپیرپیداشو چې جامدحالت ثابت شکل لری اومایع حالت ئې نه لری.

دمادې دګازحالت: دادمادې هغه حالت دی چې شکل ئې غیرثابت، حجم ئې غیرمعین اویواځی وزن ئې ثابت دی.

چې ددې تعریفونوڅخه داولاسته راغلل چې دادرې سره حالتونه سره ژورتوپیرلری یعنی که یوشی جامدوی نوپه همدغه مهال مایع نشوورته ویلای، که مایع وی نوجامدنه دی ، که غازوی نوجامد نشوورته ویلای اوکه جامدوی نوغازاوهمدارنګه مایع... برعکس تاسی وایاست چې حضرت عیسی علیه سلام خدای دی، روح القدوس خدای دی،اوخدای داتپوله یو خدای دی،اوتپوله یوشانته دی، که موږمادې ودې حالتونوته راشو نوویلای شوچې کله څرنګه چې جامد حالت په عین وخت مایع اوغازنشی کیدلای نوخدای جلاله چې شته بیاسیدناحضرت عیسی علیه السلام اوروح القدوس خدای نشی کیدلای، داځکه چې کله چې انسان دحضرت عیسی علیه السلام تصورکوی نودابه ووایی چې هغه یوانسان ؤ اودخدای له لوری رالیږل شوی پیغمبروو، کله چې دروح القدوس فکرکوي نووبه وایی چې دادخدای جلاله یوه مقربه ملایکه ده( حضرت جبرائیل علیه السلام) اودنده ئې داوه چې دالله جلاجلاله احکام ئې وپیغمبرانوعلهیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



السلام مونه راوړل او کله چې وروح القدوس ته راشو نو د کیمیا پوهنې له نګاه ویلای شو چې هغه یوه ملائیکه ده او بس، نه خدای ده، او نه هم دعیسی علیه السلام په شان ده، او داسی نور...

ماده دوه ډوله تغیرات او خواص لری یو فزیکي او بل کیمیاوي نو بیا ستاسو په اند څو خدایان دی؟ کوم یو کموی؟ دکوم یوه څخه دخدایتوب صفت سلبوی؟ ایا تاسی په کیمیا او فزیک کي او نورو عصری علوموکي ګوری که یی درې ځانګې درلودی نو داستاسو دتثلیث ثبوت او استدلال دی؟؟؟ او بیا ودې ته هم نه ګوری چې دا فیصله درسته ده او که بی بنسټه؟؟؟

وبل لورته اتوم دوې برخې لری هسته او مدارونه بیا ستاسو په اند څو خدایان شول؟؟؟

او که تاسی ددوهم ځل لپاره وو ایاست چې اتوم درې زرې لری او داتثلیث شو، نو زه به دا یو څه وڅیړم:

په هسته کي نیوترون او پروتون دی چې نیوترون خنثی ذره ده، او پروتون مثبت چارچ لری، او په مدارو کي الیکترون دی چې منفي چارچ لری چې په واقعیت کي دادرې سره زرې سره مخالفې دی او یو شانته نه دی؛ دا ځکه چې یوه زره به یا چارچ لری او یا به ئې نلری، که ئې لری یا به مثبت چارچ لری او یا به هم منفي چارچ لری، چې دا ټول سره په متضاد حالت کي دی، یعنی که مثبت ونو منفی نشی کیدای، که خنثی ونو بیا چارچ نشی درلودلای، داسی نشی کیدلای لکه ستاسو دتثلیث عقیده چې خدای، روح القدوس او عیسی علیه السلام دا ټول سره یو دی، او س ددې څېړنو مطابق کوم یو خنثی دی؟؟؟ اعوذ من ذالک، نو په یوه ټکی کي درته وایم چې حضرت عیسی علیه السلام دبیولوژی او کیمیا ددې اوصولو مطابق نه یوائی ستاسو تثلیث باطل ثابت شو بلکې وحدانیت ئې ثابت کړ، او هغه دا چې روح القدوس بیل دی، خدای بیل دی او حضرت عیسی علیه السلام بیل دی، او دهریوه پېژند نه بیله ده، نو سیدنا حضرت عیسی علیه السلام یوائی انسان وه او یو لوی پیغمبر وو او خدای نه وو.

جیمز ددې ځواب په اورېدلو سره بیا ددې جرئت ونکړ چې بله پوښتنه راڅخه وکړی.

والسلام

په اسلامي پاکه مینه

ستاسو ورور

عبدالغفار جُبیر

## دکېتي پیټر (Cathy Peter) دسوال په ځواب کي

یوه ورځ په فېس بوک یوې مېرمنې چې ځان ئې دفیلیپین او سېدونکې راته معارفي کړه او نوم ئې په فېس بوک کېتي پیټر وه راسره دمعلوماتو حال او احوال راڅخه وپوښته، کله چې ماورته وویل چې زه یو مسلمان یم، نو دې سمدستی راته وویل چې زه یوه عیسایی کاتولیکه یمه، او کلیسا ته می ځان وقف کړیدی، نو دې راڅخه وغوښتل چې یو څه معلومات ورلاسته راوړم نو راته ئې وویل چې په ټولو دینونو کي زما یوائی او یوائی دمسلمانانو سره په دې جوړه ده چې موږ او دوی ډیر سره نژدی یو، او وروسته ئې په سوالونو ئې داسی پیل وکړ:

میرمن کېتی پیټر: تاسی زموږ پر بایبل ایمان لری؟

ځواب: نه دا ځکه چې دا نه دحضرت عیسی علیه السلام کتاب دی او نه هم دخدای کتاب دی، او نه هم د سیدنا حضرت عیسی علیه السلام دی، او نه ئې حضرت عیسی علیه السلام ددې بایبل ددې تصدیق کړی او نه هم خدای ویلی چې دا زما کتاب دی.

میرمن کېتی پیټر: ستاسو قرآن زموږ دګاسپل (Gosple) یعنی انجیل تصدیق کوی که څنګه؟

ځواب: تاسی دقرآن کریم حواله راکولای شی؟

مېرمن کېتی پیټر: نه هیڅکله نه، دا ځکه چې موږ په کلیسا کي قرآن لرو خو مانه دی لوستی او که تاسی مهربانی وکي او حوالې راکي!

ځواب: په قرآن کي دانجیل لفظ راغلی دی په لاندی ایاتو کي:

وَأَنزَلَ ٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَ ﴿٣﴾ آل عمران ۳

ژباړه: او موږ تورات او انجیل نازل کړیدی.

وَيُعَلِّمُهُ ٱلۡكِتَـٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَ ﴿٤٨﴾ آل عمران ۴۸

ژباړه: او وروزده کوی هغه ته (الله) کتاب (لیک) او حکمت (دشرعی احکامو علم، ژورې خبرې) او تورات او انجیل.

يَـٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَـٰبِ لِمَ تُحَآجُّونَ فِىٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَمَآ أُنزِلَتِ ٱلتَّوۡرَىٰةُ وَٱلۡإِنجِيلُ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِهِۦٓۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿٦٥﴾ آل عمران ۶۵

ژباړه: ای اهل دکتابو! ولی جګړه کوی تاسی (په شان د) ابراهیم کښی (په دې شان چې هریو له تاسی ئې پخپل دین ګڼی) حال دا چې نه دی نازل کړی شوی تورات او انجیل مګر (په سلهاوو کلونو) وروسته له ده ایا نو هیڅ عقل نلری تاسی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَقَفَّيْنَا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم بِعِيسَى ٱبْنِ مَرْيَمَ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ ۖ وَءَاتَيْنَٰهُ ٱلْإِنجِيلَ فِيهِ هُدًى وَنُورٌ وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ وَهُدًى وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٤٦﴾ المآئدة ۴۶

ژباړه: او ولیږه موږ وروسته له دغو انبیاؤ عیسی زوی د مریمې حال دا چې رښتیا ویونکې ؤ د هغه کتاب چې پخوا له ده ؤ له تورات او ورکړی ؤ موږ ده ته (عیسی) انجیل چې په هغه کښې هدایت وو او نور (رڼا) وه او حال دا چې مصدق (موافق) وو د هغه کتاب چې پخوا ؤ د ده له تورات او هدایت ؤ او پند ؤ د پاره د پرهیزګارانو.

وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُوا۟ ٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِم مِّن رَّبِّهِمْ لَأَكَلُوا۟ مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِم ۚ المآئدة ۶۶

ژباړه: او که بیشکه دوی درولی وی (احکام) د تورات او انجیل او هغه (کتاب) چې نازل کړی شوی دی دوی ته له درب له لوری د دوی (د محمد صلی الله علیه وسلم په وسیله) نو خامخا خوړلی به ئې (میوې) له پاسه (د سرونو) خپلو او (غلې) له لاندی د پښو خپلو (د ځمکې نه).

قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لَسْتُمْ عَلَىٰ شَىْءٍ حَتَّىٰ تُقِيمُوا۟ ٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ ۗ المآئدة ۶۸

ژباړه: ووایه ته (ای محمده!) چې ای کتابیانو نه ئې تاسی پرهیڅ شی (له حقه دینه) تر هغه پوری چې قایم کړی تاسی تورات او انجیل او هغه (کتاب) چې نازل کړی شوی دی تاسو ته له (لوری د) ربه ستاسی.

وَإِذْ عَلَّمْتُكَ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ ۖ المآئدة ۱۱۰

ژباړه: او کله چې می درزده کړ تا ته کتاب او حکمت او تورات او انجیل.

ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلرَّسُولَ ٱلنَّبِىَّ ٱلْأُمِّىَّ ٱلَّذِى يَجِدُونَهُۥ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِى ٱلتَّوْرَىٰةِ وَٱلْإِنجِيلِ الاعراف: ۱۵۷

ژباړه: (دا متقیان او مؤمنان) هغه کسان دی چې متابعت کوی دوی د (دین د) هغه رسول چې نبی امی دی هغه رسول چې مومی دوی (نوم او صفت) د ده لیکلی شوی په نزد د دوی په تورات او په انجیل کښې.

وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِى ٱلتَّوْرَىٰةِ وَٱلْإِنجِيلِ وَٱلْقُرْءَانِ ۚ التوبة: ۱۱۱

ژباړه: په دغه (الله) باندی وعده حقه ده په تورات کښې او په انجیل کښې او په قرآن کښې.

ذَٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِى ٱلتَّوْرَىٰةِ ۚ وَمَثَلُهُمْ فِى ٱلْإِنجِيلِ الفتح: ۲۹

ژباړه: دا اوصاف هغه اوصاف دی، چې مثالونه ئې په تورات کښې بیان شوی، او دا هغه صفات دی چې مثالونه ئې په انجیل کښې بیان شوی.

مېرمن کېتی پیټر دا هغه حوالې وی چې ما درکړی، اوس دلته په قرآن کریم کې (انجیل) راغلی دی او حال دا چې تاسی (اناجیل) لری، یعنی دلته یو انجیل نوم راغلی دی او تاسی انجیلونه لری، نو تاسی ولی وموږ ته قرآن د ثبوت په ډول سره راوړاندی کوی؟ تاسی په عربي کې ودې انجیلو ته (اناجیل اربعه) وایاست، په انګلیسی کې ورته (Four Gosples) وایاست هم داسی ده که نه؟

میرمن کېتی پیټر: هو هم داسی ده، او دا څلور انجیلونه د نوی عهدنامې لومړی کتابونه دی نو اوس نور څه وایی؟

ځواب: اوس که دا څلور سره یو انجیل دی نو ولی یو انجیل نه دی؟ که دا څلور سره یو دی نو ولی ئې لیکوالان څلور دی او یو نه دی؟ که دا څلور سره یو دی نو ولی بیا پکښې دمځکې او اسمان په شان توپیر سره لری؟ بلکې دا یو انجیل نه دی او دا (اناجیل) دی، او دا بیلا بیلو لیکوالانو (متی، لوقا، مرقوس او یوحنا) په بیلا بیلو وختو کې لیکلی دی، نو دا هغه انجیل نه دی چې قرآن ورڅخه بحث کوی، زه به د دې انجیلو یو و ړو کې اختلاف درو ښیم.

په دې څلورو انجیلو کې د سیدنا حضرت عیسی علیه السلام شجره چې تاسو جوړه کړیده او موږ ئې نه منو او نه ورته کوم ارزښت ورکوو یوائی په دوو انجیلو (انجیل متی او انجیل لوقا) کې راغلی ده، او په پاته نورو دوو انجیلو کې (مرقوس او یوحنا) کې بیا نشته، او دغه دوې شجرې دومره پخپلو منځو کې اختلافات لری، چې دلته وربا ندی بحث مشکل کار دی، نو تاسی قرآنکریم د ثبوت په ډول سره مه وړاندی کوی، هغه کوم انجیل چې په قرآن کریم کې ذکر شوی دی هغه د الله کتاب ؤ، او هغه انجیل عیسی وو، او دا خو د انسانانو په لاس و نو لیکل شوی انجیلونه دی، چې د تحریفاتو، خرافاتو، فحش خبرو، پوچو مفکورو، بی ارزښته الفاظو، شجرو، کیسو، تاریخ او نورو شیانو څخه ډک دی، کیدای شی دا زما څو کرښې درته کفایت وکړی او که کوم مشکل وی نو زه درته حاضریم.

میرمن کېتی پیټر: دا د رسره منم چې دا هر څه شته په بایبل کې، خو دا نه وه راته جوته چې په قرآن کې دیوه انجیل نوم راغلی دی، و موږ ته په کلیساؤ کې ویل کیږی چې په قرآن کې هم د انجیل نوم راغلی دی، او قرآن په دی ګواه دی چې هغه د خدای کتاب ؤ او اوس ئې مسلمانان نه مني، او دوی ضد کوی او زه به تر هر څه نه لومړی د قرآن کریم مطالعه کوم او حق به و ځانته معلوم موم که څنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب: آفرین، میرمن کیتی پیټر! تاسی لومړی دقرآنکریم یوه نسخه پیدا کي، او که درته مشکله وی نوزه به ئې په فلیپین کي درک درکړم اویا به ئې زه درولیږم، او که دی په قرآنکریم په کوم ځای کي شبه وه اونه په پوهیدلی نولومړی هلته دیوه اسلامی مرکزڅخه لیدنه وکي، او که مووخت نه درلودی نودبریښنالیک اویاهم دفېس بوک له لاری راسره په تماس کي شی انشآءالله هرڅه مشکل به موالله جل جلاله درحل کړی، اوزه به ډیرژرځوکتابونه چې داسلام په هکله لیکل شویدی دبریښنالیک له لاری درولیږم.

والسلام

په اسلامي پاکه مینه

ستاسوورور

عبدالغفارجُبیر

**دجنوبي افریقاڅخه دیوې عیسایی مېرمنې مریم یوحنادسوالونو په ځواب کي**

دبریښنالیک له لاری یوې مسلمانې خورعایشه عمردجنوبی افریقا څخه د یوی عیسایی میرمنې مریم یوحناایمیل وماته راولیږی چې ماومریم یوحناته لیک ولیږی اوداسلام دعوت می ورکړ اودې راته وویل چې زه په دې اسلام نه قبولم چې:

۱: په اسلام کي څلورښځې روادی.

۲: اسلام ښځه په کورکي کښینوی.

۳: اسلام په ښځې برقعه (حجاب) کوئ.

مادبریښنالیک له لاری ورته داځوابونه ورکړل اوورته ومی ویل چې که چیری تاسی پراسلام نوراعتراضونه یادپوهې له کبله ایاهم د ناپوهی له کبله لری نوزه درته حاضریم چې دخپلې پوهې مطابق قناعت بخښونکي ځوابونه درکړم اوزماډیره هیله ستاسوڅخه داده چې داسلام ښکلی دین چې یوازې دمځکې پرمخ الهی دین دی قبول کړی، دادین دژوندپوره ضابطه اوبشپړقانون دی، اوپه دې دین کي نه یوازې داچې اخرت به مو ښکلی اوسوکاله شی بلکې په دې دنیا کي به هم دښه روغتیا، ښه ژوند، دنیکمرغه حالت اوپوره خوښې اوسکون څښتنه شی، داخبره زه په پوره قناعت سره درته کوم اوپه دې کي هیڅ شک اوشبه نشته، زه به دهغه نویو مسلمانانولیکنې هم درولیږم چې په اسلام مشرفه شوی اوداسلام پربښې ګڼوا اعتراف کوی، لوی څښتن دې وکړی چې بل لیک زه وتاسوته داسلام دمبارکۍ لیک درولیږم.

دالاندی ځوابونه په ښه غورسره وګورئ، دهرځواب په متن اوبطن ښه ځان پوه کړی، اوهیله مندیم چې داځوابونه ستاسودهدایت سبب وګرځئ. اوکه چیری تاسی دومره تکلیف نشی کولای نوتاسی کولای شی چې په جنوبی افریقاکي دمرحوم احمددیدات (رح) ومرکز Islamic Propagation Center International ته چې دډربن په ښارکي دی ورشی ترڅوقناعت مو حاصل شی.

ځوابونه:

۱: په اسلام کي دڅلوروښځوجوازشته، اوداپرهرمسلمان فرض نه ده چې حتماً به څلورښځې کوی. تاسی ئې پخپله ټولنه (جنوبی افریقا) کي راوښیاست چې څومسلمانانوڅلورښځې کړیدی، که دافریقاڅخه وامریکا، اروپااواسټرلیاته راشوهم به ډیره مشکله وی چې داسی مسلمانان به راوښیاست چې څلورښځې ئې کړی وی.

۲: دسورت نساء هغه ایات شریف چې دڅلورښځوجوازورکوی په هغه ایات مبارک داهم ښکاره ده چې الله جل جلاله وایی (فان خفتم ان لاتعدلوافواحدة) که چیری تاسوعدل اوانصاف نشوای کولای نوبیایوه ښځه په نکاح کړی اوبس، چې اسلام یوازنی الهي دین دی چې دیوې ښځې حکم ورکوي. اوپه بل هیڅ دین کي داځانګړتیانشته اونه به هم وی.

۳: دنړی په ټولومذهبي کتابوکي (بایبل، تالمود، ویدا، رامائن، مهابهارت او ګیتا) که هغه مقدس کتاب دیهودودی، که دعیسایانودی، که دهندوانودی، که دبودایانودی اوداسی نوروکي ترهرڅوپوری دښځوجوازشته اوپرډیروښځوباندی هیڅ بندیزنشته، چې دبیلګې په ډول سره په بایبل کي راغلی دی:

ستاولی هیردی چې دپاچاسلیمان علیه سلام په حرم کي یوزر(۱۰۰۰) بیبیانې وی (سلاطین ۱.۳ : ۱۱)

همدارنګه دیهودوپه مقدس کتاب تالمود کي هم راغلی دی چې حضرت داودعلیه السلام په لسګونوښځې درلودی، حضرت ابراهیم علیه السلام درې ښځې درلودی، حضرت سلیمان علیه السلام زرښځې درلودی اوهمدارنګه دسیدناحضرت عیسی علیه السلام په وخت کي یهودوډیری ښځې درلودی خوحضرت عیسی علیه السلام هیڅ هم نه دی ورته ویلی چې منعه ئې فرمایلی وای. نوکه ستاسوپه دین (عیسایت) کي هرڅوروا وی نوڅه بده خبره دی که په اسلام کي څلورښځې رواوی.

۴: الله جل جلاله چې دڅلوروښځوجوازورکړی دی دائې دپوره حکمت پربنسټ کړیدی، اوهغه داچې دښځوشمېرنسبت ونارینه وته ډیردی داځکه چې دطب له نظره هغه نارینه ماشومان چې عمرئې د(۱– ۳) کلونوپوری وی ډیرخپل ژوندله لاسه ورکوی نسبت وښځوته، دعرادوپه ټکرونوکي، په جنګونوکي، اوداسی نوروناوړوپیښنوکي نارینه نسبت وښځوته ډیرخپل ژوندله لاسه ورکوئ نسبت وښځوته، اوزه به اوس په نړیواله توګه سره دځینو هیوادونو اوسیمو دښځوشمیردنارینه ؤ دپه نسبت درته بیان کړم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دامریکاد(Census Bureau of America) اداري په اند په۲۰۱۱ کال کې په امریکا کې (۷۰۰۰۰۰) اووه میلیونه ښځې نسبت ونارینه ته ډیري وې، یوائې په نیویارک کې (۱۰۰۰۰۰) لس لکه ښځې ترنارینه وزیاتی دی، اوهمدارنګه په امریکا کې د(Gary Gatetes) په ویناڅلوېښت لکه (۴۰۰۰۰۰۰) همجنس بازان دی، چې داهغه خلک دی چې دهلکانوسره خپلې جنسي اړیکې ساتی اوودونه کوی، چې (۴۰۰۰۰۰۰) څلویښت لکه نوری ښځې له کاره وغورځیدی او اضافه شوی، چې داد ښځوشمېردی، چې په امریکاکې په مجموعي ډول سره : :

(۱۱میلیونه) ښځې دنارینه څخه اضافه شوی، داپه هغه صورت کې په امریکا کې هرنارینه یوه یوه ښځه په نکاح کړی، په اروپا کې (۱۲ میلیونه) ښځې اضافه دی ترنارینه و، په جرمنی کې (۵ میلیونه) ښځې اضافه دی ترنارینه و، په روسیه کې (۹میلیونه) ښځې اضافه دی ترنارینه وو، په برطانیه کې (۴۰۰۰۰۰) څلورلکه ښځې ترنارینه وزیاتې دی، چې په مجموعی ډول سره په ټوله نړی کې:
په ټوله نړی کې اضافه ښځې+ همجنسبازان چې دښځوسره ودونه نه کوی=۳۰۰۰۰۰۰۰ دیرش میلیونه سره، چې مطلب داورڅخه راوځی که دنړی هرانسان یوه یوه ښځه په نکاح کړی نو(۳۰ میلیونه) ښځې لااضافه پاتې کیږی. چې دهیچاورته اړتیانشته.
نودا ښځې به څه کوی؟؟؟؟
ایاداښځې به دحیواناتوپه شان ژوندپه هوټلونه، کارخانو، سُپرمارکیټونو اوفاحش خانوکي تیروی ؟؟؟ ایاداښځې به دحیواناتو په شان په ښارونوکي خرڅیږی؟؟؟ایاداښځې به یوائې اویوائې دنارینه وجنسي خواهشاتوته ځواب وایی او پوره کوی؟؟ ایاداښځې به وژل کیږی؟؟؟ ایاداښځې به یوائې اویوائې دنڅاپه محفلونواوځایونوکي نڅیږی؟؟؟ایاداښځې داحق نلری چې یوښه ښکلی ژوندولری، عزت ئې خوندي وی، ښکلی خاوندولری، ښکلی ماشومان ولری، دښه جایداداودوستانوخاوندانې شی؟؟؟!!!
بلی هو!!!!
داهرې ښځې خواهش دی چې سوکاله او دعفت ژوندولری، دمینې اولورینې نه ډک ژوندولری، دګلوپه شان ماشومان ولری، او د ژوند هرڅه ولری، اوددې مشکل حل په هیڅ دین کې نشته، ودې زیاتو ښځوته هیڅ دین نجات نشی ورکولای بیله اسلامه، داځکه چې په اسلام کې دښځې حیثیت، عظمت اوشرافت ډیرلوړدی،اسلام د ښځې ډیرقدرکوی، اواسلام هغه دین دی چې وښځې ته ئې لوړمقام ورکړیدی، نوځکه اسلام دښځوعفت، عزت، نیکمرغې، ښه ژوند، سوکاله اینده، شرافت اوښې چارې غواړې نوځکه اسلام ددې مشکل دحل لپاره جوازورکوی چې تاسی داښځې سره دوې دوې کړی، که دامشکل حل نشونودرې درې ئې کړی، اوکه دامشکل حل نشونو څلورڅلورئې کړی، ترڅوښځې له لعنته وژغورلې شي، دښه خاوند، کور، کهول اوماشومانو څښتنې شي، اودقرآن کریم په دی جوازکې داحکمت دی.
۵: په امریکا، اروپا، افریقا اودنړی په ګوټ ګوټ کې مهذب انسان(نارینه) هغه دی ددوی په اند چې ډیروښځوسره ئې جنسي اړیکې ولري، چې کله داشمیرپه اوسط ډول سره د (۸– ۱۵) ښځوپوری رسیږی، چې دایولعنتي ژونددی، اوله همدې کبله د(ایچ ای وی)په شان یوه مهلکه ناروغی ومنځته راځی چې پایلی ئې مرګ دی، په داسی نامشروع اړیکوکې کله وژنې، تښتونې، وهل، ځان وژنې، غلاوې، طلاقونه، اوداسی نورفسادونه زښته ډیرپه سرعت سره صورت نیسی، کله خوداسی هم وشی چې په داسی معاملوکې ښځې دحیواناتوپه شان ووژل شی اوداسی نور... نوکه اوس یومسلمان په شرعي ډول سره دڅلوروښځوخاوند شی نوڅه بدوالی به پکښې وی؟؟؟؟ چې له دې څخه نه (ایډز) پیداکیږی، نه جنګ پیداکیږی، نه رقابت پیداکیږی، نه تښتونه پکښې ده، اونه هم وژل شته.
۶: نارینه په طبعی ډول سره ترښځې طاقتوردی، نوځکه ئې جنسي رجحان هم نسبت وښځې ته اضافه دی، چې دایومنلی حقیقت دی، که داسی نه ده نوولی په نړی کې دزنابالجبرورځ په ورځ زیاتیږی؟؟؟ دامریکادعدلی ریاست (U.S Department of Justice) وایی چې په امریکاکې په هرودوودقیقوکې دیوې ښځې سره زنابالجبرکیږی، چې په یوه ساعت کې ۳۰ دزنابالجبرواقعې پیښیږی،اوپه یوه ورځ کې ۷۲۰، په یوه میاشت کې ۲۱۶۰۰، اوپه یوه کال کې ۲۵۹۲۰۰ داسی پیښې صورت نیسی، چې داهغه پیښې دی چې حکومت ورباندی خبراوورسره ثبت شویدی اوهغه چې ثبت شوی نه دی دهغوشمیرخوخپل پرځای پاته دی، ستاسوپه جنوبي افریقاکې هرکال (۵۰۰۰۰۰) پنځه لکه داسی پیښې صورت نیسی، اوبلادا چې ستاسوپه سیمه (جنوبی افریقا) کې ٪۳۷ فیصده نارینه په زنابالجبربوخت دی، اوحال داچې دداسی زناوو، فحشاوو، اوجنسي اړیکوپایله هلاکت اوومرګ ته ښه راغلاست دی، او همدا وجه ده چې هرکال په نړی کې (۱.۳) درې اعشاریه یومیلیونه خلک د(ایډز) مهلکه ناروغې وژنی، (۲۲.۹)دوه ویشت اعشاریه نه میلیونه خلک یوائې په افریقاکې دې ناروغی وژلی دی، چې داشمیره لاورځ په ورځ پورته کیږی اوګراف ئې لوړیږی، په ۲۰۰۹ میلادی کال کې ۳۳.۳ میلیونه خلک په دی ناروغی اخته وه اوپه ۲۰۱۰ میلادی کال کې داګراف پورته شواو۳۴ میلیونو ته ورسیدی ،داڅومروانسانانوضایع ده، په دې انسانانوکې شتمن خلک، تعلیم یافته خلک، پروفیسران، انجینران، ډاکټران اودهرې رتبې خلک شتون لری، اواسلام هغه دین دی چې داخلک ژغوریځ، اوددې پرځای چې دوی لږدلعنت اودحیوانیت ژونداختیارکړی نوالله جل جلاله ودوی ته ښه درحمت، عزت او اوږدعمرورکوی، چې ددې لپاره چې ددې لعنتي ناروغی څخه وژغورل شی نوالله ورته وایی چې تاسودوې،درې یاڅلورښځې په نکاح کړی.
۷: که چیری یوانسان یوه ښځه ولری، نوودې ښځې ته ناروغې پیداکیږی، داښځه مړه کیږی، اویاهم میاشتنې ناروغی ورته پیداکیږی (حیض) اویاهم دماشوم دپیدا ایښت څخه وروسته ناروغه شی (نفاس) نو په دغه وخت کې جنسي اړیکې الله جل جلاله منع کړیدی، اوداپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساینس کې ثابته ده چې دا وخت ښځه ناروغه وی، د دردونو سره لاس او ګریوان وی، د ښځې له بدن څخه فاسد مواد راوځي، او په داسې حالت کې د ښځې سره جنسي اړیکې ساتل د بې شمیره ناروغیو عامل ګرځي هم د ښځې لپاره او هم د نر لپاره، نو په دغه وخت کې که یو انسان دیوې ښځې پر ځای دوی، درې یا څلور ولري نو څه به وی؟؟؟؟ بلکې رحمت دی، دا ځکه دا انسان د غیرمشروع اړیکو څخه ژغورل کیږی، تر څو د هلاکت و کندې ته ورداخل نشی. چې دا یې بله ګټه ده دیوې څخه دزیاتو ښځو.

۸: کله چې تاسی اسلام راوړی نو تاسی به یو مسلمان خاوند په نکاح کوی، او په اسلام کې ستاسو نفقه، جامې، او هره غوښتنه او روزنه د خاوند زمه، وظیفه او فریضه ده، تاسی به پخپلو کورونو کې په امن او خوښۍ سره ناستې یاست او خاوند به هرڅه ستاسو د غوښتنې مطابق راوړی او ستاسو خواهشات به پوره کوی، دا اوس ستاسو څه ژوند دی؟ په کارخانو، په فابریکو، په هوټلونو کې، په دکانو کې، ادا سی نورځایونو کې تاسی کارکوی، دا کار مو د پیدا ایښت څخه نیولی تر مرګه پوری دی، کله تاسی وهل کیږی، کله ستاسو تنخواوې ګرځول کیږی، کله پر تاسو ډوډۍ بنده وی، کله ستاسو سره تر یوه حیوان بد تر سلوک کیږی، کله تاسی د زنا بالجبر ښکار شی، د غرمې او ماښام ډوډی تاسی په ولاړو خوری، نه مو سکون شته او نه موآرام شته او نه وښه ته خلاصې یاست او نه هم وبد ته، وبل لور ته اسلام ستاسو څومره عزت کوی، و تاسو ته څومره امتیاز در کوی، او ستاسو د سوکالۍ او خوښۍ لپاره ئې څومره سخت شرایط وضع کړید، اسلام تاسی په کور کې په امن کې کښینوی او له هر تکلیفه مو لیری ساتی، چې دا د اسلام بله ښېګڼه ده، او اسلام ستاسو لپاره رحمت، نعمت، عفت او شرافت دی.

۹: د ښځو په طبعیت کې دا ده چې دګلو په شان ماشومان ولری، او د ماشومانو سره پخپله ژبه وغږیږی، او د هغو سره د زړه خواله وکړی، د هغو ساتنه وکړی، د هغو مراقبت وکړی او په ښوا خلاقوئې سمبال کړی، تر څو په اینده کې د انسانیت ویاړ خپل کړی، او مو ر د ماشوم په روزنه کې ډیرارزښت په دې لری چې د مور غیږ د ماشوم لپاره لومړی مدرسه ده، نو اسلام چې تاسی په کور کې کښینوئ و تاسو ته یوه مقدسه دنده درسپارئ او هغه د ماشومانو پالنه او اصلاح ده، او که مو ږ په نړۍ کې وګورو نو یوه مور د خپل ګلالي ماشوم سره کله په یوه میاشت کې او کله په دوو میاشتو کې دیوه پر دې انسان په ډول سره ور سره ګوری، ایا دا ماشوم د خپلی مور مینه او لورینه نه غواړی؟ ایا دا ښکلی ماشوم د خپلی مور د مینې نه وډ کې غیږې ته اړتیا نلری؟ ایا ودې ماشوم ته تر خپلی مور ماسوا بل څوک ګران، قدرمن او د قدر وړ شته؟؟؟ ایا دا ماشوم که په کودکستان (وړکتون) کې خوښی د خپلې مور ناربې نه وهی؟؟؟ ولی د دې ماشوم څخه په ژوندون خپله مور، دزړه ټکور، غمخور، د زخمونو مرهم ور که ده؟؟؟

نو دا اسلام دی چې یوه مور په کور کې کښینوی تر څو ددې نازولی ماشوم د درد دوا او داوښکو شفاء شی.

۱۰: کله چې تاسی اسلام قبول کې نو ستاسو خاوند بیانشی کولای چې د نورو ښځو سره خپلی غیرمشروع اړیکې وساتی، او که ئې دا کار و کې نو سزا یې مرګ ده، د یوه مسلمان خاوند او یوې مسلمانې مېرمنې ترمنځ اعتماد زښته ډیر دی، او بل لور ته ښځه هم نشی کولای چې د نورخلکو سره جنسي اړیکې و نیسئ او که ئې و نیولی نو سزا یې مرګ ده، نو مطلب دا چې په اسلام کې د خاوند او میرمنې ترمنځ پوره اعتماد شته، د پوره مینې تار غځیدلی دی او که چیری و بل لور ته وغیر اسلامي ټولنو ته وګورو نو په هغو کې یو خاوند د خپلی مېرمنې څخه علاوه د ډیر ښځو سره ناروا اړیکې لری، چې دا تاسی د تل په شان وینئ، او کله چې ښځه فکرو کې چې خاوند مې د نورو ښځو سره ناروا اړیکې لری نو دا هم د نورو رخلکو سره دا ړیکو تار غزوی، چې پایله ئې دا راوځی چې طلاقونه، بی اعتمادې، وژنې، اختناق او نور فسادونه صورت نیسی، داسی لیکنه می هم پر انټرنیټ باندی ولیدل چې یوه ښځه سهار د یوه میړه له لوری طلاقه شول، په هغه ورځ ئې د بل سره نکاح وکړل او د شپې هغه هم طلاقه کړل، تر دې بل لعنت؟؟!! نو دا د اسلام بله ښې ګڼه ده، که اسلام قبول کړی نو ددې ټولو ناخوالو څخه به د نجات او خلاصون و ساحل ته لاره و مومی.

۱۱: حجاب

په اسلام کې چې کوم اوصول، قوانین او او امر د ښځو لپاره ټاکلی شوی او بیان شوی دی په هغو کې ضرور ددې ښځو لپاره هم د دنیا او هم د اخرت ګټې نغښتې دی، او پاته دی نه وي چې هرهغه څه چې اسلام ور ته امر کړیدی په هغو کې د دی نړۍ ګټې زښته نغښتئ دی، د حجاب یوه موخه دا ده چې تاسی د ټولنې د ټولو جراثیمو څخه وژغورل شی، او څوک مو پر عصمت او عفت باندی تیری و نه کړي، څوک در ته په بد نظر و نه ګورئ، او هر څوک در ته عزت در کړی دا ځکه چې حجاب د وقار او عزت سمبول او تاج دی، کله چې د لومړی ځل لپاره د ډینګی غوماشه په افریقا کې پیدا شول او تاسی ور ته په دې ډینګی و ایاست چې ډینګی و سختی تبې ته وایی چې دردئې ډیر او هډو کې ماتوونکی دی، چې دا اصطلاح تاسی ور ته وضع کړیده، نو دا ناروغې چې کله کشف شول تاسو ددی په موخه چې د ډینګی د ناروغۍ څخه ځانونه وژغورئ نو حجاب مو پیل کړی، او حتی نارینه و به د افریقا په دې سخته ګرمۍ کې پنډ ټوکران پر ځانو پیچلی وه، چې اسلام در ته ثابته کړل چې که تاسی د تل په شان داسی حجاب و کې نو د داسی په زرهاوو ناروغیو څخه به وژغورل شی، چې اوس حجاب په ساینس کې در ته روښانه کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرده په عیسایت کې

یوه عامه غلط فهمي په اروپا، امریکا او استرلیا او په مجموع کیبه لویدیځ کیداده چې اسلام یوائځنی دین دی چې لاربنوونه کوي وښځوته چې تاسي به حجاب کوی، ټول بدن به پټوی، اوپه بل دین، او مذهب کي هیڅ شتون او ریښنه نلری؛ دتعجب ورخبره خولاداده چې عیسایت اودعیسایت ریښې اوپه عمومي ډول سره په لویدیځ باندی دعیسایت ښه پوره پرده غوړیدلې ده، اودلویدیځ (۹۰) په سلوکي عیسایان دی، اووخپل دین ته هیڅ ارزښت نه ورکی، اوحال داچې دعیسایت ټیکه داران دوی دي، اودابایبل چې دوی په (۲۰۰۰) ژبوڅخه لااضافه ژباړلی دی، خوبیاهم لویدیځ دخپل دین(عیسایت) احکام ترپښولاندی کوي، او اوس دا وهرچاته جوته ده چې تاسو ته عیسایت دیوه نخود او دیوه سپلنې ددانې په په اندازه ارزښت نلری، نه ئې منی ،نه ئې احکام منی، اونه ئې هم عملی کوی، اوس بایبل یوائې دواتیکان ترتاخچوپوری محدوددی، اوپه یوڅوموزیموکیپروت کیاوبس-داچې تاسی وایاست چې موږ دصلیب اوعیسایت لپاره چوپړکوو، داتاسی عام عیسایان غولوی، اودخپلونارواموخوته درسیدوپه موخه له عیسایت څخه کاراخلی؛ اوبله داچې په عمومي ډول سره موټوله عیسایی نړۍ داسلام پرضدپه لومړی قطارکي درولې ده، اودا عیسایت ته خوا خوږی ده خپل بایبل چې هر(ورژن) وی خلاص ئې کي اوداایاتوته دی وګورئ.

ددې لیکنې موخه داده چې ټوله اروپا، امریکااوپه شمول د استرلیا تاسی ټوله ځانونه ترعیسایت قربانوی، دصلیب پرنامه سرښندنه کوی، اوداافتخاربولی چې صلیب موپه غاړه دی، اوپه عراق، افغانستان ،لیبیااویاهم په نوروا سلامي هیوادونوکي ووژل شی، تاسی دادصلیب سره ژمنه بولی، اوخپل دخلاصون خوب پکښې وینی، اوس پوښتنه داده چې په کوم بایبل چې تاسی ایمان پرې لری، خپل مقدس کتاب ئې بولی، تاسی ئې خپل دخلاصون واک بولی، تاسی ئې په مینه خپروی، ایاتاسی ورته ژمن هم نه یاست؟ ایاتاسی پخپل دې ویناکي چې موږپربایبل ایمان لرورښتنې یاست؟ ایاتاسی دڅوندپه هروخت کي ددې کتاب پیروی کوی؟ ایاهغه ځوک چې په بایبل باندی قسم واخلی لکه چې بارک اوباما اونوردامریکااونورولویدیځوهیوادونه مشران چې په (King James Version Bible) (کینګ جیمز ورژن بایبل) چې دادجیمز په وخت ،دجیمز په پیسواوهلوځلوکي ولیکل شو، دوی په دې بایبل باندی قسم اخلی اوداوایی چې موږبه داعملی کوو، اوددې هرحکم به په ټولنه کي عملي کوو ایادا روښتیاده؟ ایاپه مجموع کي داټوله عیسایی نړۍ وعیسایت ته ژمن اوهوډ من دی؟ عیسایت یوائې ترواتیکانه پوری محدوددی اوکه په نوروهیوادوکي هم شته؟

لکه څرنګه چې زه اوس غواړم چې دحجاب په هکله څه ولیکم نودموضوع څخه نه وځم اوپرحجاب باندی بحث کوم، اوهغه داچې داهیوادونه چې اوس ئې حجاب

منع اعلان کړیدی، لکه فرانسه، بلجیم اونورې هلې ځلې هم پیل شویدی چې په نوروعیسایی هیوادوکي هم داکاروکي اوخپلو شوموموخوته ځانونه ورسوی، ایاداحجاب یوائې په قران کي شته؟؟؟ نه هیڅ کله نه بلکه په ټولوالهی دینوکي وو، اوزه اوس دبایبل څخه هغه ایاتونه لیکم چې دحجاب په اړه پکښې حکم شوی دی-په هندو مذهب کي حجاب شته چې کوم الهی دین نه دی؟؟ نوپه عیسایت کي څنګه نشته!! ؟دتعجب خبره ده، چې داسلام دمبارک دین څخه مخکي حضرت عیسی علیه سلام په حجاب باندی ټینګار کړیدی، اودهغه څخه مخکي حضرت موسی علیه سلام وربا ندی احکام راوړیدی، اوامرئی کړیدی، چې ښځه باید حجاب وکي، نو اوس ئې داپه نامه عیسایی هیوادونه ولی دبایبل، دسال (پولس)، اودحضرت عیسی علیه سلام چې دوی وایی چې ده ځان زموږلپاره قربان کړ، ولی دده خبره اوقول نه منی؟ ولی دبایبل احکام غورځوی؟؟؟ څه وروسته به وتاسوته جوته شی چې مادڅوبایبلوڅخه داایات رااخیستی دی، اوددنړۍ په (۲۰۰۰) ژبوچې بایبلونه لیکل شوی اوهر(ورژن) چې وی، پکښې دی-

په ټولو الهي دینوکي دپردې امرشوی وو، دحضرت عیسی علیه سلام په وخت کي هم حجاب رواج وو، چې په اوسني بایبل کي دبرقع لفظ راغلی دی په دې ډول سره:

حضرت عیسی علیه سلام وایی:

وتاسوته ویل شویدی چې وښځوته مه ګوری، وماته وګوری زه وتاسوته وایم چې ددوی پربرقعوهم خپل نظرمه اچوی-

کله چې داوسنی بایبل مطالعه وشی نوداجوتیږی چې پرده په هغه وخت کي په فارس، مداین اونوروځایوکي عامه اورواج وه-

دتورات په پیدایش 24، باب کي راغلی دی:

اسحاق راووتی اخوااودې خواته ئې کتله، دماښام پرمهال یوه قافله په نظرورغله، چې په هغه کي ښځې وې کله چې ده ورته وکتل هغوی برقعې رااخیستې اوپرده ئې وکړل-

دغه لاندی ایات په اول خط دکورنتیانوپه نوم په یوولسم باب کي، اود (سال) لخوالیکل شوی دی، چې په انګلیسی کي ورته (Paul) (پاول) وایی، داهغه سړی دي چې داوسني عیسایت بنسټ ده ایښی دی،مسیحت په اروپاکي دده په وسیله داخل شو اوپه اروپاکي ئې دخپرولوکارپیل کړ؛ مرحوم شیخ احمد دیدات په حواله داوسني بایبل (۴۵) په سلوکي یوائې (سال) لیکلی دی، اودی داوسنی عیسایت مؤسس دی،دده په هکله به پوره معلومات په (ایابایبل دخدای کتاب دی؟) اوپه (دعیسایت حقیقت) کتابوکي وګوری؛ اودادده حکم اوامردی،چې په ټولوبایبلوکي دنړۍ چې دکلیسا وله خوا څخه چاپ شویدی شتون لری:

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کومه ښځه چې سرتوری دُعا کوی هغه خپل سربې عزته کوی، ځکه چې هغه د سرخریيلې په شان ده، که ښځه پورنۍ نه پرسر کوی نو وېښتیان دی هم پرېکړل شی، که د ښځې دپاره وېښتیان پرېکول او سرخریل د شرم خبره وی نو پورنۍ دې پرسر کوی۔ (اول کورنتین یو ولسم باب 5،7)

دا ایات په ( NKGV,NASB,KJV, RSV, MKJV, LITV, Darby, NT, Wey, Young, CEV, TEV, RVR 1960, ISV NT, NAB, Rotherham) بایبلو کې په مختلفو بڼو سره بیان شوی، تفسیر شوی، او ژباړل شوی دی، چې زه ئې یو څو بیلګل لیکم:

په (RSV, MKJV, LITV, Wey NT, Rotherharm, NAB ) بایبلو کې په لاندی ډول سره راغلی دی:

ښځه باید حجاب وکې، کچیری حجاب نه کوی نو دهغې سردی وخریل شی او یا دی هم وېښتیان ورځخه پرېکړل شی، کچیری دا د سرخریل او یا هم وېښتیان پرېکول ښځه د ځان لپاره لعنت او شرم بولی نو حجاب دی وکړی۔

په (National King James Version) بایبل کې دا ایات داسی لیکلې دی:

کچیری یوه ښځه پټه نه وی، سردی وخریل شی او که چیری دا د سرخریل د دی لپاره د شرم خبره وی نو ځان دی پټ کړی۔

په (NASB) بایبل کې دا ایات داسی دی:

که چیری ښځه خپل سرپټ نکړی، د دې سردی وخریل شی او یا دی د سرو ښتیان ایسته کړل شی، که دا عمل دا و خپل ځانته د شرم نه ډک یوه بې عزتی بولی نو سردی پټ کړی۔

په (CEV) بایبل کې دا ایات داسی راغلی دی:

ښځه باید خپل سرپټ کړی، او د ښځې لپاره د سرخریل او وېښتیان غچی کول یو لعنت، ظلم او شرم دی، که چیری ښځه د سرپوټول او حجاب رد کړی نو د دې ښځې وېښتیان دی غچی او سردی وخریل شی۔

په ځینو بایبلو کې تر دې هم وړاندی تېنګار شوی دی، او ډېره سخته سزا رئې ورته لیکلې ده، بل ځای په بایبل کې راغلی دی:

سړی د ښځې نه نه دی بلکه ښځه د سړی نه ده، او سړی د ښځې د خاطره نه بلکه ښځه د سړی د خاطره پیدا شویده، نو د فرښتو په سبب ښځې ته پکاره ده چې پخپل سرد اختیار (اطاعت، کمینی) نښه (پورنۍ) کښېږدی) (5: 14)

د دې پورتنیو ایاتو څخه لاندی کرښې په لاس راځی:

1: سرتور سریا حجاب نه کول په عیسایت کې دومره بد شرم دی لکه دیو ې ښځې وېښتیان چې پریکړل شی او یا هم وخریل شی۔

2: لوڅ سر د ښځې لپاره یو لعنت دی۔

3: په لوڅ سر دُعا او نور عبادات نه قبلیږی۔

4: د سرو ښتیان د ښځې لپاره تر ټولو مهمه ښکلا ده، چې دا طبعي ده، او دهرې ښځې پخپلو وېښتیانو ډېره خوا بدیږی، که وخیږی، کم شی، ضایع شی، خو که حجاب نه وی نو دا ښکلا دی له مینځه یو وړل شی۔

5: ښځه د نر څخه او د نر لپاره پیدا شوې ده۔

6: لکه څرنګه چې ښځه د نر څخه پیدا شوېده، نو دې ته په کار دی چې د نر د اطاعت لپاره او هغه ته د سرکښته کولو په موخه پورنۍ پر سر کې، چې دا د اطاعت نښه ده۔ خو د اسلام په مبارک دین کې حجاب د عفت، عزت، شرافت، سرلوړی، د سرتاج، او د خدای جل جلاله د اطاعت نښه ده۔

7: ښځه د فرشتې سره مقایسه شوېده، لکه څرنګه چې فرشتې د خدای جل جلاله اطاعت کوی، نو ښځه هم باید د نر د اطاعت نښه (پورنۍ) پرسر کې۔ خو او س برخلاف چې موږ ولو یدیځ ته ګورو نو د دې پرځای چې ښځه د نر اطاعت وکې، په مجموع کې په عیسایی نړۍ کې نر د ښځې اطاعت کوی، او دهغې تر تسلط لاندی شپې او ورځې تېروې، حتی د ښځې بې له اجازې څخه د کورو رځنې سودا هم نشی را وړلای، چې وروسته به ئې بیان راشی، چې یوه وړه بېلګه ئې وړاندی کوم او هغه دا چې په هرکال کې په زرهاوو مړونه طلاقیږی، چې دا یوا ځی د ښځو له خوا طلاقیږی، دا ځکه چې خاوند د ښځې پوره اطاعت نه کوي نو ځکه ښځه ورته طلاق ورکړی، د (News Week) په حواله په اروپا او مریکا کې په سلو کې (۹۸) طلاقونه د ښځو له لوری دی، او یوا ځی په سلو کې (۲) طلاقونه د نارینه و له لوری نه دی، دلته او س تاسی ګران لوستونکي قضاوت وکې چې نر د ښځې اطاعت کوی او که ښځه د نر؟!!

و بل لوری ته عیسایی ننی (ښځې راهبې) د مسلمانانو په شان حجاب کوی، او د کاتولیکانو په کلیسا کې تر (۱۹۶۰) میلادې پوری په کلیسا کې حجاب اړین او جبری وو، او که چیری چا پورنۍ نه وای پرسرنو و هغې ښځې ته و کلیسا ته د داخلیدو اجازه نه وه، او د کلیسا په هیڅ مذهبی مراسمو کې ئې ونډه نشوای اخیستلای، او بل موږ ټولې عیسایی نړۍ ته وایو چې ستاسو په ټولو کلیسا وو کې چې تاسو د بې بې مریمی رضي الله وعنها مجسمې جوړې کړېدې، دا ولی په حجاب کې ده؟؟؟ که حجاب په تاسو کې او س عیب او شرم دی، نو تاسې چې بی بی مریمی ته د خدای مور (نعوذ بالله) وایاست دا ولی په حجاب کې ده، ؟؟؟ ستاسو بایبل ولی پر حجاب ټینګار کوی؟؟؟ سال (پولس) ولی پر نه حجاب باندی دومره لعنت کړیدی؟؟؟ د نه حجاب سزائې ولی دومره سخته کړېده؟؟؟ ایا بایبل د خدای کتاب نه دی؟؟؟ که بایبل دومره ارزښت در ته نه لری نو بیا ولی دومره زیا رورته باسی؟ هیوادونه قبضه کوی، بې ګناه خلک وژنی، او دا د بې شرمی، غرور او د اسلام سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دذوبشمنی شعارمووهرچاته معلوم دی چې تاسو هرځای لیکلې دی، ((موږدعیسایت ونه دمسلمانانو په وینو شنه ساتو))، اوس ستاسو په دې ناولو هڅو هرمومن مسلمان خبردی، اوو پورتنی پوښتنوته دی اوس عیسایی نړی ځواب ووای.
اوس موږ دعیسایت څخه دانتیجه اخلو !!!
یابه بایبل دخدای کتاب نه وی، اویاعیسایت هیڅ الهی دین او مفکوره نه ده،دخیالاتو، پوچو خبرو، اودفکریو خیالی ټال دی، نوځکه وعیسایانوته هم هیڅ ارزښت نلری.

## حجاب په یهودیت کې

ډاکټر(Dr. Menachem) چې دبایبل یوپروفیسر دی اود یشوا په پوهنتون (Yeshiva University) کې ښوونکې دی، دی پخپل کتاب (یهودې ښځه دیهودو په ادبیاتو کې) (The Jewish Woman in Rabbinic Literature) کې داسی لیکی:
دادیهودو مذهبی کلتوروو چې کله یهودې ښځه دکور څخه دباندی وتله نوپوریې ئې پرسرکاوه، اوکله به ئې ټول بدن پټاوه، یوائې یوه سترګه ئې ښکارېده،

دی زیاتوی چې پخوانیو یهودو علماوو اوصول داسی وواوداسی ئې ویل:

هغه ښځه یهودې لورنه ده چې دکور څخه دباندی وځی او حجاب نه کوی، پرهغه سړی دی لعنت وي چې دښځې وېښتیان ئې څرګند ښکاری؛ هغه ښځه چې دخپلې ښکلالپاره خپل وېښتیان ښکاره کوی دادمسکینۍ سمبول دی، اودا ښځه به مسکینه اومحتاجه به وي ګوری چې یهودیت پرحجاب باندی څومره ټینګارکوی، اوداوایی چې هره هغه ښځه چې بې پردې وی هغه دیهودوددین څخه نه ده، اودا ښځه دیهودیت څخه وتلې ده، خوبلې خواته وحشي یهودو په میلونهاوو، مسلمانې میرمنی به عفته، اوبې حجابه کړې؛ چې دا په فلسطین کې ورځنی کارګرځیدلې دی. هلته نه دتورات احکام شته، نه انسانیت شته، نه دبشرحقوق شته؛ بلکې یوائې وحشت، اوحیوانیت، بربریت، استبداداوظلم شتون لری اوبس.

دیهودوشرعي قانون وایی:

که چیری دښځې بربنډ سروی، نوپه داسی حالت کې درحمت غوښتنه کول، یادُعاکول، یادخدای جل جلاله څخه څه غوښتل، داټول بې ځایه اومنع دی، ترڅوچې ښځه حجاب کوی.داځکه چې دښځې نه حجاب دلعنت سبب ګرځی اولعنت دی.
ددې څخه دامعلومیږی چې که حجاب نه وی
، نوټول عبادت بې ځایه دی، اوددې ښځې هیڅ هم نه قبلیږی، اوداخولاپرېږده چې دبې حجابه ښځې څه نه قبلیږی؛ بلکې که یوه بې پردې ښځه دنارینه ووپه ټولۍ کې وی، نوددې ټولو نارینه او ښځینه وو هیڅ عبادت، نیرا، ژړااوغوښتنه هم نه قبلیږی، دلوڅ سرې اوبې حجابه ښځې داسی سزاده په یهودیت کې.

ډاکټربرایرووایی:(DR. BRAYER)

دښځې حجاب ددې دعزت اووقارلپاره دی، اوکه داپخپله خپل عزت اخلی اوسرنه پټوی نوسل روپۍ دجرمانې په ډول سره ورڅخه واخلی، داځکه چې دفاحشې اودرستی یهودې ښځې ترمینځ توپیرهمداحجاب دی، داځکه چې زناکارې ښځې حجاب نه کوی، او داحجاب ددې ښځې پرشرافت، پاکوالې اومعصومیت باندی دلالت کوی.
دډاکټر(برایر) وینا ښه په ډانګ پیبلې ده، اوحجاب دزناکارې، اوعفتمنې ښځې ترمینځ دیوال بولی، اوهرهغه ښځه چې بې حجابه وی، هغه د(یهودیت) په اندزناکاره، بې عزته، بې حیا اوبې شرفه ده.
(24 Ibid, P, 139)

په تورات کې راغلی دی:

که چیری دیوې ښځې سرلوڅ وی، نوداددې لپاره لوی شرم او بدنامې ده، اوله همدې کبله بایدعالم (یهودی عالم)داشکمنه زناکاره ښکاره کړی. (عدد، پنځم باب، ۱۸.۱۶)
ګوری په مقدس کتاب تورات کې څومره ټینګاروربانډی شویدی، اوداد تورات ساتونکې، ځان ترقربان کوونکې اوورته چوپړکوونکې ولی سترګې ورڅخه پوټوی؟؟
هو!!! ددوی سترګې پټې دی، اودوی هیڅ شی په سترګو نه وینی، اووخپل مقدس کتاب ته دیوې وړې وربشې ارزښت لاهم نه ورکوی، عام یهودخولاپرېږدی؛ مذهبې لارښوونکې ئې هم دجهل عینکې پرسترګواویوائې ئې دین دخپلو شخصی ګټواولاسته راوړونو وسیله ئې ګرځولې ده اوبس

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (ST. TERTULLAIN)

سینټ ټرټولین

پخپله یوه مشهوره مقاله دپیغلوپرحجاب (On the Veiling of Virgins) کي لیکي:

ای ځوانو ښځو!!! په کوڅو کي حجاب کوی، تاسی باید خپل حجاب په کلیساو کي وکي، تاسی باید خپل حجاب د نا اشنا خلکو په مخکي وکي، او حتی تاسی باید حجاب د خپلو ورونړو په مخکي هم وکي، او د کاتولیکانو شرعي او سنی قانون همداسی دی، چې په کلیساکي باید حجاب وشی.

(Clara M. Henning, Cannon Law and the Battle of the sexes in Rosemary R. Ruether, ed. Religion and Sexism: Images of Woman in the Jewish and Christian Traditions, New York: Simmon and Schuster, 1974, p. 272.)

د (Albalagh Monthely International Vol. 21 No.6, June 2010) په حواله.

او سنی ارتودوکس عیسایی ښځې حجاب کوی، په ځانګړی ډول سره په کلیساکي، چې همدارنګه په یونان، په روسیه، منځنی ختیځ، او غربی اروپاکي دوی حجاب کوی، ددې لپاره تاسی کولای شی (70) صفحې کتاب چې د ( Woman in Islam Versus Woman in the Judaeo-Christian Tradition) کي وګوری، چې دا کتاب شریف عبد العظیم لیکلی دی.

ښځه په اسلام کي پوره عزت، شرف، عفت او ارزښت لری، او دا حجاب ددې لپاره یو ویاړ، د خدای جل جلاله دامرمنل، او دیواځی الله جل جلاله څخه بېره ده، نه د نر لپاره سرکښته کول لکه په عیسایت کي چې ده، او په یهودیت او عیسایت کي و ښځې ته داسی مقام ور کول شویدی چې دیوه حیوان ارزښت لاهم ور باندی ډیردی، زه دبېلګې په ډول سره یو څو لیکې را اخلم:

دیهودو او عیسایانو شرعی او مذهبي علماء د ښځې په هکله وایی:

ښځه دد رواغو او دوکې لورده، او ددوږخ پېره داره ده، د سولې (صلحې) دوښمنه ده، نو ځکه ادم جنت له لاسه ورکي.

(St. John Damascene)

په یاد باید ولرو چې دالیکنه د یوه کتاب څخه چې نوم ئې ((What Did Jesus Really Say???)) . دی رااخیستل شویدی

ښځه د شیطان یواله ده چې شیطان زموږ روحونه او ملکیتونه په ګټی. (St. Cyprian)

ښځه د شیطان دلاس سرچینه ده، او ددې ګناوې دمار د شیشنی په شان اواز کوی. (St. Anthony)

ښځه دغالبوزی په شان زهرلری، او کرکه او نفرت ئې د ښامار په شان دی. (St. Gregory)

(St. Tertullian) چې وخپلې ګرانې لورته ئې دعقبدې په اړه خبرې کولې داسی ورته وویل:

تاسو پوهیږی چې تاسې ښځې هره یوه بی بی حوا یاست،، ستاسو سره به ګناه ضروروی، غلطې به درسره مله وی، تاسی د شیطان دروازه یاست، تاسی د منع شوی ونې مهرمات کړ. تاسی دلومړی ځل لپاره الهي قانون مات کړ، تاسی په هغه چا ګناه وکړل چې په هغه شیطان هیڅ هم نشوای کولای، تاسی په اسانی سره د خدای داجوړ شوی (ادم) ویجاړ کړ.

## (ST. AUGUSTINE)

سینټ اګستاین

یووخت وخپل ملګري ته ولیکل:

د مور، ښځې او دبې بی حوا ترمینځ څه توپیر نشته، موږ باید دهرې یوې (ښځې) سره هوښیار واوسو، دا ځکه چې دوی هوس پرسته، او شهوت پرسته دی.

یهودې نارینه پخپل ورځنی دُعاکي داسی وایی:

ای د مخلوقاتو پاچا (خدایه!) پر موږ دی څومره رحمت کړیدی، چې ښځې کړی دی نه یو.

(Memories of an Orthodox youth, in Susannah Heschel, ed. On being a Jewish Feminist, New York: Schoken Books, 1983, pp. 96-97)

(Albalagh International)

دیهودو د سپېڅلی کتاب (تالمود) په اند:

ښځې نشی کولای چې تورات ولولی.

چې مطلب ئې دادی چې ښځې سپېڅلې نه دی، دلعنت جال، د ګناه پېتې ئې پرسر او د شیطان زانګو ده.

په لومړی میلادی پېړی کي دیهودو علماو داسی پریکړه وکړه:

هغه څوک چې وخپل لور ته تورات وایی، داداسی دی لکه دی چې وخپلې لور ته شهوت پرستې، او جنس بازی وایی.

(Leonard J. Swidler, Women in Judaism: the Status of Women in Formative Judaism, Metuchen, N.J: Scarecrow Press, 1976, pp.83-93)

د بایبل په عهد قدیم کي (ددوی په اند تورات) کي داسی لیکلی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کومې ښځې چې سرلوڅ وي د هغې سره کرکه ښکاره کې داځکه چې دا د لعنت په زانګو کې زانګې، او علماء باید دا شکمنه زنا کاره ښکاره کړي وعامو خلکو ته.
(اعداد، ۱۸.۱۶)

دا په عیسایت او یهودیت کې د ښځې مقام او درجه ده، نو ځکه په اروپا او امریکا کې هغه شمېر نوي مسلمانان چې پر انټرنیټ باندې خپلې لیکنې ورکوي، او اسلام قبلوي په سلو کې (۷۰) ښځې دي، دا ځکه چې دا وسنی تحریف شوي، عیسایت او یهودیت څخه نورنو خلک سترې ستومانه، د دوی عزت پکښې پایماله، اخلاق ئې فاسد، ژوندئې تریخ او زړونه ئې زنګو نیولې دي، همدا وجه ده چې هره ورځ په سلهاو خلک د اسلام په مبارک دین باندې مشرفه کیږي، او خپلې لیکنې د نړیوال جال پرمخ باندې خپروي- او دادرته ښکاره او برملا شي چې اسلام هغه رېښتنی دین دی چې د ټولنې وهرغړي ته (نراو ښځې) ته برابر حقوق ورکوي، د سوکاله ژوند ښښتنان کوي ئې، په ورځنی کارکې ورته الهی نصرت ورپه برخه کوي، دناخوالو څخه ئې ژغوري، ددې دنیا او اخرت ښې ګټې ورپه برخه کوي، اسلام د ژوند یوه بې مثله ضابطه ده، او د ژوند هر څه پکښې نغښتې دي، خلاصون یواځې او یواځې په ریښتنی دین مبین اسلام کې دی، او س مهال د نړی ټول دینونونه که الهی دینونه دی او که نورپه دوی کې هیڅ پاته نه دی، بلکې خرافات، وهمیات، پوچوالی، کوتاوالی او که په لنډو کې درته ووایم د ژوند هیڅ ارزښت او د کړاوونو حل پکښې نشته بیله اسلامه- دا ځکه چې هغه دینونه چې الهي وه د بېلګې په ډول سره (یهودیت او عیسایت) هغه ټول تحریف شوي، او اوس په لاسولیکل شوي پاڼې دي، او هغه چې الهی نه وه،لکه بودائي، زردشتي، هند مذهب او نوردا ټول د مخلوق قانون دی، چې د تناقضاتو، نواقصو او غیر انساني مفکورونه ډک دی، چې د ژوند هیڅ حل نه پکښې ترستر ګو کیږي، او اسلام یواځنی الهی دین دی چې الله جل جلاله ئې زمه اخیستې ده چې (انانحن الذکر وانا له حافظون) مو ږ دا قران نازل کړی دی او مو ږئې ساتنه کوو (له دې څخه چې څوک بدلون پکښې راولی)؛ لکه څرنګه چې اوس د ساینس او ټکنالوجی دوردی، نو په زرهاوو کتابونه پر (اسلام او ساینس) باندې هم لیکل شویدی، او په میلیونهاوو عیسایانو، یهودانو، هندوانو، کمونستانو، ملحدینو او نورو--- په اسلام کې د څېړنو په پایله کې ئې اسلام قبول کړیدی-

د حجاب په اړوند نوی ساینسي څېړنې او حقایق

د ټول بدن (۴۰– ۶۰٪) سلنه پوری تودوخه یواځې په سرکي شتون لری نو هغه څوک چې سرئې پټ وی په یخه هواکي (۵۰٪)سلنه د خپل بدن تودوخه ساتی نسبت وهغه چاته چې سرئې لوڅ وی، اسلامي او چینایی طب په یوه لیکنه (In the Hua Di Nei Jing) یعنی
(The Yellow Emperor*s Classic on Inter and Medicine)
په اوس مهال کې دا ثابته کړیده،چې د باد حرکت او خوځښت په بدن کې ډېر بدلونونه راولی، چې لوی تاوان ئې دادی چې د بدن موازنه سره ویجاړه وي درنې ،بدې اوناوړه پایلې لری، چې د روغتیا لپاره ډېر خطرناکه دی او که چیری حجاب وي نو بیادا بدې اغیزې نشته، او سني ساینس پوهانو دا هم ثابته کړیده چې عام زکام او نزله د باد له کبله پیدا کیږي، دا ځکه چې باد بدن وهی او په نتیجه کې لومړی نو رږی چې بیا کله په زکام او نزلې او کله بیا هم دا کړاوونه دایمی سی، خو که حجاب وي نو ددې ټولو مشکلاتو څخه بیا خلاصون ډېر اسانه دی-
د اعصابو یو مشهور متخصص ډاکټر .وې، جي روسین (V.G. Rocine) پخپلو څېړنو کې لیکئ:
په ګرمو سیمو کې، او په ګرم موسم کې د سرپټول د روغتیا لپاره شرط دی، دا ځکه چې د ماغزو فاسفورس په (۱۰۸) درجو کې د حرارت ویلې کیږي، او که یو څوک ولمرته لوڅ سر ګرځی په ډېره لږه موده کې د سرد حرارت درجه و (۱۰۸) درجو ته رسیږي چې په نتیجه کې و ماغزو ته سخت تاوان رسیږي، حافظه خپله جنازه کوی، د ماغ کارپریږدی، د اعصابو رګونه چوی، چې د مړګ، لېونتوب اوناوړو پایلو سبب ګرځی چې بیائې درملنه ناشونې ده او که سرپټ وی، نو بیاددې ټولو مرګانی پیښو څخه هر څوک ژغورل کیږي-
پروفیسر برنارډ جنسن (Bernard Jensen) په پخپله طبعي درملنه کې داسی لیکی:
اعصاب او ماغزه ټول په مینرالی فاسفورس پوری تړاولری، چې دا فاسفورس ډېر ژرد ګرمۍ له کبله اغیزمن کیږي او اعصاب ورسره فلجیږي- دا په هغه وخت کې چې کله سرپټ نه وی، او هوا ګرمه وی-
ډاکټر ایم- جوزف (M. Josef) وایی:
لکه څرنګه چې دنړۍ تودوخه ورځ په ورځ زیاتیږي،شین کوریزه غازونه داوزون برخه ورځ په ورځ خرابوی، او د لمر زهرجینې وړانګې ومځکې ته ځان رارسیږي، نو د ملګرو ملتو له لاری باید وهرچاته دا امروشی چې سرپټ کړی، او که امکان وی نو سر او د ملا تېردی هم تر کالو څخه په ښه رخت پټ کړی، که نه!!! نو داسی وخت به راورسیږي چې انسانان به مړه کیږي او څوک به نه په پوهیږي، خلک به لېونیان کیږي او ډاکتران به نه په پوهیږي چې دا ټول ددې زهرجینو شعاوواغیزې دي؛ نو زما مشوره داده چې ملګرې ملتونه باید پخپل منشور کې ودې ته پام وکي، او نړیواله روغتیایی سازمانونه هم باید په دې فاجعه خبرشی، او پوره ونډه پکښې واخلی تر څو د مځکې د ګُرې د مخ زیات انسانان له لاسه ورنکړو-
(International Health Center and Service G. T)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ديوه نړيوال روغتياپال(ډاکټر)

په وينا چې داروپا هرشخص (۳۰) واړه زخمونه لري چې دا د لمر دشعا وو له کبله څخه دي، چې دا واړه زخمونه اکثره وخت په سرطان بدليږي، همدغه ډاکټرپخپله يوه اوږده ليکنه کې زياتوي، چې دلمر حرارت دانسان دفاعي نظام کمزوري کوي، او ولمرته بربنډ ګرځېدل دومره خطرناک دی چې لکه يوڅوک چې په يوه بنده کوټه کې کلف کړل شي، اوبيا سګريټ ورته ولګول شي نوپه داسي حالت کې دا څومره خطرناکه عمل اوناوړه پايلې لري اوحجاب دښځولپاره په ځانګړی ډول سره يوه طبعي طبي طريقه ده، دلمرددې شعاوو له کبله په ځانګړی ډول سره پرغاړه اومخ باندی دسرطان داغونه چې کله دومره واړه داغونه وی چې په سترګونه معلوميږی رابنکاره کيږی، اوکه ئې ژردرملنه ونشي نوضروربه دمرګ سبب ګرځی، چې دداسی سرطان ډېرې پيښې موږثبت کړيدی، اوداسرطان دنارينه وپه نسبت په ښځوکې زښته ډېردی داځکه چې ښځې نسبت ونارينه وته زياتې بربنډې دی۔

دداسی سرطان يوقسم داسی دی چې اکثره ددې ښکاربنځې دی، چې لوڅې اوبربنډې ګرځی، اوياهم نازکې جامې ئې په تن وی، چې پربدن ئې ددې کوچنيوزخمونولە کبله خارش پيدا کيږی، چې دوخت په تېرېدوسره بيادازخمونه غټيږی، وينه ورڅخه بهيږی اونتيجه ورڅخه دارائحی چې درملنه ئې ناشونې شی، چې خپله ومرګ ته بنه راغلاست ويل دی، اوددې شخص د ژوندشيبې ختمی شی؛ ددې سرطان يوبل شکل داسی دی چې دغنموددانوپه بڼه سره دانې پرسر، شونډانو، غوږواوپرلاسونوباندی رابنکاره کيږی اوکله چې ددې دانوسره دلمرشعاوې نورې هم په تماس کې شی نوداوهلاکت ته نوره بلنه ده چې په برطانيه کې هرکال دداسی سرطان څخه (۲۶۰۰) کسان خپل ژوند له لاسه ورکوي، چې همدااندازې ورځ په ورځ په زياتېدودي۔

هغه ښځې چې حجاب کوي دخولې اوپزې دډېرو ناروغيو څخه د ژغولوپه جال کې دی، داناروغۍ دېيلګې په ډول سره نزله، زکام ،سارس،انفلوينزا اوداسی نورې سارې ناروغۍ دی، چې حجاب علاوه ددې څخه وېښتېان هم دهرډول ناروغيو څخه ژغوریٔ، دوېښتيانو ناروغۍ لکه درځ کول، ماتېدل، رژېدل، رنګ له لاسه ورکول، اوداسی نو---داځکه چې حجاب وېښتيان دګرد، غبار، دوړو، ګرمۍ اويخنۍ څخه ساتی، نوموړروغتياپالان وټول خلکوته داتوصيه کووچې کله دباندی وځی نوبدن موبايدپټ کړی، که نه نوډداسی افت ښکاربه شی چې علاج به ئې ناشونی وی، اوبله داچې ګرد، غبار، دوړې، اودلمرشعاوې پرمخ باندی دانې پيل کوی، او بياهغوته وده ورکوی چې په دې سره دانسان ښکلاله مينځه ځی اوداموږته ښه معلومه ده چې دحجاب کوونکوښځواودنه حجاب کوونکوښځوترمينځ توپيردمځکې اواسمان په شان شتون لری۔

دپوستکې يومختصص ډاکټرمتی، ايم نايس وايی :

دوېښتيانولپاره دلمرشعاوی، چټلې اوهغه اوبه چې کلورين پکښې زيات وی زيات مضردی، چې داپورته عوامل وېښتيان دنرموالې څخه کلکوالې ته بدلوی، ځلائې ورختموی، ښايست ئې له مينځه وړی، ماتوی ئې اودرځونه پکښې پيداکوی، اوبل داچې ويښتيان همواره نه ساتی، چې ددې ټولولپاره بهترين قدرتي اسانه درملنه حجاب دی۔

د (British General Medical) په اسنادوکې چې خپاره شوی دی، راغلی دی چې دبرطانې په هغوښځوکې چې کارکوی د(V-Daises) دوباء په شان خپريږی، په ځانګړې ډول سره دسينې سرطان مخ په وړاندی ځی، چې په همدې ناورين دکانترولوپه موخه دوی مختلف قسم ورزشونه اولوبې هم کوی، رنګارنګ کريمونه اودرمل هم ورسره استعمالوی چې داهرڅه بياهم تسلی نشی راوستلای او داټول دښځې دبدن دپوره نه پټوالې پايلې دې، دسردنه پوټولوپه صورت کې اعصابی تکان، دسردرد ،د سترګو ددید کمزورتيا اودبدن عمومي دفاعي نظام کمزوری کيږی، ددې څخه علاوه په (۵۰) کالوکي په ځانګړی ډول سره په لويديځ کې چې ښځه ديوې رقاصې په ډول سره وټولنې ته معارفی شوې ده، خپله حيااوعزت ئې غورځولی دی، پرټوله نړۍ ئې داخلاقي فساد جال غوړولې اواوس ئې عواقب ډېردردناکه، خطرناکه اوبې علاجه دی اوځينی خوئې لاداسی دی چې مهلک اونه کنترول کېدونکې دی۔

دامريکا دمشی ګن يوپروفيسر دښځوپرلباس باندی څېړنې کړېدې اوداسی ليکئ:

که چيری دښځې بدن پټ نه وی، اويائې پايجامه تربجلکوکښته نه وی نودښځې ښځينه هارمونونه کميږی، وهغوته نقصان رسيږی اوياهم داهارمونونه ډېريږی چې په نتيجه کې

(Vaginal Inflammation) يعنی دمهبل التهاب،(Backache) يعنی دملادرد، اعصابی نيمګړتياوې اوکمزورېانې ښکاره کيږی۔

دپوستکی يومتخصص ډاکټر(رونالډ شرمن، ايم-ډی) وايی :

دلمرزهرجيني شعاوې چې کله پرمخ لويږی نودمخ پوستکی ګونجې، ګونجې کوی، اوددې څخه علاوه دپوستکی دسرطان زيات امکان شته داپه ځانګړې ډول سره په ښځوکې، اوداددوی لپاره ښه مشوره دی چې مخ پټې استعمال کړي ترڅودمخ ښکلائې له مينځه ولاړه نشی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلمر د شعاوو له کبله د ښځو پوستکی تور یږی، سختیږی چې بیا د ا پوستکی دیخنی په موسم کې پرې کیږی، چوې او د ډول ډول د پوستکو د ناروغیو ښکار کیږی. البته حجاب پوستکې نرم، ساتی چې د دې ټولو ناخوالو لپاره ښه درملنه او علاج دی.

د حجاب په هکله د امریکا یوه میرمن (میرې واکر) وایي:

د شیطان دوسوسو څخه د ژغورلو په موخه حجاب یو اړین کار دی، له همدې کبله انسان د ناوړو اعمالو او افعالو څخه ژغورل کیږی، ځان ساتی، او د یوه الله جل جلاله پوره رضاء پکښې نغښتې ده؛ او د حجاب سره د کاینا تو پنځونکی خوښې مله ده. ښځه په حجاب کې خپل ځان د حیا، عفت، عزت او عصمت په جال کې بولی او همداسی ده، د ناوړو فکرو او کړوو روڅخه حجاب سپری را ګرځوی؛ خو زما مشوره د اُمت مسلمه ولو ښوته داده چې حجاب وکي، د خدای حکم پر ځای کي، دهوس، نفس او شیطان لاره خپله نکړی داځکه چې حجاب ستر ګې په پوښو کي رانغاړی، او زړهٔ هم په پوښ کې را نغاړی، او بل داچې حجاب یو زېوردی، اوزه چې هر ځای سفرکوم په ډېر اطمنان سره سفرکوم او دهیڅ اندېښنې احساس لاهم نکوم؛زه ولوی خدای جل جلاله ته دادُعاکوم چې د حجاب سکون او ښایست دی وهرې مسلمانې خورته او د اُمت مسلمه وهرې بچۍ ته ورنصیب کړی.

دامریکې یوه وتلې خبریاله ((هیلن)) د حجاب په هکله داسی وایي:

د ښځو او نرو مخلوطه ټولنه ناسم کار دی، چې کوم حالت په اروپا او امریکا کې دی داډېر شرموونکي او نه زغمونکي دی، حجاب نشته، نراو ښځې هرځای ګډ کار کوی، ګډ تعلیم کوی او ګډ ګرځئ؛ د مور او پلار احترام نشته، ځان وژنې زښته ډېرې دی، د جرمونو او فساد ونو ګراف ورځ په ورځ مخ په لوړه ځی، چې درسنیوتا وده ټکي هر ورځ همدا شیان ګرځېدلې دی. هیلن وټول امت مسلمه ته داوصیت کوی:

ای د مسلمانانو ټولنې!!!

شاباش!!! ستاسو پراخلاقو، قوانینو او بنسټونو چې نراو ښځه موبېل کړل، حجاب عملي کوی، د مشر، کشر خپلوانو، مور او پلار احترام او د شفقت پوره جال درپکښې غوړېدلی دی، او دا ښکلي اخلاق پوره درپکښې شتون لری؛ هغه جرمونه، فساد ونه او له کرکې نه ډک کارونه چې د لته په نامه متمدنه او مهذبه نړۍ کې شته په تاسو کې صفر دی، تاسی د ناخوالو څخه خلاص او هر څه ته احترام لری، واقعا هغه قانون چې ستاسو لپاره وضعه شوی دی هغه الهي قوانین او د بشریت د ټولو ستونزو حل دی. زما توصیه درته داده ای مسلمانو خویندو!!!

پخپلو مذهبي قوانینو پوره عمل وکي او که چیری ای مسلمانانو!!! تاسی هم داروپایي او امریکایي ټولونو په پله ولاړ شی، د دوی رنګ خپل کړی نو ضرور به تاسی هم د دوی په شان داخلاقي، روحي، مذهبي او اجتماعي زوال سره مخ شی، چې بیا به مو هیڅ علاج او د خلاصون لاره نه وی.

د ((سرجان بیکټ)) تبصره پر حجاب باندی:

په اسلام کي چې کوم او صول د ښځو د ژوند، استوګنې او هر څه په اړه وضع کړل شویدی د بېلګې په ډول سره حجاب، داکوم ظلم نه دی بلکې عین لطف او دلوړو اخلاقو یو لوړ نظام دی؛ اسلام تل د ښځو سره د ښه سلوک امر کړیدی، او اسلام یو اځنی الهي دین دی چې ښځې ته عفت او لطف وربښی، داکوم او صول چې اسلام د ښځو لپاره ټاکلی دي داځې پر ښځو نوره اسانې راوستې ده او دوی ځې دهرډول ناوړوکړوو روڅخه د خلاصون په جال کې نغښتئ دی، حیا، عفت، عصمت او ژوندئې دهرډول ګرد او غبار څخه ورژغورلی دی.

دا طبعي خبره ده چې ښځه په طبعي جوړښت او ظاهري شکل کي کمزورې ده نو ځکه اسلام نراو ښځې سره بیل کړیدی.

د مصر په المنار مجله کي دیوې انګریزی ښځې انګېرنه او حجاب:

دانګلستان ښځو خپل عفت او عصمت له مینځه یووړ، او ډېرې لړداسی ښځې به وي چې خپل عفت او حیائې نه ده خرڅه کړې، او یاهم د ناوړو اعمالو او خسلو په ډنډو کي غوټه نه دی؛ دوی دومره ازادانه ژوند کوی چې حیا، عفت او عصمت نه پیژنئ، او که په یوه جمله کي ئې درته را لنډه کړم، نو دوی دانسانیت د دایرې څخه وتلی دی او د حیوانیت و دایرې ته داخلې شوی دی؛ دوی اوس ترحیواناتو لاهم بدترې شوی او په لعنت دی.

زما په مسلمانو ښځو باندی ډېر قصد کیږی، چې څومره ښه ژوند لری، په حجاب کې ګرځئ، د خاوندانو تر فرمانو نو لاندی د مینې او محبت شپې اوورځی تیروی، او ښه خولاداچې د عصمت پلورولو څخه پاک دي؛ چې داډېر دویاړ ځای دی او داهم درته وایم چې دانګلستان د ښځو عفت او شرف یو ا ځی او یو ا ځی اسلام ساتلای شی او بس.

دلویدیځ فلیسوف ((هملټن)) د حجاب په هکله داسی وایی:

اسلام د ښځې په هکله هر څه واضح او روښانه ویلی دی، چې داهر څه د ښځې د عزت د ساتلو په موخه سره دی، او ښځه ئې د بې عزتی اوضرر رسولو څخه ژغورلې ده، اسلام د ښځې و ساتنې ته ځانګړې توجه کړېده؛ ځینی مفکرین په دی اند دی چې حجاب یو تنګ نظري ده، بلکې زما په عقیده دا حجاب د ښځې لپاره د غیرت، مروت او ویاړ یوه ښکلې نمونه او تحفه ده او باید دا ترویج شی، ولسونه او دولتونه په دې کې باید پوره ونډه د زړهٔ له کومی واخلی.

میرمن عایشه جوزف د حجاب په اړه لیکئ:

موږ چې په استرلیا کې د ښځو پر ستو نځو څه لیکو، څیړنې پرکوو او یائې د ښځو څخه پخپلو غوږ واورو، هغه د طلاق مسئله ده؛ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دادهلاکت، بې اعتمادۍ اوبې باورۍ جال ورځ په ورځ غوړیږي۔ حجاب هغه یوائنی شی دی چې دیوې کورنۍ اوټولنې ولونه ټینګوي اومحکم ئې ساتی اوبرعکس بې پردګې هغه شی دی چې دټولنې داټینګ تناوونه شلوی اوټولنې دابنکلې خیمه له مینځه وړی؛اوحتی خاوند اوښځه سره بې باوره کوی، په استرلیاکې په هغوځایو، سیمواوکلیوکې چې حجاب وي هلته طلاقونه لږاوڅومره چې بې حیایی، بې پردګې اوبربنډتوب په یوه سیمه کې وی هلته طلاقونه دومره بې شمېره دی چې اندازه ئې نه کیږی؛ حتی چې یوه بربنډه ښځه می ولیدل چې دائې (۶۴) میړه وو، اوداټول د طلاقو نو نتیجه، داسلام نشتوالی اودحجاب نه کول دی۔
طبعي خبره ده چې په کومه سیمه کې چې حجاب وي هلته مسلمانان میشت دی، اواسلام پرعفت اوحجاب باندی ډېر ټینګارکړیدی، اوپه عمومي ډول سره دمسلمانوکورنیوترمینځ اعتماد شته؛ طلاق هغه مهال واقع کیږی چې کله دیوه خاوند اوښځې ترمینځ دعفت اواعتمادپرده جنازه وکړی اوله مینځه ولاړه شی۔
داڅومره دبې حیایۍ، بې عزتۍ اوپوچه خبره ده چې دښځې څخه خپل بنسټیزکارونه لکه دکورکار، داولادوروزنه، کورنۍ جوړونه ،دخاوندچوپړ، دټولنې تناوونه ټینګول، تعلیم کول اوداسی نور۔۔داهرڅه ورڅخه پاته شي اودشهوت په ساحل کې ولامبی۔ددې لعنتي ژوند څخه دی ټول مسلم اُمت الله جل جلاله وساتی۔امین

<u>دګل اوملغلرې دزړۀ خواله ،دحجاب ارزښت</u>

یووخت ګل اوملغلرې ددریاب پرغاړه په یوښه شنه ځای کې دزړۀ خواله کوله، چې په دې ترڅ کې ملغلرې ورڅخه وپوښتل :
ای ګله ! ژوند دې څنګه دی؟ اوانسانان څه ارزښت درکوي؟
ګل پخپل ارزښت اوڅواک باندي وملغلرې ته داسي ځواب ورکړ :
موږدمځکې پرمخ یوډېرغټ خاندان یو، چې مهم غړی مودګلاب ګل دی چې ډېرښه بوی، زړۀ رابښکونکی رنګ اوښکلې څېره لري؛ همدارنګه دنرګس ګل، دچمبېلې ګل،دلاله ګل، اوپه میلنهاونور۔۔۔
کله چې ګل داخبرې کولې په لومړی ځل ډېرخوشحاله اوپه څېره کې ئې تازګې اودښکلاڅرک له ورایه جوتېده، خوددې خبرې په اوږدو کې ئې اوازپه لړزېدو، دمخ رنګ والوتې اوپه ډېرافسوس سره ئې خپل بیان ته په ژړغونی اوازسره داسي ادامه ورکړه :
موږوانسانانوته هیڅ ارزښت نلرودوی موږددې لپاره کري چې دوی موصرف بویوی، ښه عطرونه اوسینټونه راڅخه جوړوی، دښکلی رنګ څخه موګټه اخلې اوخپل زړونه په موږباندي تازه اوروښانه کوي، خوددې اړتیاوودپوره کېدونه وروسته موږپه کوڅو او چټلو ځایوکې غورځوئ ترڅودخاوروشومه شوبل داچې تل دخلکو دپښو پایماله یو۔۔۔۔ځکه نوو انسانانوته هیڅ ارزښت نه لرو۔
په دغه بوګنونکي حالت، ژړااوافسوس کې ئې دملغلرې څخه وپوښتل :
ته پخپل ژوند څه رڼااچوه اوخپل دژوندارزښت راته بیان که؟
ملغلرې په روښانه مخ، خندېدونکې خوله،اوخوږه ژبه سره داسي ځواب ورکړ :
زه وتاته ښه معلومه یمه چې ددریاب په پای کې په ډېرپټ ځای کې، بیاپه یوخړ، زیړ اوکلک پوښ کې په خواږه خوب ویده یمه، ددې سره سره چې دومره پټه یمه بیاهم انسانان زمادومره ارزښت لري چې زه ئې هیڅ تصورنشم کولای؛ هغه داچې دوی په شپو۔شپو ځینې وختونه په اونیو۔اونیواوکله خوپه میاشتو۔میاشتوپه ما پسې لټون کوی چې دلټون پرمهال دوی دمختلفو ستونزو اوکړاو نوسره لاس اوګرېوان دی دبېلګې په ډول: دوی کله دشارک کب سره مخ کیږي اوهغه دانسان لپاره دژوند دختمېدوګواښ دی، کله خو ددریاب ترټولو غټ ژوی (لوی شین نهنګ) ورسره مخ کیږی اوورته ګواښ دی، دسمندري ژووڅخه علاوه کله زه په داسي ځای کې یمه چې هلته ټول زهرجن وابنه شتون لري چې داټول د انسان لپاره مرګوني ګواښونه دي خوددې ټولو کړاونوسره۔سره ماموږمي اودمیندلوڅخه وروسته زمادغه ښکلاچې ماساتلې ده هرڅوک ئې نشي رانیولای، اوکه مي رانیسي نومي په تاج کې پرسرباندي ایږدي اویامي زړۀ ته نژدې پر سینې باندي دیوافتخار اودائمي ښکلاپه ډول سره ځوړنده کوي، چې زه دخپل ژونداوارزښت څخه ډېره زیاته خوښ خوشحاله یمه۔
ګل ورته وویل :
زه که دچاسره دهغه په خوښیوکې دبېلګې په ډول واده، کوزدې۔۔۔کې دچا سره غاړې په غاړې هم شم خودیوې شېبې لپاره قدرلرم او دلنډمهال وروسته بې ارزښته سم، خزان اودخاوروسره خاورې شم۔اوس ته داراته ووایه چې ای ملغلرې ! تادادومره ارزښت له کومه پیداکې؟
ملغلرې بیاپه روښانه تندي، غوړېدلې مخ اوخوښۍ سره ځواب ورکړ اوداسی ئې ورته وویل :
زماګوښه والي اوپټوالي له خلکوڅخه زماارزښت ډېرکړی دی، په ځانګړی ډول سره دازماخړ، زیړاوکلک پوښ چې زه پکښې نغښتې یمه همداپوښ بې قېمته اوبې ساري ارزښت رابښلی دی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس موږ د ګل او ملغلرې د دې خبرو څخه څه لاسته راوړ؟
ګل هغه ښځه ده چې بې پردې ګرځي، او ملغلره هغه ښځه ده چې په پرده کې ګرځي.

## دحجاب په هکله دنوي ساينسي پريکړې

۱: کچيرې دلمرشعاوې پرپوستکي په مسلسل ډول سره ولوېږي نوپوستکي توريږي.
۲: کچيرې دلمربنفشي شعاوې پرسترګو او پوستکي باندې ولوېږي نو دا پوستکي دګونجو. ګونجو سبب کيږي او پاته دی نه وی چې سترګې هم ډېرې کمزورې کيږي.
۳: دلمرشعاوې پوستکي ليکې. ليکې کوئ او ښکلائې له مينځه وړئ.
۴: کله چې ښځه حجاب نه کوئ نو دلمرزياتې شعاوې ئې وبدن ته داخليږي چې د ښځې داخلي نظام سره خرابوئ او په عادي حالت کې ئې بدلون راولی.
۵: کله چې دلمرو ړانګې په مسلسل ډول سره په ځانګړي ډول سره د مخ پرپوستکي وښبلي نوپوستکي ورسره چوی.
۶: کله چې دلمرو ړانګې پرپوستکي وښبلي نو دپوستکي نرې رګونه په پوره ډول سره اغيزمن کوئ.
۷: دلمربنفشي وړانګې دپوستکي سره په تماس کېدو سره دپوستکي دسرطان سبب ګرځئ.
۸: دلمر دوړانګو له کبله دبدن دمدافعې جهازکمزوری کيږي او حتی کله هم ختميږئ.
۹: دنويو څېړنو په پايلو کې دا جوته شويده چې دلمرو ړانګې دوېښتيانو وده کموئ او دوېښتيانو رنګ له مينځه وړئ.

(Woman and Modern Science)
(المراءة والحجاب)

## په امريکا کې دبې پردګۍ پايلې

په (۱۹۹۹) ميلادي کال کې په امريکا کې (۹۰۰۰۰۰) ښځو خپل عفت خرڅ کړ، داهغه سروې ده چې ثبت شوېده چې داسې پېښې اکثره دکالفورنيا په ايالت کې صورت نيسي.
د (سی این این) په حواله، چې قتلونه په امريکا کې زښته ډېر شويدی، او هغه دا چې دپارکو سره هره ورځ په زرهاوو لوڅې او بربنډې ښځې پرتې وي، چې دجنسي اړيکو څخه وروسته يا مړې شوی وي او هم داسې نشه وي چې ژوندئې دخطرسره مخامخ وي، اوبل دا چې خلک و دې لوڅو او بربنډو ښځوته په کتو سره ځانونه د هلاکت(ايډز) وکندې ته غورځوی، او خپل مرګ ته ښه راغلاست وايی، (سی این این) دا دعوه هم کړيده چې دا په هغو ښځو کې صورت نيسي چې لوڅې راووځی او خلک ورپسې څرک دی چې په پايلې کې خپل ځان اونورانسانان دمرګ او لعنت وکندې ته وغورځوی.

دامريکا داستخبارا تو(C.I.A)اعتراف
د (سی ای اې) ديوه خبرله مخې چې زموږډېرې ښځينه کارکونکې دعياشۍ او بربنډتوب له کبله ونورو اې جنسيوته کارکوی، اوسمه وظيفه وسرته نشي رسولای؛ موږ درست تربيت ورکړی وي، خوچې وپيسوته وګورئ نوهرڅه ورڅخه پاتې او په ساحل کې بربنډه ګرځئ، داسې خولازيات وخت پېښنه شوی ده چې موږيوه کارکونکې ويوځای ته ديوه کارلپاره لېږلې وي خود وهمه ورځ موهغه بربنډه په يوه پارک کې مړه موندلې ده، نوځکه اوس موږ زيات کوښښ کو و چې دښځو په نسبت نارينه استخدام کړو.
دامريکادروغتيامرکزيوخبرخپورکړچې پکښې اندېښنه ښودل شوېده چې په عمومي ډول سره په روغتنونوکې ښځينه نرسانې دايډزښکاردی، په ځانګړي ډول سره د (شعبه حدثيات) نرسيانې، داعصابو د وارډ نرسانې، دزړۀ د وارډ نرسانې دا په زياته اندازه سره په (ايچ ای وي) اخته دی، اوموږ ورته توصيه کړيده چې تاسې دنرسينګ د اوصولو مطابق پوره بدن پټ کړی، مګردوی لوڅې ګرځئ او هرچاته دجنسي اړيکو بلنه ورکوی، خپله بربنډتوب و دې ناولو اړيکوته ښه راغلاست دی؛ چې اوس ئې درملنه زموږ لپاره هم ناشونې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده.

(The Defect of Unveil) Vol:2 p:122
(المراءة والحجاب)
(حجاب اورجديد سائينس)
(US in the Flame)
(Discover the US )

**دحجاب په هکله دځونړ والو وتلو مېرمنو څرګندونې**

1: كريمه عمر (امريكا)
حجاب په حقيقت كې په خاموشۍ سره ددين دعوت دی، دا داسلام يوی ښكلی سمبول دی، د اسلام دا ډېر ښه حكم دی چې وښځې ته وايي چې حجاب وكه، حجاب دښځی ټول بدن ساتی د هرډول جرايمو او جراثيمو څخه؛كله چې ښځه په حجاب كې وی نو نارينه يياپه دې ښځې پسې نه ګوريځ اوتوجه ئې نه ورته كيږی؛ حجاب د مسلمانانو يوزوړ رواج نه بلكې دا فرض دی چې هره مسلمانه خورئې بايدعملی كړی.

2: هُدا خطاب (برطانيه)
په اسلام كې ترټولو لومړی زه حجاب جذب اوكش كړمه د مسلمانو ښځو دا جامه اوبرقعه دوی له نارينه وو څخه بيلې كړلې دې، چې زه ډېره ورڅخه اغيزمنه شومه.
په كفری نړۍ كې چې كله يوه ښځه له كوره راوځی نو ځان ښايسته اوبربنډ كړی ترڅوليدونكی راجلب اوو ځانته ئې متوجه كړی؛ چې دابې حيايي ديوې ټولنې لپاره يوجرم دی دا ځكه ټولنه په فساد او فتنه كې لويږی، اودا بربنډتوب ددې ټولو ناخوالو ريښه ده؛ نو ځكه كله چې مادلومړی ځل لپاره حجاب وليدی ډېرژرپه پوه شومه چې اسلام نه غواړی چې په يوه ټولنه كې فسادونه اوجرمونه وكړل شی او اسلام ځكه ښځه پټه كړېده.
دا په يقينی ډول سره درته وايم چې حجاب دا الله جل جلاله يوه بې بېلګې لورينه اونعمت دی، كله چې ما اسلام قبول كړ په شپږو مياشتو كې دحجاب سره پوره عادی شومه اوو خدای جل جلاله ته مې دشكرله كبله دوه ركعته لمونځ هم اداء كړ.

3: ناهيده مصطفی (كاناډا)

زماله دې څخه ډېربدرائی چې كله زه دباندی وځمه، نوهرمجرم، فسادي، ګناهكاره، مردارخوره، ځوان اوبوډا راته ګوريځ او زما حسن وينی، زه حجاب دلمانځه په شان فرض بولم اوارزښت ورته وركوم؛ اوكه يوه مسلمانه خوروويـنم چې بې حجابه ګرځی راګرځی نو ډېرمې ورڅخه بدكيږی، داځكه چې دكاناډا په شان يوه غربي ټولنه كې ولی ديوې مسلمانې خوربنكلا يوعيسايي، مجوسی، هندو، سكهـ اوبل غيرمسلمان اومسلمان ووينی، ددې مطلب به داوی چې دا ښځه خپل ښايست په بازاركې خرڅوئ.
حجاب زماخواهش دی اودا زما حق دی چې زه ئې كوم.

4: فايزه عبدالرشيد (كاناډا)

الحمدلله چې زه لومړی مسلمانه اوبيا حجاب كوم، دادالله جل جلاله امردی چې زماپرسراوسترګوقبول دی؛ حجاب په يقينې ډول سره دښځې لپاره ډېرارزښت لری، زماپه اند حجاب ديوې ښځې پرښو اسلامې اخلاقو ، ښه عفت اوعزت باندی دلالت كوی، اودادُعاكوم چې دأمت مسلمه ټولې لوڼې دا حجاب په پوره مېړانه سره وكې او د ځان لپاره ئې وياړوبولی.

5: بُشری (برطانيه)
داسلام دقبلولو څخه وروسته دحجا ب سره ډېره مينه لرم، چې دټولنې دټولو فسادونو اوناوړوافعالو څخه په امن كې شومه، كله چې زه اوس له كوره څخه وځم نو هيڅ انديښنه راسره نشته چې څه به راپيښ شی، زمونږ په ټولنه كې يوه مسلمانه خورپه حجاب كې ډېره ښكلې ښكاری او اوس الحمدلله دا يو فېشن ګرځېدلی دی.
6: امينه جنان (امريكا)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښځې لومړۍ دنده داده چې د ماشومانو ساتنه او مراقبت وکي، دخپل خاوند په پوره مينه سره چوپړ وکي، او بله مهمه دنده ئې داده چې ښځه بايد ضرور حجاب وکي چې داد ښځې باطنۍ ښکلا نوره هم زياتوی.

7: اسماء (سويډن)
په اسلام کي د ښځو لپاره غټ رحمت دادی چې حجاب وکي، او مسلمانې خويندې بايد ددې رحمت څخه ځان بې برخې نکړي، په اسلام کي چې کله ماد حجاب په اړه روښانه عبارت وليدی نو ما اسلام قبول کړ.
زه به ترمرګه پوری حجاب کوم او داوصيت به کوم چې که ددنيا او اخرت ښې ګڼې غواړی نو حجاب پلی کي که څه هم دولت، خاوند، ټولنه او قانون درته اجازه نه درکوی؛ زه پخپله ترنه حجاب د شهادت پرجام خوشحاله يمه او دا بايد دهرې مسلمانې خوريوا ځنی شعار شی.

8: ثُريا (امريکا)
حجاب دېوې مسلمانې ميرمنې لپاره يوازمايښت دی، او حجاب کومه اختلافی مسئله هم نه ده، بلکې په واضح ډول سره قرانکريم دحجاب امرکړيدی؛ وماته حجاب داګټه رسولې ده چې زه ئې دچاپيريال دچټلی څخه ژغورلې يمه او دوهمه ګټه ئې داده چې حجاب ددې سمبول دی چې زه مسلمانه يمه، او دااعلان کوم چې زه ديوه الله جل جلاله پوره احکام او قوانين منم.

9: ليلی ليسالوت وتمان (امريکا)
دااسلام دمبارک دين دقبلولو څخه وروسته حجاب زماډېرخوښ دی او په دې حجاب کي ټوله خلک زماډېراحترام کوی، هيڅوک بدنه راته وايی او نه هم په بازاريامارکيټ کي، الله جل جلاله ته دی حمد وی چې دالوی نعمت اسلام او حجاب ئې رانصيب کړل، چې ورسره زمادژوند ټولې غوښتنې هم جوخت بشپړې شوې.

10: عايشه يانګ (جاپان)
زه او حجاب سره جوړه يو د تل لپاره، زما تور حجاب ډېرخوښ دی داځکه چې ودې ته دچاسترګې نه وراوړی او بل داچې تور رنګ دلمروړانګې جذبوی چې دادبدن دروغتيالپاره هم غوره دی، په حجاب کي زه په مکمل ډول سره ځان پټوم، کله چې زه دنورو جاپانيانو ښځوسره ګورم نو دوی راته وايی چې ته ديوه ساعت اورګاډې دسفر او دبازاردتګ څخه وروسته راغلی او حال داچې نه لوګی دربان دی شته، نه ګرځ دربان دی شته، او نه هم دسفرڅه اثار دربان دی ښکاره کيږی داويلی؟ نو زه خپل وحجاب ته لاس وروړم، او په مسکاسره ورته ووايم چې اسلام زه ددې چټلی څخه ساتلې يمه.

11: فريحه خان دامريکا (Raock ville, Maryland)

حجاب زمالپاره يوه الهې تحفه ده، دې حجاب زه نوره والله جل جلاله ته نژدې کړې يمه، او پاته دی نه چې حجاب وماته داپيغام راکوی چې زه يوه مسلمان يمه او دالله جل جلاله او دهغه دخوږ استاذی صلی الله عليه وسلم ټول او امراونواهی پرځای کوم، چې دازمالپاره افتخاردی. لله الحمد

12: سبامحمد بيګ (University of Rutgers)

زه ۱۷ کلنه ومه چې ماحجاب پيل کړ، زه يوائې په دې کفايت نه کوم چې په ظاهرې ډول سره خپل ځان په حجاب کي پټ کړم، مګرداهم پوره هوډلرم چې په باطنې ډول سره هم حجاب وکړم، او دبدو اعمالو څخه ځان ګوښه کړم چې خپل وس مې هيڅ وخت نه دی دريغولی او هرې مسلمانې خورته لازمه ده چې دظاهرې حجاب څخه علاوه پرباطنې حجاب باندی هم ترخپل وسه پوری کاروکړم، او دواړه حجابه اړين دی.

مخ کي ماداسی فکرکاوه، چې ښځه هغه وخت ښکلې ښکارې چې کله يوه ښځه دباندی وځی او نارينه ورته وګوری او داورته ووای چې واقعاته ډېره زړه وړونکې ئې، چې دې حالت وماته هيڅ خوندنه راکاوه، او ډېرژرزه په دې پوه شومه چې زه خويقيناښکلې يمه، او الله جل جلاله په ښه بڼه سره پيدا کړې يمه نو ضرورڅه چې دنا محرمو خلکو دخوښی په خاطرځان سينګاره وم، او ټولنه په فتنه کي اچوم، او حال داچې الله جل جلاله وماته حکم کوی چې داخپل ښايست دی پټ کړه، او حجاب وکه چې داځلااوښکلادې نوره ضايع نشی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



13: کېترين بلاک (Catherine Bullock) کاناډا

زه چې کله دلومړي ځل لپاره په اسلام مشرفه شومه، نو دحجاب کول راته څه ستونزمن وو، خو الحمدلله دلوی څښتن په پوره فضل سره هرڅه راته هوسا او اوس دحجاب په کولو کې هيڅ تکليف نلرم، او ډېره خوښه يمه که څه هم دخلکو څخه مې منفي عکس العملونه واورېدل، زه وخدای جل جلاله ته په دې شکر اداء کوم چې په حجاب کې کوم عزت او حياء زما په نصيب شول دحجاب دښکلا حس هرڅوک نشي کولای، اوزما مينه دحجاب سره هغه مهال نوره هم زياته شوه چې کله په ټولنه کې راته څه بدعکس العملونه ښکاره شول.

هغو خلکو چې زما څخه کرکه کوله، وروسته ئې راڅخه معذورت وغوښتی، چې ما هم معاف کړل او مننه مې ورڅخه وکړل، او اوس چې زه کوم حيثيت او ارزښت په ټولنه کې لرم هغه ډېر زړه وړونکی دی او زه ورڅخه ظاهرا او روحا خوښه يمه.

دحجاب په کولو سره ويوې مسلمانې خورته ډېر مسئوليتونه ورپه غاړه کيږي، چې دا ډېر ښکلی او هيڅ تکليف نلري، حجاب بايد پر اخلاقو، کړووړو، ورځنی کار، ټولنيزژوند، کالو، خبرو، اعمالو او افعالو، او راشه درشه کې مهم رول ولوبوی، او اغيزې ورباندی وکړی، هره مسلمانه خور بايد دا ښکاره کړی چې زه حجاب کوم او ددې موخه داده چې زه ديوه الله جل جلاله حکم منم او ويوه الله جل جلاله ته عبادت کوم؛ حجاب ددينداری يو سمبول دی، که يوه خور په حجاب کې وی، ددې مطلب دادی چې بايد دا خورخپل زړه، دماغ ،ديد او ږغ هم په حجاب کې وساتی ترڅو اسلام په بشپړه توګه سره عملي شی.

14: نانسی جوزف (فرانسه)

زما څخه ولی څوک دحجاب کولو پوښتنه کوی؟ ما پر يوه الله جل جلاله ايمان راوړی دی، دهغه احکام منم، او ديوه الله جل جلاله امر دی چې وايی حجاب وکه او زه ئې کوم، په دې کې دپوښتنې او تشويش هيڅ سوال نشته، دمومن او مسلمان معنی داده چې دالله جل جلاله او امراو نواهی به منی، نو حجاب زه هم دلمانځه روژې، زکات او حج په شان فرض بولم؛ په نړی کې ځينی په نامه مسلمانې ښځې دحجاب تفسير پخپله کوی او تاولونه پکښې کوی، چې زه ورباندی لعنت وايم دالله جل جلاله حکم دحجاب په اړه ډېر روښانه او واضح دی، او دعلماوو هيڅ پکښې اختلاف نشته.يوه ورځ مې ديوې عيسايی ملګرې سره بحث کاوه او دائې راته وويل چې حجاب ولی کوی؟ ما ورته وويل چې ستاسو په کليساوو کې نعوذباالله ستاسو دخدای موربی بی مريمې ولی په حجاب کې ده؟ دا چپ شوه، او هيڅ ئې راته ونه ويل، او ورته و مې ويل چې حجاب بی بی مريمی خوښ کړی دی نو ځکه دا زما ډېر خوښ او زما حق دی.

15: مېرمن عايشه محمد (ډنمارک)

کله چې زه په اسلام نه وم مشرفه شوې، نو وماته دانه جوتېدله چې دا سړی او ښځه مسلمانان دی او که نه دی؟ دا ځکه چې د مسلمانانو څهرې روښانه وې، او ځلائې له ورايه معلومېده، ځينی وخت خو مې لا دا سی مسلمانې مېرمنې هم ليدلې دی چې زه به ئې وښکلا او ځلا ته حيرانه شوم، نو په لويديځ غوندی کفری نړی کې مسلمانه ښځه بايد خپله ښکلا او ځلاله نورو څخه پټه کړی، او پرې نږدی چې ديو چا منحوسه ديد ورباندی ولګيږی؛ دديموکراسی په اصولو کې دا زمونږ حق دی، زه حجاب يمه او حجاب زه يمه.

(The status of Woman in Islam)
(The Defect of Unveil)
(Islam and Us)

(Hijab Unveiling the Mystery)
(المراءة والحجاب)
(حجاب اورساينس)

(c) ketabton.com: The Digital Library



وأُمت مسلمه ته لاربنوونه

هرهغه څوک چې د عیسایت په هکله غواړي چې معلومات وځانته لاسته راوړی، نوترټولو لومړی باید دهغونابغه علماءوکتابونه مطالعه او وکتل شی چې په دې لاره کې ئې واټن طی کړی، اوډیرې لاسته راوړنې لری، دهغومناظرې، کتابونه، مجلې اونورتوکي باید ژوروکتل شی،اوبیاوروسته دهغوپه رڼاکې قدم په قدم نوره څیړنه وکړی، که چیری داسی وشوه چې کوم مشکل ئې درلودی نولطفادی ومعتبروعلمی شخصیتواواسلامي مرکزونو او سرچینوته مراجعه وکړی ترڅومشکل ئې حل کړل شی، خواوس داتهړنیټ له کبله داستونځې ډیرې اسانه اوژرحل کېدلای شي،که هغه ودارُالعلوم دیوبند هندته ولیږل شی، که هغه وکراچی دارُالعلوم ته ولیږل شی، که هغه دشیخ احمد دیدات ومرکزته چې په افریقاکې دډربن په ښارکې دااوداسی نورو.... دعیسایت په هکله هرمشکل اوسوال ډیرژرحل کېدلای شی انشآءالله.اوکه چیری یوڅوک هیڅ نشی کولای نوکولای شی چې زموږسره اړیکې ټینګې کړی ترڅوئې هرمشکل دلوی الله جل جلاله په فضل سره په ښه ورین تندی او خلاص زړه سره ورحل کړو.

لمنلیکونه:


۱:بایبل(دعیسایانومقدس کتاب)

۲: تالمود(دیهودومقدس کتاب)

Hijab Unveiling the Mystery:۳

Islam and Us:۴

The status of Woman in Islam:۵

Discover the US:۶

US in the Flame:۷

۸: حجاب اورجدید ساینس

The Defect of Unveil:۹

۱۰: المراءة والحجاب

Woman and Modern Science:۱۱

British General Medical:۱۲

International Health Center and Service G. T:۱۳

In the Hua Di Nei Jing:۱۴

Leonard J. Swidler, Women in Judaism: the Status of Women in Formative Judaism, Metuchen, N.J: Scarecrow Press, 1976, pp.83-93 :۱۵

Memories of an Orthodox youth, in Susannah Heschel, ed. On being a Jewish Feminist, New York: Schoken Books, 1983, pp. 96-97 :۱۷

What Did Jesus Really Say???:۱۸

\ Woman in Islam Versus Woman in the Judaeo-Christian Tradition:۱۹

Images of Woman in the Jewish and Christian Traditions:۲۰

Albalagh Monthely International:۲۱

On the Veiling of Virgins):۲۲

24 Ibid, P, 139:۲۳

The Jewish Woman in Rabbinic Literature):۲۴

News Week:۲۵


په اسلامي پاکه مینه

ستاسوورور

عبدالغفاجّبیر

۲۵/۳/۲۰۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



دیوې سوډانۍ مېرمنې الحیاءدسوالونو په ځواب کې
ولی تاسی مسلمانان تثلیث نه منی ؟؟؟
دلته په سوډان کې دمسلمانانو او عیسایانو ترمنځ په شخړو کې ډیرخلک له منځه ولاړل، هرځای دعیسایانو او مسلمانانو ترمنځ جګړه او خصومت په زیاتیدو دی ولی داسی کیږی؟؟؟
ولی هغه عقاید چې زموږ په الهي کتاب بایبل کې راغلی دی مسلمانان ئې نه منئ؟ دبیلګې په ډول سره تثلث، دازموږ عقیده ده چې دا بایبل الهي کتاب دی او ربښتینی دی خو بیاهم تاسی مسلمانان ئې نه منئ؟
تاسی په ټوله عیسایي نړۍ کې داسلام تبلغ کوی وبل لورته په اسلامي هیوادونو کې پرعیسایت باندی بندیزاو بیاهم تاسی ورته د کرکې او نفرت په سترګه ورته ګورئ داولی؟
لکه تاسی چې پر قرانکریم باندی ایمان لری په همدې ډول سره موږ پربایبل باندی ایمان لرو .

<u>ځوابونه:</u>

ستاسو داند ېښنو او سوالونو نه یوه نړۍ مننه، زه به کوښښ وکړم چې دیوه الله جل جلاله په پوره مرسته سره ستاسو ټولو سوالونو ته په تفصیل سره دعقل او نقل په ولونو کې ځوابونه درکړم انشاء الله.
۱: داهرڅه مشکلات چې دي ددې ټولو سرچینه تاسی عیسایان یاست په نړیوال کچه سره، که زه ستاسو وهیواد سوډان ته راشم نو په سوډان کې په لومړیو وختونو کې تاسی عیسایان ډیرلږواست، چې وروسته دیهودو او عیسایانو ددیرشو کلونو مرستو له کبله تاسی ډیراو تاسو ددوی په مرسته سره خپل شوم پلانونه پراخه کړل، یهودو خپل مشاورین درولیږل، پیسې ئې درکولی، او د مسلمانانو په خلاف تاسی دواړو هرډول د عیسایانو او یهودو شوم اولوغړن پلانونه ترتیبول او دمسلمانانو په مقابل کې او دسوډان دقانوني ولسمشر عُمرالبشیرپه مقابل کې، دمسلمانانو لپاره موبې شمیره دهلاکت کندې جوړئ کړلې نو ځکه عُمرالبشیرهم مجبوره شو ستاسو پرخلاف ئې اقدام پورته کړ، چې دادده قانوني اوبشري حق ؤ؛ داچې ټوله عیسایی نړۍ ورته په یوه خوله وه نو هغه خوب چې تاسو لیدلی ؤ (دنوی عیسایی سوډان جوړیدل) هغه خوب مو ربښتیا شو؛ لاوس هم تاسی دمسلمانانو وینې څیښئ، ستاسو یوه تګلاره داوه چې خلک به موپه پیسو رانیول او بیابه موعیسایان کول، په یقیني ډول سره دسوډان په هکله تاسی ربښتنی قضاوت وکې.
۲: همدااوس چې کوم ظلمونه په نړۍ کې جریان لری، اویایی امت مسلمه ئې دزغم پرتېغرناست دی داټول ستاسو له لاسه، همداتاسی یاست دافغانستان په لکونو بې ګناه انسانان موشهیدان کړل، لیبیا او عراق موهم دافغانستان په شان سره دخاوروسره خاوری کړل او داسی نور... همدا غاصب یهودیان دی چې ستاسو په مرسته سره هره ورځ بې ګناه اوبې وسلی فلسطینیان شهیدان کوئ او نړۍ لاچوپه اوګونګه خوله ناسته ده، تماشائې کوی ددې ټولو نړیوالو غمیزو مصدر یواځی او یواځی تاسی یاست او بس، چې بایبل هم پرتاسو ګواه دی لکه:
تاسی داخیال هیڅ کله مه کړی چې زه دامن راوړلو لپاره ودنیاته راغلی یم ، زه دامن راوړلو لپاره نه یم راغلی خودتورې لپاره، زه ددې لپاره راغلی یم چې سړی دخپل پلاره خلاف شی،لوردموره، اونږور له خوابنې او دسړی دښمنانان به دهغه دکورخلک وی. (متی ۱۰ باب: ۳۴– ۳۶)
۳: موږ چې ستاسو بایبل او یاتثلیث او دحضرت عیسی علیه السلام الوهیت نه منو موږ عقلي او نقلي دلایل لرو، داتاسی چې کوم اقرار کوئ چې بایبل الهي کتاب دی ، بلکې داالهي کتاب یاکلام نه دی ،تاسی و ایاست چې بایبل (۴۰) لیکوالانو لیکلی دی، او پاته دی نه وی چې دبایبل پرهرې برخې تقریبادلیکوال نوم نوشته دی، که موږ وګوروو انجیلونو ته چې شمیرئې څلوردی نو داانجیلونه څلورو کسانو لیکلی دی، لکه انجیل یوحنا، انجیل متی، انجیل مراقس او انجیل لوقا، یادپولس لیکونه او داسی نور...نه انجیل عیسی شته او نه هم پرکوم کتاب لیکلی دی چې داالهي کتاب دی بلکې برعکس دهرکتاب په سرکې دلیکوال نوم لیکلی دی اودځینو لیکوالانو خو هیڅ درک اوخرک هم نشته، نو دابه څنګه الهي کتابونه شی؟؟؟.
۴: داوسني عیسایت بنسټ ایښودونکې پولس دی، دتثلث، او د سیدنا حضرت عیسی علیه السلام الوهیت او دهغه دادعاشوی صلیب داهرڅه دپولس عقاید او نظریات دی،حال داچې پولس دحضرت عیسی علیه السلام په وخت کې دحضرت عیسی علیه السلام ستردښمن ؤ او ده بیادحضرت عیسی علیه السلام دصعود څخه وروسته عیسایی شو ، اودی خپله کیسه په بایبل کې کوی چې ودمشق ته پرلاره روان وم چې ناڅاپی .... او داسی نور... نو په حقیقت کې داوسني عیسایت بنسټ پولس ایښی دی نه سیدنا حضرت عیسی علیه السلام او نه هم لوی واحدلاشریک خدای جل جلاله.
پاتی دی نه وي په ځینو بایبلو کې تثلث شته او په ځینو کې دتثلث هیڅ څرک نشته.
که شته هغه په څو ډولونو سره دی دبیلګې په ډول سره ئې ملاحظه کړی:

For there are three that bear record in heaven, the Father, the Word, and the Holly Ghost: and these three are one. (1 john,5 : 7)

ژباړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دري دي چې ګواهي ورکوي په اسمان کې پلار، ځوی او روح القدوس او دا دری سره یو دی. (لومړی لیک دیوحنا ۵: ۷-۹)
دا په (King James Version) بایبل کې او په اردو بایبل (کلام مقدس، کاتولیک بایبل کمیشن پاکستان ۲۰۱۱
) کې شته او په Holly Bile Revised Standard 1952) Version) کې بیا دا د تثلیث ایات نشته، او که وعربي اردو او پښتو بایبلو ته راشو نو په هغو کې هم دا تثلیث نشته

په عربی بایبل، پښتو بایبل او اردو بایبلو کې هم دا د یوحنا ایات ۷ نشته او واتم ایات ته ئې د ۷ شماره ورکړیده یعنی تثلیث نشته. لاندی بایبلو ته وګورئ:

الکتاب المقدس، جمعیة الکتاب المقدس فی لبنان- ۱۹۹۳ الطبعة الثلاثون

انجیل شریف، اول جیبی چاپ ۱۹۹۶ میلادی، بایبل سوسایټی پاکستان

کتاب مقدس، پاکستان بایبل سوسایټی انارکلی لاهور ۲۰۱۱

انجیل مقدس، پاکستان بایبل سوسایټی انارکلی لاهور- ۵۴۰۰۰، ۲۰۰۹

نو دا به څنګه موږ و منو چې تاسی عیسایان ئې ځینی منی او ځینی ئې نه منی او که تثلیث په حقیقت کې وای نو باید په هر بایبل کې موجوده وای، له دې څخه په ښکاره جوتیږئ چې دا یوه افسانه او تخیل دی او بس.

**۵:** هغه بایبل چې په انګلیسي ژبه کې ورته سور خط لرونکي بایبل وایی (Red Letter Bible) دا هغه بایبل دی د عیسایی نړۍ په آند دحضرت عیسی علیه السلام کلام په دې بایبل کې په سره خط باندی لیکل شوی دی او نور بایبل په تور خط باندی لیکل شوی دی، په دې بایبل کې دحضرت عیسی علیه کلام تر ۱۰٪ سلنه زیات نه دی، که موږ فرض کړو چې دا لس سلنه دحضرت عیسی علیه السلام ربښتنی کلام دی نو ۹۰٪ سلنه بیا نه دحضرت عیسی علیه السلام کلام نه دی او نه هم دخدای کلام دی دا ئې یو ښکاره او ساده ثبوت، نو داسی کتاب موږ څنګه الهي کتاب وبولو؟؟؟

که چې یو کتاب الهي کتاب نه وي نو هغه څه چې په داسی مشکوک کتاب کې وي هغه هم ترپوښتنې لاندي راځي، نو موږ څنګه ستاسو تثلیث و منو چې کتاب مو ټول له مشکوک دی نو تثلث مو هم د منلو وړ نه دی.

دتثلیث ریښه او حقیقت

عیسایي نړۍ دتثلیث الهام دیونان دفلاسفه وا دنورو مشرکانو څخه اخیستی دی، چې پر دې باندی پخپله عیسایی کتابونه ګواه دي،لکه دبایبل دایرة المعارف، او دبریتانیکا دایرة المعارف او داسی نور.. دتثلیث او دحضرت عیسی علیه السلام دالوهیت نظریه دلومړی ځل لپاره پولس(ساو، شاول) وړاندي کړل او بیا وروسته دعیسایت یوه عقیده وګرځېدل.

لومړی سړی چې په نصرانیت کې ئې دتثلیث عقیده دودکړه،پولس (پاول، ساول،شاول) ؤ ده دعیسی علیه السلام دالوهیت او دروح القدوس دالوهیت اعلان وکړ، دتثلیث عقیده په ۳۲۵ میلادي کال دنیقیه په غونډه کی تائید شوه، دیونان فلیسوف افلاطون نظریاتو دنصرانیت په دین باندی ښکاره اغیزه درلوده، ده ویلئ دي چې نړۍ په چلښت او تدبیر کي له دریو شیزونو څخه اغیزمنه کیږي:

**۱:** ازلي لومړی پیدا کونکی.

**۲:** هغه عقل چې له هغه څخه را وتلی دي.

**۳:** هغه روح چې دټولو ارواحو مصدر او چینه ده.

ده پخپله په دغې عقیدې باندی دتثلیث بنسټ ایښي دي، ځکه ازلي پیدا کونکی خدای جل جلاله، عقل ئې زوی حضرت عیسی علیه السلام (ددوی په نزد) او روح ئې روح القدوس حضرت جبرائیل علیه السلام دي؛ په عیسایانو کی داسی ډلې هم شته چې دخدای په توحید قایل دي او عیسی علیه السلام دالله جل جلاله بنده او پیغمبر ګڼي د(برناباس) یا برنابا انجیل چې دعیسویانو په نزد یو له پنځو منل شوي انجیلونو (متی، لوقا، یوحنا، مراقس) څخه یو دي خدای یو او داسمانو او ځمکو خالق ئې ګڼي.

په هندو مذهب کي هم دتثلیث اصطلاح شته،ددې دین پیروان باور لري چې خدای درې نومونه لري(وشنو) ساتونکی،(سیفا) یعنی وژونکی او (براهما) یعنی پیدا کونکی؛

دتثلیث عقیده دحضرت عیسی علیه السلام څخه ۱۰۰۰ کاله مخکی موجوده وه، کانسټنټاین (Constantine) په ۳۲۵ میلادي کال کی چې دروم امپراطور ؤ دنقیه غونډه (Council of Nicaea) جوړه کړه، په دغه غونډه کي دحضرت عیسی علیه السلام الوهیت او تثلیث تائید او له خلکو څخه ئې رایه واخیستل په هم دغه ورځ باندی دا دعیسایت یوه عقیده او برخه ئې وګرځیدل.

پخپله کانسټنټاین پخپله په سول انویکټس (Sol Invictus) باندی عقیده درلوده دا دلمر خدای ؤ یا په لنډو کی ده په مترایزم (Mithraism) باندی باور ؤ ده دیهو دو مقدسه ورځ شنبه و یکشنبې ته واړول چی دا دلمر خدای دپیدا ایښت مقدسه ورځ وه، همداسی دحضرت عیسی

---

[17] آریانا دایرة المعارف، دوهم ټوک، مخ: ۶۲۵- ۶۲۶، چاپ د افغانستان دعلوم و اکاډمي ددایرة المعارف دمرکز ریاست ۲۰۰۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



علیه السلام په هکله چې کومه عقیده دوی لري همداسي بې شمېره دلمرخدایان داسي تیرشویدي چې حضرت عیسی علیه السلام هره نیټه، دده درواغجن صلیب، دده بیا راژوندی کیدل ددوی په آند، وخلکوته خلاصون ورکول ددوی په آند او داسي نور... داهرڅه دحضرت عیسی علیه السلام څخه ۱۰۰۰ کاله مخکی شتون درلودی، تاسی ګران لوستونکی کولای شی چې داهرڅه زماپه راتلونکی کتاب ((دعیسایت حقیقت)) کی ولولئ په پوره تفصیل سره انشآء الله.

دصلیب رینښه او حقیقت

همدغه دروم امپراطور کانسټنټاین په ۳۱۲ میلادي کال کی یو سیال درلودي دمیکسنشیس (Maxentius) په نامه سره داچې په دغه وخت کی دروم په امپراطوری کی عیسایان ډیروه نودهغو دجلب او جذب او دهغو دلاسته راوړلو په خاطریې ځینی کارونه وکړه، ده په ۳۱۲ میلادي کال کی خوب لیدی چې یوچاورته وویل چې دصلیب په نښان باندی وخپل سیال ته ماته ورکه هغه نښان ئې ورته ښکاره کړه، چې له هغې ورځې څخه صلیب هم دعیسایانو مقدس سمبول شو.

ده وهغه خپل سیال ته ماته ورکړه او صلیب دفوځ رسمي نښان شو، په عیسایانو کی ئې په دې خپل عقاید ګډ کړل چې دهغوزړونه ئې ولاسته راوړل دهغوو ژل مطلق منع اعلان شوه که عیسایی هرڅه کړی وای امتیازونه ئې ورکړل او داسی نور.....؛

<u>ایابایبل دخدای کتاب دی؟؟؟</u>

بلکې بایبل دخدای کلام نه دی، داځکه چې:

۱: بایبل ستاسو په آند (۵۰۰۰۰) پنځوس زره غلطیانې لري.

دا غلطیانې او نیمګړتیاوې لومړی ځل د ۱۹۵۷ د سپټمبر پر اتمه د «ویښتیا» په نوم د یوې عیسوی مجلې څخه را وتوکېدې، او بیا د ۱۹۷۴ کال د ډسمبر پر دیرشمه د «ټایمز» معتبری مجلې د «انجیل څومره ربښتیانی دی؟

» تر سرلیک لاندی بربنډ کړل. خو نن د انجیل د متن دا ټکرونه ،اختلافونه ، تحریفونه او تناقضونه آن تر پنځوس زرو هم اوښتی دي چې او یک(Awake) ویښتیا نومیږي چې د ۱۹۵۷ میلادی کال د سیپټمبر د ۸ نېټې په ګڼه کې داسی لیکي:

عیسایی نړۍ منی چې په اوسني بایبل کې (۵۰۰۰۰) پنځوس زره غلطیانې دي؛ پاته دی نه وی چې دا اخبار پرنیټ باندی شتون لری که ئې غوښتنه وکړی نوزه به درولیږم،. دبایبل هره پاڼه چې یو عاقل انسان ګوری دا به ضرورووایي چې دا دخدای کتاب او کلام نه دی.

ددې څخه علاوه ډاکټرمل چې کله دبایبل پرنوې عهدنامې باندی څېړنه وکړل نوویې ویل چې په دې کتاب کې (۳۰۰۰۰) دېرش زره اختلافات شته او همدارنګه ډاکټرګریس بیک چې دبایبل د ۳۵۵ نسخومطالعه وکړل او وروسته ئې وویل چې په دې نسخو کې (۵۰۰۰۰۰) پنځوس لکه اختلافات شته. او که چیری دبایبل ۲۴۰۰۰ نسخې سره یوځای شي نو څومره اختلافات او غلطیانې به پکښې وي؟ چې تر شمار وځی او کېدای سی چې نړیوال ریاضي پوه انسټاین که ژوندی وای نو ددې خرافاتو، تحریفاتو، ټکرونو او غلطیانو شمېرلو به ستړی او ستومانه کړی وای؛ او دا هیڅوک نشی منلای چې دا دې دخدای کتاب شی

۲: په بایبل کې تر ۱۰۰ زیات ټکرونه شتون لری.

دبیلګی په ډول سره ۱۰ ټکرونه بیانوم نورټول تاسی زما په کتاب (ټکرونه غلطیانی او فحش په بایبل کي) لوستلای شی او هغه لس ټکرونه دادی:

ټکر #۱:

داود چاوهڅاوه چې دا سرائیلو جنګیالی وشمیری؟

ا: خدای دا کاروکې-(دوهم سمئول،۲۴ باب، ۱ ایات)

ب: شیطان دا کاروکې-(لومړی تواریخ، ۲۱ :۱)

دنړی په هیڅ مذهب کي داسی نه ده چې خدای او شیطان دی سره یو شی.

ټکر #۲:

دجنګ لپاره څومره دا سرائیلو جنګلیالی پیدا شول؟

ا: ۸۰۰۰۰۰-(دوهم سمئویل ۲۴ :۹)

ب: ۱۱۰۰۰۰۰-(لومړی تواریخ ۲۱ :۵)

دا یوازې دصفرغلطیانه ده او نه ئې داسی څه معمولی توپیر شته بلکې فرق ئې لکه دځمکې او اسمان.

ټکر #۳:

په یهوداه کي څوجنګیالی پیدا شول؟

---

[18] Encyclopedia of Biblica
Encyclopedia of Bretaneca

(c) ketabton.com: The Digital Library



ا: ۵۰۰۰۰۰۔(دوهم سموئیل ۲۴: ۹)
ب: ۴۷۰۰۰۰۔(لومړی تواریخ ۲۱: ۵)
ټکر#۴:
خدای خپل پیغمبر داود ته د ټلو لپاره پر هغه څو کاله قحطی راوستله؟
ا: ۷ کاله۔(دوهم سموئیل ۲۴: ۱۳)
ب: ۳ کاله۔(لومړی تواریخ ۲۱: ۱۲)
ټکر#۵:
اخزیا د څو کالو وو چې د ده سلطنت پر بیت المقدس پیل شو؟
ا: د ۲۲ کالو وو۔(دوهم پاچایان ۸: ۲۶)
ب: د ۴۲ کالو وو۔(دوهم تواریخ ۲۲: ۲)
ټکر#۶:
یهویاکین د څو کالو وو چې د بیت المقدس پاچا شو؟
ا: د ۱۸ کالو وو۔(دوهم سلاطین ۲۴: ۸)
ب: د ۸ کالو وو۔(دوهم تواریخ ۳۶: ۹)
که ته وماته وو ایی چې داد کاتب غلطیاده او یو توری ور څخه پاته شوی او یا هم زیات شوی دی، نو زه در ته وایم چې په هغه وخت کې عدد په توره لیکل کېدل دی نه لکه(اتلس او اته)، او پاته دی نه وی چې په هغه وخت کې هندسي عدد نه وو.
ټکر#۷:
داود چې خپله نېزه پورته کړله څو خلک ئې مړه کړل؟
ا: ۸۰۰ خلک ئې مړه کړل۔(دوهم سموئیل ۲۳: ۸)
ب: ۳۰۰ خلک ئې مړه کړل۔(لومړی تواریخ ۱۱: ۱۱)
ټکر#۸:
داود کله د عهد صندوق و بیت المقدس ته راوړی د فلسطینیانو تر ماتې مخکې که وروسته؟
ا: وروسته۔(دوهم سموئیل ۵ او ۶)
ب: مخکې۔(لومړی تواریخ ۱۳ او ۱۴)
ټکر#۹:
څو پاکې جوړې حیوانات حضرت نوح علیه سلام د خدای په امر سره وکښتۍ ته ورواچول؟
ا: ۲ جوړې۔(پیدایښت ۶: ۱۹، ۲۰)
ب: ۷ جوړې۔(پیدایښت ۷: ۲)
ټکر #۱۰:
عیسی و بیت المقدس ته پر څو حیواناتو ولاړی؟
ا: پر یوه۔ بهاڼ۔(مراقس ۱۱: ۷، لوقا ۱۹: ۳۵)
نو هغوی عیسی ته بهاڼ راوستی او خپلې جامې ئې پرې واچولې او هغه پر سپور شو۔
ب: پر دوو حیواناتو۔ بهاڼ او خر۔(متی ۲۱: ۷)
دوی و عیسی ته بهاڼ او خر راوستی او خپلې قباګانې ئې پر کښېښودلې او دی پر سپور شو۔

<u>۳: په بایبل کې فحشات د بیلګې په ډول سره:</u>

- بیا سمسون و غزې ته ولاړی، او هلته ده ویو فاحشې ښځې ته وکتل او د هغې سره د ننه ولاړی( هم بستری ئې ورسره وکړل) .( قضاة ۱۵: ۱)
- هغه زنا وکړل او د زنا له کبله ئې دا ملک ناپاک کړ او هغه د ډبرې او لرګې سره زنا وکړل. (ارمیاه ۳ باب: ۹)
- هغوی په اسرائیلو کې بد کاری وکړل او د خپلو همسایه ګانو د ښځو سره یې زنا وکړل. (ارمیاه ۲۹ باب: ۲۳)
- هغې زنا کاری د خپلې چهرې څخه او بد کارې د خپلو تیو د منځ څخه لیری کړل، زه هغه ټوله نه لوڅوم او داسی نه کوم لکه د پیدایښت په ورځ چې لوڅه وه. (هوشیع ۲ باب: ۲)

او داسی نور...

(c) ketabton.com: The Digital Library



• په بایبل کې دزناتوری (۲۳) ځله راغلی دی، دزناکارتوری (۱۱) ځله راغلی دی، دزناکاری توری (۸) ځلی راغلی دی، دزناکارانو توری (۴) ځلی راغلی دی، لمن لیکونه ئې دبیلګې په ډول سره:
پیدایښت ۳۸: ۲۴، خروج ۲۰: ۱۴، احبار ۲۰: ۵، استثناء ۲۲: ۲۲، قضات ۲: ۱۷، قضات ۱۵: ۱، امثال ۶: ۳۲ اوداسی نور...
د[اهم بستری اوهم اغوشی] (جماع) توری په بایبل کې (۱۵) ځلی راغلی دی، دتیوبیان په بایبل کې (۲۳) ځلی راغلی دی.
که تاسی پو ښتنه وکې چې په قرانکریم کې خوهم دزناتوری اوبحث راغلی دی، نوزه به درته ووایم چې په قران کریم دزناکیسې نه بلکې حکم راغلی دی،
په قران عزیزکې راځئ:
وَلَا تَقْرَبُواْ ٱلزِّنَىٰٓ إِنَّهُۥ كَانَ فَـٰحِشَةً وَسَآءَ سَبِيلًا ﴿٣٢﴾ .(الاسراء : ۳۲)
ژباړه: اوزناته مه نژدې کیږی، بې شکه چې (زنا) بده کړنه اوبده لاره ده.
یالکه چې قران عزیزدزناکارولپاره حدتاکلی دی اوسزاء ئې ورته بیان کړیده اووایی:
ٱلزَّانِيَةُ وَٱلزَّانِى فَٱجْلِدُواْ كُلَّ وَٰحِدٍ مِّنْهُمَا مِا۟ئَةَ جَلْدَةٍ ۖ وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ فِى دِينِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ ۖ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٌ مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٢﴾ (النور: ۲)
ژباړه: که تاسی پرالله اوداخرت پروځ ایمان لری نوزناکاره (ښځه) اوزناکاره (سړی) له دواړونه هریوسل دُرې ووهئ دالله ددین په اړه دی په تاسی کې پردوی باندی دزړه سوي احساس نه پاریږی او هغوته دسزا ورکولوپه وخت کښې دی دمؤمنانویوه ډله موجوده وي.
په قرانکریم کې په څومری ښه انداز سره دزناڅخه منعه شوی ده، اوپه څومری شدت سره ئې دسزاء حدتاکل شوی دی، اوداهم پکښی بیان شویده چې یوه مؤمنان دی دعبرت لپاره موجودوي؛ سبحان الله.
او زناپه ډیرشدت سره منعه شوې ده، په قرانکریم کې داسی څه نشته لکه په بایبل کې چې حکم نشته اویوائحی دزناکیسې دی اووزناته تشویق دی، فلانکې یوه فاحشه پیداکړل اوجماع ئې ورسره وکړل، اوداسی نور..
په بایبل کې داسی فحش بحثونه شته چې انسانیت خولاپریږده ترحیوانیت لاهم ځودرجې لوړی دی، دبیلګې په ډول سره حزقیل ۲۳ باب، چې زه یې دشرم له کبله نشم ذکرکولای، اوپیل ئې داسی دی:
دوې ښځې دیوې مورلوڼې وي، هغوی په مصرکې زناکوله، اوپه ځوانی کې ئې سره زناکوله او......
له همدې کبله داسلام دوهم خلیفه امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه اصحاب کرام داهل کتابیه ښځوسره دنکاح څخه منعه وکړل اوهغه داسی:
دکتابیه ښځوسره نکاح کول وامت مسلمه ته په تاریخ کې تاوانونه هم رسولی دی، اوو امت ته ئې نقصانانو رسولی دی، امیرالمؤمنین حضرت عمررضی الله عنه داحس کړه، اومسلمانان حکمرانان یې په خصوصی ډول سره داهل کتابو سره نکاح کول منع کړل، دحضرت شقیق بن سلمه رضی الله عنه څخه روایت دی چې حضرت حذیفه بن یمان رضی الله عنه کله چې ومداین ته ورسیدی نو هلته ئې دیوی یهودی انجلۍ سره نکاح وکړه حضرت عمرفاروق رضی الله عنه چې کله خبرشونوخبریې ورکې نوورته ئې ولیکل چې طلاق ورکړه، حضرت حذیفه رضی الله عنه ورته ولیکل چې ولی دازمالپاره حرامه ده؟؟؟ امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه ورته ولیکل چې حرامه درته نه وایم لیکن ددی خلکوپه ښځوکې عموما پاکدامنې اوعفت نشته، په دی وجه بیریږم چې ددی خلکوپه ذریعه ستاسو کورنی کښې فحاشی اوبدکاری داخله نشی.
دحضرت عمررضی الله عنه دوهم لیک دادی:
**اعزم علیک ان لاتضع کتابی حتی تخلی سبیلها فانی اخاف ان یقتدیک المسلمون فیختاروانسآء اهل الذمة لجمالهن وکفی بذالک فتنة لنسآء المسلمین (کتاب الآثار ص ۱۵۶، بحواله معارف القران)**
ژباړه: زه وتاته قسم درکوم چې زمادې لیک نه مخکې چې پخپل لاس کې ئې کښیږدی نو وهغې (ښځې) ته طلاق ورکړه، ازاده یې کړه ځکه چې زماویره ده چې نورمسلمانان به هم ستاڅخه عبرت واخلی اودذمیانو کتابیانو ښځو لره به ددوی دښکلاپه وجه سره په مسلمانو ښځوباندی ترجیح ورکړی نودمسلمانانو ښځودپاره به ددې نه لوی مصیبت بل څه وی.
(ابوبکرجصاص رازی، احکام القرآن ج۱)

۴: په بایبل کې بی معنا، غیرمعقولی، دعقله لیری اوپوچې خبری بی شماره دي.
دبیلګې په ډول سره:
• خراوبهاڼ ئې راوستل هغوی خپلی قباګانی پرواچولی اوعیسی پری سپورشو. (متی ۲۱: ۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس که یوڅوک ورته وګوري نو دابه ورته جوته شي چې څنګه امکان لري چې یوسړی دې پردووحیواناتو باندې سپورشو، داله عقله ځخه لیری خبره ده.

• اوپه هغه ورځ خدای دخریلوپه ماشین چې دفرات دسند دهغه خوا څخه ئې په کرا یه راوړی ؤ دا سُوردپاچا دسراوپښوویښتیان ئې وخریل اوحتی ژره ئې هم ورکوچنی کړل. (یسعیا۷: ۲۰)

اوس تاسی دڅه وخت لپاره پکښی فکروکې، لومړی خدای داسی کمزوری دی چې دسرتراشی ماشین ئې دسیند دبلی غاړی څخه په کرا یه راوړ، اوبیایې دپاچاسراوپښې وروخریلې اوژره ئې هم ور کوچنی کړل یعنی که په لنډوکې داسره راټول کړونوبایبل دخدای څخه سرتراش جوړکړاوهغه هم کمزوری چې هرڅه نلری اوپه کرایه یې راوړی په دې ایاتونوکې حضرت عیسی علیه السلام نه نبئ بلکې لوی لایزال واحد اولاشریک خدای جل جلاله نبئ. (نعوذبالله من ذالک)

• دده دخدای دسږموڅخه دود راووتی اودخولې څخه اورچې ددبروسکاره وربا ندی بلیدل (۲ سموئیل ۲۲: ۹)

اوس که ودې ته ځیرشونو دخدای پاک څخه ئې څه شی جوړکړیدی، نعوذ باالله من ذالک، څومری پوچه، مالایعنی اوبې هوده خبره ده.

• اوهغه (شمشون) دخره دزامې تازه هډوکې پیداکې اوپخپل لاس کې ئې واخیستی اوزرکسان ئې په وواهل اوشمشون وویل چې مادخره په دزامی په هډوکې سره ۱۰۰۰ کسان فناه کړل. (قضات، ۱۵: ۱۵)

نواوس به قضاوت کووچې یوسړی راولاړیږئ اودخره دزامی په هډوکې سره زرکسان وهی اوټوله وژنی داڅنګه عقل منی؟؟؟ که دازرکسان یوائې پرده باندی ناړی توکړی نودی به له منځه ولاړشی خودازرکسان وده ته ولاړوه اوده ټول په هډوکې وواهل اوده مړه کړل، څومره بې اساسه اوپوچه خبره؟؟!!

• سمسون (شمشون) ۳۰۰ ګیدړی ونیولی، اوشمعې ئې راوړلی اوددوی لکۍ ئې سره وتړلی اوددولکیو په منځ کې ئې یوه شمعه ورکښیښودل اودوی ئې دفلسطینوپه کښتونوکې خوشی کړی اودفلسطینیانو کښت کروندی باغونه اودزیتون ونې ئې ټوله وروسوځلې. (قضاة ۱۵: ۴–۵)

اوس که یوڅوک دعقل په سترګوورته وګورئ نوپریکړه به عقل وکړی، چې یوځل ۳۰۰ ګیدړی پیداکول، اودټولولکیانی سره تړل اوبیاشمعه پکښی ایښودل داڅنګه امکان لری؟؟؟

داخوئې یوڅوبیلګې وی اوهمداسی په زرهاووپوچې، بیهوده اوبې ثمره ویناوې ډیرې پکښې شته.

۵: بایبل ستاسوپه آند (۴۰) لیکوالانولیکلی دی. نوځکه دخدای کتاب نه دی. نوهرڅه چې پکښې لیکلی دي هغه هم دمنلووړنه دي.

۶: بایبل داوسنی ساینس په تله کې ټوله غلط دی.

دبیلګې په ډول سره:

– دبایبل په لومړی کتاب پیدا ایښت په لومړی باب د (۳– ۵) ایات پوری راغلی دی چې رڼاپه لومړی ورځ باندی پیداشوه، په همدغه پیدا ایښت لومړی باب د (۱۹.۱۴) ایات پوری بیاراغلی دی ستوری اولمرپه څلورمه ورځ باندی پیداشول، نواوس تاسی وګوری چې ستوری اولمرنه وی نورڼاد کومه ځایه څخه وه چې داپه ښکاره ډول سره دساینس اوعقل سره مخالفت دی.

– دبایبل په پیدا ایښت لومړی باب د (۱۳.۹) ایاته پوری وایی چې مځکه په دریمه ورځ باندی پیداشوه، دپیدا ایښت په لومړی باب د (۱۴. ۱۹) ایات پوری وایی چې لمراوسپوږمي په څلورمه ورځ باندی پیداشول، اواوسنی ساینس وموږته وایی چې مځکه هم دنوروستوریوه برخه ده لکه لمر، اونوربرخه ده نوداامکان نلری چې مځکه دی برخه شی اومخکې دی ورڅخه پیداشی.

– دبایبل په پیدا ایښت لومړی باب په (۱۳.۱۱) پوری راغلی دی چې ټولې ونې ، وابنه اوبوټی په دریمه ورځ باندی پیداشول اوپه پیدا ایښت لومړی باب کې (۱۹.۱۴) کې راغلی دی چې لمرپه څلورمه ورځ باندی پیداشو ، داڅنګه امکان لری چې وابنه اونباتات دی بیله دڼاڅخه وده وکړی داغیرساینسي منطق اوغلطه ده.

دوبااوجذام دمرض څخه دخلاصون لپاره یوه طریقه په بایبل کې راغلی ده اوپه احبار (۱۴ باب، ۴۹. ۵۳) ایات پوری وایی چې ددی ناروغی څخه دخلاصون لپاره دوی چوغکې راواخلی یوه چوغکه په خاورین لوښی په روانو اوبوکې حلاله کې دغه ژوندی چوغکه اودکورلرګی ۷ ځلی په دې اوبوکې ډوب کې چې په وینوولړل شی اوکورپه ولړی نوکورپاک شو ، دادنوی ساینس سره پوره ټکرلری داځکه چې وینه دټولومیکروبونه اوجراثیمو کور دی په وینه هرډول ناروغیانې لکه ، تورژړی، ایډز اوپه زرګونونوری ناروغیانی شتون لری نوڅنګه کیدلای شی چې داچټله وینه دی دکورلپاره درملنه شی داغلطه ده.

– پیدا ایښت لومړی باب، ۲۹ ایات کې راغلی دی چې خدای وویل وګورئ زه هرتخم لرونی نبات چې پرمځکه دی یاټولی ونې چې تخم لری وتاسوته یې درکوم اوستاسوډوډی ده، په انګلسی بایبل کې داسی راغلی دی ، داستاسو لپاره غوښی دی، اوټولومرغانواوپرمځکه وټولوځارویوته شنه نباتات دخوراک لپاره ورکوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس په دې کي خو غلطیانې راغلي لومړی دا چې ډیر داسې نباتات شته چې زهرجن دی او هر ډول انسان او حیوان ته هلاک دی، نو خدای دا پریکړه ولی کوی؟ بل دا چې ټول مرغان او حیوانان خو وابنه نه خوری ځینی یی غوښی هم خوری نو خدای پریکړه څنګه کوی، دا فیصله هم د ساینس له لوری غلطه شوه.

-په زبور باب ۷۵ ایات ۳ کي راغلی دی چې ځمکه ستنې لری.

اوس د ځمکي ستنی چیری دی او چالیدلی دی، په اوسني ساینس کي دا هیڅ ارزښت نلری، دا په هغه وخت کي دا زبور یی لیکئ د هغه لیکوال دا عقیده او باور وو چې د ځمکه دیوه شی په شان پر ستنو ولاړه ده او دی په دی نه و خبرچې وروسته به دا هر څه په ساینس کي غلط شی.

په بایبل کي همداسی په زرها ساینسي غلطیانې شتون لری چې ډاکتر موریس بوکائی هم یو کتاب وربا ندی لیکلی دی د (بایبل ساینس او قران) ډیر معلومات یی پکښی راټول کړی دی زه په همدی پنځو بیلګو باندی کفایت کوم.

۷: په بایبل کي اخلاق په صفر کي ضرب دی. لکه چې فحش بحثونه، زناوې، به معنا بحثونه او داسی نور...

۸: بایبل )۲۴۰۰۰) نسخې لیکل شوی دی خو دوې نسخې ئې یو شانته نه دی.

۹: همدا اوس چې تاسی کوم بایبلونه د کاتولیکانو او یا هم د پرتستانو لری دا دواړه سره ښکاره توپیر لری، مطلب دا چې د کاتولیکانو بایبل ۷۳ کتابونه دی او د پروتستانو بایبل ۶۶ کتابونه لری، یعنی پروتستان د کاتولیکانو ۷ کتابونه نه منی او دوی وایی چې دا له ځانه څخه لیکل شوی کتابونه دی او هیڅ اعتبار نلری او الهي کتابونه نه دی.

۱۰: په بایبل کي ۱۰ ځایه د محرماتو سره د زنا بیان شویدی دا څنګه د الله کتاب دی.

د بیلګې په ډول سره موږ یې څو بیلګې ذکر کوو:

- په تاسو کي زناوی شته، او داسی زناوې په تاسی کي شته چې په غیرقومونو کي نشته یعنی دیوه سړی زنا د خپل د پلار د ښځې سره. (اکرنتیون ۱:۵)
- او کله چې اسرائیل هغه ځمکي ته تلی .... او د خپل پلار د مدخولی (مور) بلهه سره هم بستری و کړه. (پیدا ایښت ۳۵: ۲۲)
- او عمران د خپل پلار خور (یوکابد) خپله ماینه کړل او دده د هغه څخه دوه زامن پیدا شول. (خروج ۱۹: ۲۰)

یادونه: د حضرت لوط علیه السلام په هکله ئې هم داسی فحش بحث را اخیستی دی په پیدا ایښت ۱۹: ۳۰-۳۶) پوری او زه دا جرأت نشم کولای چې بیان ئې کړم، د حضرت لوط علیه السلام د کیسی لاندی په پای لیک کي ورته لیکلی دی:

((په مقدس کلام کي د دې بیان شوی دی لیکن د دې تصدیق نشی کیدلای. کلام مقدس پیدا ایښت ۱۹ پاڼه) او داسی نور....

۱۱: په یوه بایبل کي د حضرت عیسی علیه السلام صعود شته په بل کي نشته،

په ټوله بایبل کي د حضرت عیسی علیه السلام صعود (اسمان ته پورته کیدل) دري ځایه راغلی دی:

مرقس، ۱۶: ۱۹، لوقا، ۲۴: ۵۰-۵۳، اعمال ۱: ۹-۱۱

په دې څلورو سره انجیلونو کي و مرقس او لوقا ته دا خبره معلومه شوه چې سیدنا حضرت عیسی علیه السلام و اسمان ته وختی او بس، هیچا ونه لیدی او بل دا چې دا د صعود بحث په (Holly Bile Revised Standard 1952 Version) په دې بایبل کي نشته، نو موږ څنګه باور وکړو چې دا د خدای کتاب دی؟

نو که لطفا تاسی لومړی بایبل الهی کتاب کړی بیا به د بایبل پر احکامو او وینا و باندی خبرې سره کوو.

## <u>د اسلام تبلیغ په کفري نړی کي</u>

دا چې تاسی وایاست چې موږ مسلمانان په کفري نړی کي په ازاد ډول سره د اسلام د مبارک دین دعوت او تبلیغ کوو او و بل لورته په اسلامي هیوادونو کي و تاسو ته یا خو اجازه نشته او یا خو مسلمانان ورته د کرکې او نفرت په سترګو سره ګوری، دا خبره درسته ده، په اسلامي هیوادونو کي څکه د عیسایت، یهودیت، هندو مذهب، بودا مذهب، کنفیوشیزم، او نور مذهبونو دعوت او تبلیغ بند دی چې په اسلام کي دین او دولت یو دی، یعنی اسلام او سیاست سره یو دي سره بیل نه دی، اسلامي دولت به پر اسلامي اصولو باندی ولاړوی، او په قران عزیز کي راغلی دی چې:

ان الدین عند الله الاسلام. (آل عمران: ۱۹)

د الله په نزد باندی اسلام یو ائحی دین دی.

او په حدیث شریف کي را ئحی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی:

که چا خپل دین (اسلام) بدل کړ نو هغه دی ووژل شی.

نو چې کله دین د الله په نزد باندی اسلام شو نو ځکه و بل هیڅ مذهب ته اجازه نشته چې په امت مسلمه کي د اسلام ماسوا د بل مذهب دعوت او تبلیغ وکړی او په بل ځای کي قران عزیز وایی:

وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينًا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴿٨٥﴾ (ال عمران: ۸۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: او هر څوک چې پرته له اسلامه څخه بل دين ولټوي نو له ده به هيڅکله ونه منل شي او هغه به په آخرت کښې له تاوانيانو څخه وي.
له همدې کبله په اسلامي هيوادونو کي وغيرا اسلامي مذهبونو ته ددعوت، تبليغ او فعاليت اجازه نشته.
او برعکس په کفري نړۍ کي بيا داسې نه ده، دين له سياسته څخه بيل دی، په ځانګړې ډول سره په عيسايي نړۍ کي مذهب يوائې او يوائې تشريفاتي بڼه لري، ترمذهبي مراسمو پورې محدود دی، او ټول عيسايت ترکليسا پورې تړلی دی، دين له دولت او نظام سره بيل دی، نو ځکه په کفري نړۍ کي د اسلام او بل هر دين ته ددعوت او فعاليت اجازه شته.
په بل حديث شريف کی راځي:
الاسلام يعلوا ولايعلی عليه
ژباړه: اسلام به لوړوي او تر هيڅ (دين) نشته چې تر اسلام دې لوړوي.
دا چې اسلام تر ټولو دينونو لوړ او ممتاز دی نو ځکه هغه هرځای تبليغ کيدلای شي او ونورو مذهبونو ته اجازه نشته چې په اسلامي نړۍ کی دعوت وکړي.

لمنليکونه:

۱: معارف القرآن
**۲: کتاب الآثار ص ۱۵۶، بحواله معارف القران)**
۳: (ابوبکر جصاص رازی، احکام القرآن ج ۱
۴: آريانا دايرة المعارف
۵: کلام مقدس، کاتوليک بايبل کميشن پاکستان ۲۰۱۱
۶: الکتاب المقدس، جمعية الکتاب المقدس فی لبنان– ۱۹۹۳ الطبعة الثلاثون
۷: کتاب مقدس، پاکستان بايبل سوسايټی انارکلی لاهور ۲۰۱۱
۸: دالله کلام، درمطبع برټش فارن بيبل ثوثيتی لندن، په مدد د قاضی عبدآل رحمان او غلام جيلانی کاتب ۱۸۹۵
يادونه: داتوری په بايبل همداسی ليکلی وه دا په پښتو کي پخوانی بايبل دی.
۹: انجيل شريف، اول جيبی چاپ ۱۹۹۶ ميلادی، بايبل سوسايټی پاکستان
۱۰: Encyclopedia of Biblica
۱۱: Encyclopedia of Bretaneca

9: Holly Bible, Authorized King James Version, printed in England by Clays Ltd, St Ives plc
10: Holly Bible, Printed- British Foreign Bible Society 146- Queen Victoria Street 1851

که غواړې چې د پورتنې ليکنې په هکله پوره معلومات ولاسته راوړی نو تاسی ګران او خواږه لوستونکي کولای شی چې زما لاندی کتابونه ولاسته راوړی:

۱: زما مناظره د يوه عيسايی راهب سره.
۲: د عيسايت حقيقت.
۳: بايبل پيژندنه.
۴: ايا بايبل دخدای کتاب دی؟
۵: په بايبل کي ټکرونه او غلطيانې.
۶: په بايبل کي فحش او بې معنا بحثونه.
۷: حضرت محمد صلی الله عليه وسلم په بايبل او قران کي.
۸: حضرت عيسی عليه السلام په قران او بايبل کي.
۹: حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د نوروپه آند.

په اسلامي پاکه مينه ستاسو ورور
عبدالغفار جُبير
07/ 04/ 2013

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مرتد څوک او څه حکم یې دی؟**

دبامیان څخه عالیه:

مرتد څوک دی او څه باید ورسره وشی؟

احمد پښتون تخار:

هغه څوک چې دنبوت دعوه وکي ایل هغه هم مرتد دی؟

فاطمه عمر مزار شریف:

عیسایانو یو څه کم تعداد افغانان رانیول اودي افغانانو خپل دین خرڅ هم کړا وعیسایان شول له دوی سره موږ څه وکړو ایا ددوی وژل روا دي؟

نادیه کابل:

ولی هغه کسان چې مرتد شول او ټول اولس په خبرشو په سزا ونه ورسیدل ایا دوی کوم دلیل لری؟

محمد اسماعیل – اوکراین:

هغه څوک چې خپل دین بدل کړی هغه مرتد دی او س د (دین) څخه یوائی اسلام دی اوکه عیسایت او یهودیت هم دی؟

محمدنبی کاناډا

پرنیټ باندی مادوې ویډیوګانې ولیدلې چې هغوی دنبوت دعوه کړیده ایا دوی مرتد دی او وژل ئې څنګه دي؟

محمدعلی جنوبی افریقا

که د مرتد مرګ روا وي نو باید څنګه ووژل شي؟

الحمدلله رب العالمین والصلوة والسلام علی سید الانبیاء والمرسلین وعلی آله واصحابه اجمعین.

درنو خویندو اوګرانو ورونو ستاسو له پوښتنو نه یوه نړۍ مننه، ډیر خوښ شوم چې وما عاجزه ته مو داپوښتنې راولیږلې، زه به کوښښ وکړم چې دلوی خدای جل جلاله په پوره فضل سره د اسلامی شریعت په رڼاکې درته ځوابونه درکړم.

دادرسره منم چې دخارجانو په راتګ سره ځینی ډېرالرومینانو خپل دین هم خرڅ کړ، اوعیسایان شول، خوداډیرلږ کسان دی وموږ ته هم معلومات شته، عیسایت مخکې په افغانستان کې صفرؤ او انشاء الله وروسته به هم صفروي زموږ افغاني ټولنه یوه اسلامي ټولنه ده، داد ګوتو په شمېر کسان به هیڅ هم ونکړی انشاء الله.

مرتد چاته ویل کیږی؟

مرتدتوری له ارتداد څخه اخیستل شویدی، اوارتداد ودې ته ویل کیږی چې یو څوک مسلمان وی او د اسلام مبین دین بیرته پریږدی بل دین یا بله لاره غوره کړی ودې ته مرتد ویل کیږی.

هرهغه څوک چې مسلمان وي او یا عیسایي شی، یا یهودي شی، یا دنبوت دعوه وکړی، یا هندوشی، یا بودایي شی، یاکنفیوشیزم ته واوړی، یا شنتوایزم ته واوړی، او یا بله لاره غوره کړی دا مرتد دی چې په لاندی ایاتو او احادیثو مبارکوکې به ورباندی په تفصیل سره رڼا واچول شی انشاء الله.

دمرتد حکم په قرآنکریم کي:

وَإِن نَّكَثُوٓاْ أَيۡمَـٰنَهُم مِّنۢ بَعۡدِ عَهۡدِهِمۡ وَطَعَنُواْ فِي دِينِكُمۡ فَقَـٰتِلُوٓاْ أَئِمَّةَ ٱلۡكُفۡرِ إِنَّهُمۡ لَآ أَيۡمَـٰنَ لَهُمۡ لَعَلَّهُمۡ يَنتَهُونَ ﴿١٢﴾ ١٢ ال توبه

ژباړه: او که خپل قسمونه یې له تړون کولو وروسته مات کړل او ستاسي په دین یې ملنډې ووهلې نو د کفر له مشرانو سره جګړه وکړی بې شکه چې دوی پر خپلو قسمونو ټینګ نه دي ګوندي ډډه وکړي.

إِنَّمَا جَزَٰٓؤُاْ ٱلَّذِينَ يُحَارِبُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَسۡعَوۡنَ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوٓاْ أَوۡ يُصَلَّبُوٓاْ أَوۡ تُقَطَّعَ أَيۡدِيهِمۡ وَأَرۡجُلُهُم مِّنۡ خِلَٰفٍ أَوۡ يُنفَوۡاْ مِنَ ٱلۡأَرۡضِۚ ذَٰلِكَ لَهُمۡ خِزۡيٞ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٣٣﴾ سورت مائده: ۳۳

ژباړه: بې شکه دهغو کسانو سزا چې له الله او دهغه له رسول سره جګړه کوي او په ځمکه کښې دفساد کولو کوښښ کوی، داده چې ووژل شي یادی په دار وځړول شي یا دي ددوی لاسونه او پښې دمخالفو خوا وو څخه (ښی لاس او کینه پښه) پري کړل شي، یا دی له ځمکې څخه وشړل شي داددوی لپاره په دنیا کښې رسوایی ده او په آخرت کښې دوی ته لوی عذاب دي.

داایات دهغو خلکو په شان کې نازل شوی دی چې دنبی کریم صلی الله علیه وسلم په وخت کې مرتد شول چې تفصیل یې په احادیثو کې په تفصیل سره راغلی دی او ددې ایات مطابق یې هغه مرتدین قتل کړل شول.

قتل څه شی دی؟

امام راغب اصفهانی وایی چې دقتل معنا وژل دی هغه که په ډبرو سره وي، هغه که په توره سره وی او یا نور...

بل ځای په قرآن عزیز کې راځي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَمَن يَرۡتَدِدۡ مِنكُمۡ عَن دِينِهِۦ فَيَمُتۡ وَهُوَ كَافِرٞ فَأُوْلَٰٓئِكَ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ۝٢١٧ البقره ۲۱۷

ژباړه: او هغه څوک چې ستاسی (دډلې) څخه له خپل دین (اسلام) نه واوړی او د کفر په حالت کې مړشي نو د داسی خلکو (نیک) عملونه به په دنیا او آخرت دواړو کې ضایع دي او دا خلک به په دوږخ کې تل ترتله پاتې کیږي.

په دنیا کې د مرتد داعملونه له منځه ځي:

۱: خپله ښځه ئې له نکاح څخه ووتل.

۲: د مسلمان (مورث) د میراث څخه محرومه کیدل.

۳: په اسلام کې چې ده څو مرې لمونځونه، روژې، او نور عبادتونه کړی وي هغه ئې ضایع شول.

۴: د ده جنازه به نه کول کیږي.

۵: د مسلمانانو په هدیره کښې به نه ښخول کیږی.

او په آخرت کې ئې تاوان دادی چې د هیڅ ښه عمل چې ده په دنیا کې کړی وی د هغه بدله به نه وي،تل ترتله به په دوږخ کې وي.

د مرتد حالت د اصلي کافر څخه ډیر زيات خراب دی، داځکه چې اصلي کافر جزیه قبلولای شی او مرتد که مسلمان نشو نو وژل کیږی به که نارینه ؤ او که ښځه وه نو تل ترتله به بندی وي، داځکه چې دوی د اسلام سپکاوی کړیدی.

تفسیر معارف القرآن: ۱ ټوک، مخ ۱۹۴

لیکوال : مفتی اعظم مفتی محمد شفیع رحمة الله علیه

خپرونکي: تاج کتب خانه محله جنګي قصه خوانی پیښاور

## د مرتد حکم په احادیثو کې

د مرتد په هکله تر ۳۰ اضافه احادیث راغلی دی خو دلته به په یو څو احادیثو مبارکو باندی کفایت کوم.

۱: ...... من بدل دینه فاقتلوه. (بخاری،ابو داؤد ،دارقطنی عن ابن عباس رضی الله عنه)

ژبا: که چا خپل دین اسلام بدل کړ هغه ووژنی.

۲: حضرت ابو موسی رضی الله عنه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم له لوری د یمن والی ؤ کله چې یو ځل حضرت معاذ و یمن ته ورسیدی نو ووده ته یی مرتد قیدی راوستی نو معاذ رضی الله عنه ورته وفرمایل:

لا اجلس حتی یقتل قضاء الله ورسوله ثلاث مرات فامر به فقتل

(بخاری، مسلم، ابو داؤد واحمد)

زه تر هغه وخته پوری نه کښینم تر څو چې هغه نه وی وژل شوی دا د الله او د رسول حکم دی دري ځلی یی دا تکرار کړه تر څو چې هغه یی وواژه.

۳: حضرت علی کرم الله وجهه فرمایی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم دیوې داسی ټولې په هکله وفرمایل:

اینما لقیتموهم فاقتلوهم فان فی قتلهم اجرلمن قتلهم یوم القیامه .

(بخاری، مسلم وغیرهما)

ژباړه: دوی چې موهرځای ولیدل قتل یی کړی دا په دې خاطر چې د دوی په وژلو کې اجر او ثواب دی.

۴: کله چې د عرنیه قبیلې څه خلک مرتد شول نو پخپله انحضرت صلی الله علیه وسلم هغه ووژل چې کیسه یی په تفصیل سره په بخاری او نور کتابونو کې شتون لري.

۵: د حضرت عبدالله ابن مسعود څخه روایت دی چې ونبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې د مسلمان وژل هیڅکله رواه نه دی مګر په دریو حالتونو کې د نفس د وژلو په بدل کې، هغه څوک چې واده یی کړی وی او زنا وکړی، او هغه څوک چې د اسلام دین او د مسلمانانو ټولې پریږدی.

(بخاری ومسلم)

۶: هغه څوک چې خپل دین اسلام بدل کړی هغه قتل کړی.

(بخاری، مسلم عن زید بن ارقم)

۷: هغه څوک چې اسلام پریږدی او کفر ته ولاړ شی د هغه وینه حلاله ده.

(رواه ابو داؤد عن جریر)

۸: هغه څوک چې د قرآن دیوه ایات څخه انکار وکړی د هغه غاړه وهل حلاله ده.

(ابن ماجه عن ابن عباس رضی الله عنه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دخلفاء راشيدينو په وخت کې دمرتدينو وژل**

۱: جلالدين سيوطی رحمة الله عليه پخپل کتاب تاريخ الخلفاء کې ليکي چې دنبی کريم صلی الله عليه وسلم دفات څخه وروسته مدينې په شاوخوا کې څه عرب مرتد شول نو حضرت ابوبکرصديق رضی الله عنه هغه د شرعي حکم مطابق هغه دوژلو لپاره ودرول او ترتيغ يې ويستل.
(تاريخ الخلفاء، مخ ۵۶)

۲: کله چې حضرت ابوبکرصديق رضی الله عنه ومدينې منورې څخه فارغه شو نو مسلمه بن کذاب ته يې مخه کړه هغه دنبوت دعوه کړې وه او هغه دصحابه کرامو په اتفاق سره مرتد ؤ او دخالد بن وليد تر مشرۍ لاندې يې يو لښکر وروليږه او هغه يې وواژه.
(فتح الباری، (تاريخ الخلفاء، مخ ۵۶)
ددې څخه داجوته شول چې هغه ځوک چې دنبوت دعوه وکړی هغه مرتد دی او واجب القتل دی.

۳: په ۱۲ هق کال کې په بحرين کې څه خلک مرتد شول دهغو دوژلو لپاره يې علاء ابن الحضرو روليږه.
(تاريخ الخلفاء، مخ ۵۶)

۴: په عمان کې څه خلک مرتد شول دهغو دوژلو حکم يې وعکرمه ابن ابی جهل ته ورکړل شو.
(تاريخ الخلفاء، مخ ۵۶)

۵: حضرت عمرفاروق رضی الله عنه وخپلو خلکو ته دمرتدينو په هکله وويل چې ترد روورځو پورې ودوی ته داسلام دعوت ورکړی او يوه يوه ډوډۍ هم ورکړی که يې داسلام دعوت و نه مانه نو قتل يې کړی.
(شفاء قاضی عياض)

۶: حضرت عثمان رضی الله عنه فرمايي چې هرهغه ځوک چې داسلام څخه وروسته پخپله خوښه سره کافرشو هغه دی ووژل شي.

۷: سليمان ابن موسی دحضرت عثمان رضی الله عنه يوه دايمی طرزالعمل بيانوی او وايي چې حضرت عثمان رضی الله عنه به ومرتد ته درې ځلی دتوبې توصيه کوله که هغه نه وای منلې نو بيا به يې وواژه.
(کنزالعمال، ټوک ۱، مخ ۷۹)

۸: دامام بخاری رحمة الله عليه څخه نقل دی چې حضرت علی کرم الله وجهه مرتدين ووژل.
(بخاری)
دخلفاء راشدينو څخه وروسته داسلام نورو خليفه ګانو هم مرتدين وژلی دي لکه:
حضرت عبدالله بن زبير رضی الله عنه، خالدقسري، خليفه منصور، خليه معتصم، خليفه مهدی اوداسې نور...

**دمرتدحکم دامت دځلوروامامانو رحمة الله عليهم په نظر**

۱: حضرت امام ابوحنيفه رحمة الله عليه:
ويعرض علی المرتدحراکان اوعبداالاسلام فان ابی قتل.
(جامع صغير امام محمد مخ ۸۷)
ومرتدته بايداسلام وړاندی شی که هغه غلام وی او که ازاد او که يې انکار وکي نو ودی وژل شي.

۲: حضرت امام مالک رحمة الله عليه:
زماعمل دادی لکه دحضرت عمررضی الله عنه عمل درې ورځې دی مهلت ورکول شی که يې توبه و نيسته نو قتل دی شي.

۳: حضرت امام شافعي رحمة الله عليه:
دامام شافعي رحمة الله څخه دوه راويته نقل دی يو داچې که مرتدتوبه و نيسته نو فورادی قتل شی او بل روايت دادی چې درې ورځې دی مهلت ورکړل شی.

۴: حضرت امام احمدبن حنبل رحمة الله عليه:
دامام احمدبن حنبل رحمة الله عليه هم دا قول دی.
(جواهرالفقه، ټوک :شپږم، مخ ۱۳۱ – ۱۴۷)
ليکوال : مفتی اعظم مفتی محمد شفيع رحمة الله عليه
خپرونکي: مکتبه دارُالعلوم کراچې ۱۴

دمرتد وژل ولی روادی؟

اسلام دژوند يوه مکمله ضابطه ده، دژوند يو لاربنوددی داچې يو ځوک پخپله خوښه سره اسلام قبول کړی او ددې لوی الهي نعمت څخه برخمن شی بيا ورته اجازه نشته چې داسلام دسپيڅلې دائرې څخه ووځی او هرهغه ځوک چې له اسلامه ووځی هغه باغي، چې په نړيواله سطحه سره هغه ځوک چې ددولت ياغی شی حکومت هغه وژنی دا يوه نړيواله فرضيه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فقهي ثبوت دمرتد دوژلو**

قداتفق الائمة على ان من ارتدعن الاسلام وجب قتله وعلى ان قتل الزنديق واجب وهو الذى يسرالكفرويتظاهربالاسلام وعلى انه اذاارتداهل بلدقوتلوا وصارت اموالهم غنيمة.

(الميزان الكبرى: ۲/۱۷۱)

ژباړه: دائمه وپردې باندې اتفاق دى چې دمرتداودزنديق وژل واجب دي،زنديق هغه څوک دی چې په ښکاره اسلام ښکاره کوی او په باطن کې کافروي،دائمه وپردې باندې هم اتفاق دی که چيرې يوه علاقه مرتده شی نو هغه ټول دی ووژل شي،اوددوی مالونه غنيمت دي.

(قاموس الفقه، ټوک دوهم، مخ۷۴– ۷۶)

ليکوال: مولاناخالدسيف الله رحمانی

خپرونکي: زمزم پبلشرزنزدمقدس مسجداردوبازار کراچې

نتيجه:

۱: هرهغه څوک چې مسلمان وي اوداسلام څخه ووځی هغه که عيسايی شی، يهودي شی، لادينه شي، اغاخانی شي ، قايداني شی اونور... دامرتددی.

۲: هرهغه څوک چې دنبوت دعوه وکړی هغه دامت مسلمه په اتفاق سره مرتددی.

۳: هغه څوکې په ظاهره ځان مسلمان ښکاره کوي او په باطن کې کافروی هغه زنديق دی.

۴: په اسلامي شريعت کي مرتداوزنديق واجب القتل دي، اومالونه يی غنيمت دي.

ګرانوورونواوپتمنوخويندوهيله منديم چې ټولې پوښتنې به موځواب شوی وي.

لمنليکونه:

۱: تفسيرمعارف القرآن: ۱ټوک، مخ ۱۹۴

ليکوال : مفتی اعظم مفتی محمدشفيع رحمة الله عليه

خپرونکي: تاج کتب خانه محله جنکي قصه خوانی پېښاور

۲: بخاری

۳: مسلم

۴: ابوداؤد

۵: احمد

۶: کنزالعمال

۷: دارقطنی

۸: ابن ماجه

۹: تاريخ الخلفاء

۱۰: مفردات القرآن(راغب اصفهانی رحمة الله عليه)

۱۱: فتح الباری

۱۲: شفاء قاضی عياض

۱۳: جامع صغير امام محمد

۱۴: جواهرالفقه

۱۵: الميزان الکبری

۱۶: قاموس الفقه

په اسلامي پاکه مينه

ستاسوورورعبدالغفارجُبير

11-09-2013

د تعليم الاسلام ويب پاڼي له خوا پر ليکه کيږي.
www.Taleemulislam-Radio.com

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library